بسم الله الرحمن الرحيم

# جرأة الائمة في اجراء الادعية والاقضية

(پښتو)

تالیف :

الشيخ العلامة ، المحقق الحاج
مولانا عبد القيوم البستي البولاني
صانه الله تعالى عن الهموم والغموم

مكتبه رحمانيه
كانسي روڈ، كوئٹه

أُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً (القرآن)

دچاچی دلته سرکار وی له کابه سره    هلته به ومو‌ی تخفیف دی له حسابه سره

# جـرأة الائـمـة (پښتو)

# فِـــــــــی

# اجرآء الادعية والاقضية

**تاليف :**

الشيخ العلامة ، المحقق الحاج

**مولانا عبد القيُّوم البستى البولانى**

صانه الله تعالٰى عن الهموم والغموم

**ژباړه او تحقيق :**

مولانا حافظ محمَّد احمد الحقَّانى الافغانى غفرالله له

**ناشر :**

مكتبه رحمانيه ، كاسى روډ ، كوئټه .

**خبر دار**: دژباړې ، تحقيق ، او كتابت ټول حقوق يې له ناشر سره محفوظ دي.

# دکتاب پيژند پاڼه :

| | | |
|---|---|---|
| **دكتاب نوم** | :: | جرأة الائمة في اجرآء الادعية والاقضية |
| **مصنف** | :: | الشيخ الحاج مولانا عبد القيوم البستي ؒ |
| **ژباړه** | :: | مولانا حافظ محمّد احمد الحقّاني الافغاني ؒ |
| **اداره** | :: | العلم كمپيوټرز ، كوئټه ، : **03218016371** |
| **كمپوزر** | :: | حافظ نور احمد حميدي |
| **ناشر** | :: | مصطفى جان |
| **مكتبه** | :: | مكتبه رحمانيه ، كاسي روډ ، كوئټه . |
| **تاريخ** | :: | السبت ، ۱۴ رجب، ۱۴۲۸\\ ۲۸، ۰۷، ۲۰۰۷ |
| **قيمت** | :: | **۵۰** كلداري ، يا **۴۲** افغانۍ |

**خبرتيا** :

**دالعلم كمپيټرز اداره** ټولو درنو مينه والو ته خبر وركوي چې خپل هر ډول ترجمې ، ژباړې ، تصحيح ، تعليق ، تحقيق او نور په هره ژبه : عربي ، پښتو ، فارسي او اردو باندې په اعلى معيار، كم وخت او مناسب قيمت باندې دهمدې اداري څخه تر لاسه كړې . موبايل شميره : **03218016371**

## دجرأة الائمة (پښتو) دمضامینو فهرست


| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | تقریظ دجناب مولوی" صاحب............ | ۱ |
| ۲ | دژباړن له قلمه څخه............ | ۲ |
| ۳ | دکتاب دیباجه او سبب دتالیف یې............ | ۳ |
| ۴ | مقدمه ، او بحثِ اوّل په مشروعیت کی دمطلق دعا............ | ۴ |
| ۵ | دوهم بحث په دعا کی وروسته تر عملِ صالح............ | ۶ |
| ۶ | دریم بحث په مشروعیت کی ددعا سره دپورته کولو دلاسو...... | ۷ |
| ۷ | څلورم بحث په مشروعیت کی ددعا سره دپورته کولو دلاسو او په هیئتِ اجتماعی سره............ | ۷ |
| ۸ | پنځم بحث دعا وروسته تر سنتو............ | ۸ |
| ۹ | ذکر داوو احادیثو دوِرد وروسته تر لمانځه............ | ۹ |
| ۱۰ | تحقیق ددعا وروسته تر سنتو............ | ۱۰ |
| ۱۱ | ذکردحل کولو دمتعارفی دعاو پنځو اجزآءِ مشروعه ثابته وو ته | ۱۲ |
| ۱۲ | اقوال په اثبات کی داجزاوو (منحل الیها ) ددعا............ | ۱۲ |
| ۱۳ | تحقیق په دې‌کې‌چې مراد ددبر الصّلٰوة څخه وروسته ترسنتودی | ۱۳ |
| ۱۴ | استحسان دهمیشه توب پر یوه مستحب باندی............ | ۱۵ |
| ۱۵ | بیان دفرق دمرتبو داعمالو............ | ۱۷ |
| ۱۶ | شدید اوسخت انکار کول پرتارِك دمستحب بدعت دی............ | ۱۷ |
| ۱۷ | روا والی دانکار دمنکر دمستحب والی څخه دمندوب............ | ۱۷ |
| ۱۸ | لازم بلل دمستحب بدعت دی............ | ۱۸ |
| ۱۹ | فاتحه (الحمدُ لله) ویل په آخر کی ددعا............ | ۱۸ |
| ۲۰ | بیان دشلو آدابو ددعا............ | ۲۰ |
| ۲۱ | بیان داقسامو درفع په دعا کی............ | ۲۲ |
| ۲۲ | حکم داستقبال (مخ راګرځولو) دامام وقوم ته په دعا کی............ | ۲۳ |
| ۲۳ | حکم دمخ ګرځولو په وخت کی داللهمَّ انت السّلام او ترجیح ورکول ومخ نه ګرځولو ته............ | ۲۳ |
| ۲۴ | اقتصار اوکوتاهی کول وروسته ترفرضو پر اللهمَّ انت السّلام | ۲۴ |
| ۲۵ | دعا وروسته تر لمانځه............ | ۲۴ |
| ۲۶ | ایضاً دعا وروسته تر لمانځه............ | ۲۶ |
| ۲۷ | ایضاً دعا وروسته تر لمانځه............ | ۲۶ |
| ۲۸ | ایضاً دعا وروسته تر لمانځه............ | ۲۷ |

| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۲۹ | ایضاً دعا وروسته تر لمانځه................................... | ۲۸ |
| ۳۰ | بیان دمراعات ساتلو دقوم په دعا کی......................... | ۲۸ |
| ۳۱ | دعا دحاجت................................................ | ۲۹ |
| ۳۲ | دعا دپاره ددفع دمرضو...................................... | ۲۹ |
| ۳۳ | دعا دپاره ددفع دقحطی اودتنګۍ درزق........................ | ۲۹ |
| ۳۴ | دعا وروسته تراذان......................................... | ۳۱ |
| ۳۵ | دعا وروسته ترخوراك........................................ | ۳۱ |
| ۳۶ | دعا دپاره دقبلیدو دصدقې.................................... | ۳۱ |
| ۳۷ | دعا دپاره دتبریك داولاد.................................... | ۳۲ |
| ۳۸ | ذکر دبعضو علمی ضروری شیانو مخکی ترنکاح.................. | ۳۲ |
| ۳۹ | خطبه دنکاح............................................... | ۳۴ |
| ۴۰ | وکیل باید چی نسبت دنکاح وخپل ځان ته ونکړی.............. | ۳۵ |
| ۴۱ | دعا وروسته تر عقد دنکاح.................................. | ۳۶ |
| ۴۲ | دعا په وخت کی دیوځای کیدو دزوجې سره په اوله شپه........ | ۳۷ |
| ۴۳ | بیان دحال ددوهمی نکاح..................................... | ۳۷ |
| ۴۴ | بیان دحکم دمهر ددوهمی نکاح............................... | ۳۹ |
| ۴۵ | دعا وروسته تردوهمی نکاح.................................. | ۴۱ |
| ۴۶ | پرمریض دپوښتنی کولو کیفیت................................ | ۴۲ |
| ۴۷ | آیاتونه دشفآء اوهغه شیان چی دمریض په وړاندی ویل کیږی... | ۴۲ |
| ۴۸ | هغه شیان چی په وخت کی دنزاع (روح وتلو) کول کیږی......... | ۴۳ |
| ۴۹ | بیان دکیفیت دوړلو دجنازې.................................. | ۴۴ |
| ۵۰ | حکم دقرآئت دقرآن مخکی تر غسل دمړی....................... | ۴۵ |
| ۵۱ | حکم دقرآئت دقرآن وروسته ترغسل دمړی...................... | ۴۵ |
| ۵۲ | دعا وروسته تر قرآئت دقرآن................................. | ۴۷ |
| ۵۳ | کیفیت دلمانځه کولو پرمړی باندی............................ | ۴۸ |
| ۵۴ | باعثه کول پرتلوار باندی په دفن کولوکی دمړی................. | ۴۸ |
| ۵۵ | بیان دستونی ستخ کولو دمړی په لمانځه کی..................... | ۴۹ |
| ۵۶ | بیان دلمانځه دجنازې پر چارپایی باندی....................... | ۵۰ |
| ۵۷ | حکم دپاکوالی دځای دمړی په لمانځه کی دجنازې............... | ۵۱ |
| ۵۸ | صفت (ډول) دلمانځه دجنازې پر مړی باندی..................... | ۵۱ |
| ۵۹ | دجنازې لمونځ ادا کول په اوقاتِ مکروهه وو کی................ | ۵۲ |

| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ٦٠ | ترتيب دلمانځه دجنازې دنورو لمونځو سره........................ | ٥٣ |
| ٦١ | دليل پرمستحب والې باندې دترتيب په وخت کې دعدمِ مانع.. | ٥٤ |
| ٦٢ | بيان دطريقې ددورې داسقاط........................ | ٥٤ |
| ٦٣ | مراعات ديوولسو ١١ شيانو په وخت کې ددورې........................ | ٥٧ |
| ٦٤ | بيان دمقدار دصاع (کاسې) زمونږ په تول باندې........................ | ٥٨ |
| ٦٥ | بيان دتفريق دقبض په فديو دکفارو........................ | ٦٠ |
| ٦٦ | بيان دفديې دکفارې ځخه دقتل........................ | ٦١ |
| ٦٧ | لازميدل دکفارې پرمور باندې په وژلو سره داولادپه خوب کې.. | ٦١ |
| ٦٨ | بيان دعبارت (الفاظو) دورکولو او اخيستلو دفديې........................ | ٦٤ |
| ٦٩ | دعا وروسته تردورې داسقاط........................ | ٦٦ |
| ٧٠ | حکم دکلمې نوشته کولو پرتندې باندې دمړي........................ | ٦٧ |
| ٧١ | بيان دتلاوت په نزد دمړي په مقبره کې........................ | ٦٧ |
| ٧٢ | حکم داوريدو دقرآن دباندې تر لمانځه........................ | ٦٩ |
| ٧٣ | بيان دوهلو دبيلچې پر شا وخوا دقبر او دغورځولو دآلاتو دکيندلو وروسته تر دفن کولو دمړي........................ | ٧٠ |
| ٧٤ | بيان دفرق ورکولو وخښتو ته دقبر دنارينه او دښځې........................ | ٧١ |
| ٧٥ | بيان دمشروعيت ددعا وروسته تر دفن........................ | ٧١ |
| ٧٦ | دعا وروسته تردفن دمړي........................ | ٧٢ |
| ٧٧ | ايضًا دعا وروسته تردفن دمړي........................ | ٧٢ |
| ٧٨ | ايضًا دعا وروسته تردفن دمړي........................ | ٧٣ |
| ٧٩ | بيان دهغه چې وروسته تر دعا دقبر سره ويل کيږي........................ | ٧٤ |
| ٨٠ | دعا وروسته تر قرآئت په نزد دقبر وروسته تر دفن........................ | ٧٥ |
| ٨١ | دعا دکوچنی چې مړ وي........................ | ٧٥ |
| ٨٢ | بيان دتعزيې او دحقيقت او دوخت ددې........................ | ٧٥ |
| ٨٣ | بيان دتعزيې اخيستلو په مسجد کې........................ | ٧٦ |
| ٨٤ | غوړول دفرشونو اودريدل پرلارو په تعزيه کې قبيح دي ، بايد چې انکار پر وکړل سي........................ | ٧٧ |
| ٨٥ | بيان دکيفيت دتعزيې ورکولو........................ | ٧٨ |
| ٨٦ | دعا په وخت کې دتعزيې ورکولو........................ | ٧٩ |
| ٨٧ | ايضًا دعا په وخت کې دتعزيې ورکولو........................ | ٧٩ |
| ٨٨ | ايضًا دعا په وخت کې دتعزيې ورکولو........................ | ٨٠ |

| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۸۹ | دعا دتعزیې دکوچنی........................................ | ۸۰ |
| ۹۰ | اول بحث دتتمې په کفن کی دمړی.............................. | ۸۱ |
| ۹۱ | دوولس ۱۲ اقسام دکفن ورکوونکو.............................. | ۸۳ |
| ۹۲ | دوهم بحث دتتمې په تلقین کی دمړی وروسته تر دفن............ | ۸۴ |
| ۹۳ | حکم دتجزیې کولو دیوې فدیې وډیرو مسکینانوته............... | ۸۵ |
| ۹۴ | ځلورم بحث دتتمې په بیان کی دلمانځه کولو مقابل وقبروته.... | ۸۶ |
| ۹۵ | نه ګته دسترې په مکروه والی کی دلمانځه کولو مقابل وقبروته | ۸۷ |
| ۹۶ | پنځم بحث دتتمې په رسیدوکی دثواب دعباداتِ مالیه وو او بدنیه وو ومړی ته........................................ | ۸۷ |
| ۹۷ | شپږم بحث دتتمې په بیان کی دتصّدق دپاره دمړی درې ورځی.. | ۹۱ |
| ۹۸ | بیان دهغو شیانو چی اعتبار دتصدّق پر هغو باندی دی........ | ۹۱ |
| ۹۹ | باعثه کول دتصدّق په رانیولو سره دکتابو دشرع شریفی........ | ۹۳ |
| ۱۰۰ | تصدّق په پاخه طعام سره په درو ورځو کی..................... | ۹۴ |
| ۱۰۱ | میلمستیا دکوره څخه دمړی په درو ورځو کی................... | ۹۵ |
| ۱۰۲ | ترجیح دمنع دخوراك دکوره څخه دمړی.......................... | ۹۶ |
| ۱۰۳ | فرق په مابینځ کی دمیلمستیا او دتصدّق......................... | ۹۷ |
| ۱۰۴ | اوم بحث دتتمې په بیان کی دمشروعیت دزیارة القبور.......... | ۹۸ |
| ۱۰۵ | اثبات دقول او دفعل درسول الله ﷺ په زیارت کی............ | ۹۹ |
| ۱۰۶ | اثبات دزیارت په افعالو کی دصحابه وو اوتابعینو اوعلماوو او صالحینو................................................ | ۱۰۰ |
| ۱۰۷ | ترجیح دشاملیدو درخصت وښځو ته هم.......................... | ۱۰۰ |
| ۱۰۸ | فآئدې دزیارت دقبرو........................................ | ۱۰۱ |
| ۱۰۹ | آفتونه دزیارت دقبروکم چی زموږپه عصرکی پیداسویدی فهذا الزیارة ممنوع لا مطلق الزیارة.............................. | ۱۰۱ |
| ۱۱۰ | بیان دهغه امورو چی په امام پوری دجمعې تعلق لری.......... | ۱۰۲ |
| ۱۱۱ | یادونه دیوې رسالې دمؤلف (کشف الغمة فی صلوٰة الجمعة).... | ۱۰۲ |
| ۱۱۲ | ځای دادا کولو دلمانځه دجمعې............................... | ۱۰۲ |
| ۱۱۳ | بیان ددوو رکنو دخطبې........................................ | ۱۰۲ |
| ۱۱۴ | بیان داوه لسو ۱۷ سنتو دخطبې............................... | ۱۰۲ |
| ۱۱۵ | بیان دځلورو مستحبو ۴ دخطبې............................... | ۱۰۴ |
| ۱۱۶ | اوله لطیفه وروسته ترقال الله تعالی په اعوذُ بالله ویلوکی ده.... | ۱۰۴ |

| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۱۱۷ | دوهمه لطیفه په مخ گرځولو کې ده په وخت کې ددرود ویلو رسته او چپه طرف ته........................................... | ۱۰۴ |
| ۱۱۸ | دریمه لطیفه په دوو خطاوو کې ده په لفظ الحمزة ؓ.............. | ۱۰۴ |
| ۱۱۹ | څلورمه لطیفه تکیه کول په وخت کې دخطبې ویلو پرلکړه باندی | ۱۰۵ |
| ۱۲۰ | پنځمه لطیفه په خطبه ویلو کې ده په غیر دعربی.............. | ۱۰۵ |
| ۱۲۱ | ذکر داولی خُطبې دجمعې........................... | ۱۰۵ |
| ۱۲۲ | ذکر ددوهمی خُطبې دجمعې........................... | ۱۰۶ |
| ۱۲۳ | بیان دکیفیت دخطبو داخترو........................... | ۱۰۷ |
| ۱۲۴ | ثابت والی دمبلولو ددوو بټو گوتو (ابهامین) دنرمیو سره دغوږو (شحمتین) په تکبیراتو زوآئدو کې داختر.............. | ۱۰۷ |
| ۱۲۵ | مستحب والی دشروع کولو دخطبو داخترو په پرلپسی تکبیراتو سره..................................................... | ۱۰۸ |
| ۱۲۶ | ثبوت دسنت والی دتراویحو........................... | ۱۰۹ |
| ۱۲۷ | بیان دقعدې داستراحت او تسبیح ددې........................... | ۱۰۹ |
| ۱۲۸ | خاتمه په وصیت کې دتصحیح دالفاظو په دعا کې.............. | ۱۱۰ |
| ۱۲۹ | اثبات دیوه شی په علت سره دنقیض دهغه جهل دی.............. | ۱۱۱ |
| ۱۳۰ | په وخت کې دقدرت پر عربی باید چې عدمِ تعیّن دالفاظو ددعا کم چې په کتابو کې دفقهی راغلی دی مقیّد په عربی سره سی.. | ۱۱۳ |
| ۱۳۱ | رسالة مسمٰی په کشف الغمة فی صلٰوة الجمعة سره.............. | ۱۱۴ |
| ۱۳۲ | الخاتمة........................................... | ۱۲۴ |
| ۱۳۳ | دعلماء کرامو تقریظونه........................... | ۱۲۵ |


پای


**کمپوزنګ :**

**ادارة التحقيق ، العلم کمپیوترز ، بکوئته ، باکستان .**

رقم الهاتف النقال : **03218016371**

**ناشر :**

**مکتبه رحمانیه ، بشارع کاسی ، کوئته ، پاکستان**

***ادارة المنشورات الاسلامية والعلمية تحت تصرّف :***

**ملا حمید الله الحنفی وحافظ لعل محمد**

بسم الله الرحمن الرحيم

صورة ما افاده علامة الدّنيا والدّين ، بقية العلمآء الراسخين ، من حاز قصب السبق في كلّ مضمار ، ودَارَ مَعَهُ الحقّ حيثما دَارَ ، فَاَصْبَحَ أية في اصابة الرأى الصّآئب المعروف **بجناب مولوى صاحب** ، اداَمَ الله ظلاله :

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۵

الحمدُ لله ذى الطّوْلِ والآلآء ، وصلّى الله تعالى على نبيّه خاتم الرسل والانبيآء ، وعلى آله واصحابه الاتقيآء ، امّا بعدُ فيقول العبد المعتصم بحبلِ الله المتين **محمد قسيم** شرح الله صدره وزيّنه بنور اليقين ، انّى رأيتُ هٰذه الرّسالة الشّريفة المسمّاة بجرأة الائمّة في اجرآء الادعية والاَقْضِية ، بعد ما سوّدتُ رؤية سطحية فوجدتُ ما فيها حقًّا صريحًا ، ثمّ طالعتُها فامعنتُ فيها وكان امعاني غاية ، وخضتُ فيها وكان خوضي نهاية ، فلم اجدها الاّ كزهرة فوق ربوة ندية ، او كدوحة وسط روضة طرية ، وعسٰى ان ينتفع بها (١) الصّغير والكبير والقاصي والدّاني ، والله يعطي كلّ مسئول ، اللّهمّ اجعل سعي مصنّفها ومدوّنها مشكورا وعمله مبرورًا ، وصنيعه ماجورًا ، واجعله فوق كثير مّن النّاس ، أمين يارَبّ العالمين .

---

(١). رَحِم الله تعالى على هٰذا الشيخ الجليل والفاضل النّبيل استاذ الاساتذة ، رحمةً واسعة ، فانه قد انتفع بهٰذا الكتاب كما قال رحمه الله تعالى صغير وكبير والقاصي والدّاني حتى اشتهر في الاوطان والامصار اشتهار الشمس في الظهيرة ، ولله الحمد والمنّة . العبد العاصي محمّد احمد الحقّاني عافاه الله تعالى

**بسم الله الرحمٰن الرحيم**

دژباړن له قلمه :

الحمد لله الذی بنعمته تتمّ الصالِحات ، والصَّلاة والسَّلام علی رسوله سيّد السَّادات ، وعلی آله واصحابه شـموس الـهدٰی وبدور الـهدايات .

**امّا بعد:** پس وايي عاجزه بنده محمّد احمد حقّانی ( عَفَرَاللّٰهُ ) چی ددې کتاب ( **جرأة الائمّة** ) مقبوليت او شهرت پر هيچا پټ نه دی ، ځکه دا يو داسی کتاب دی چی نژدی دهر عالِم او طالِب سره تل ملګری وی ، او وخت په وخت ډول ډول استفاده ورڅخه کوی ، ولی چی په دې کتاب کی هغه بحثونه محققانه ، مکمل او مدلّل راغلی دی کم چی ډير پېښېدونکی او زيات مخ ته راتلونکی دی ، لکه ددعاء په اړوند مختلفی مسئلې ، نکاح ، خطبة النکاح ، همدارنګه دمړی په اړوند مسئلې لکه اسقاط ، خيرات ، تلاوت او نور ، اودا ټولی هغه موضوع ګانی چی په اوس وخت کی ډير خلګ ددې شيانو له مسنونو طريقو څخه ناخبره دی ، اويا هم پکښی ډير وګړی له ځانه خبری کښېباسی ، اوپه دې کتاب کی ددې ټولو مسئلو په اړوند دحنفی فقه له معتمدو کتابو څخه اصلی صورت دمسئلو وړاندی کړل سويدی ، چی دهرچا خبريدل او پوهيدل ورباندی ډير ضروری دی.

همدارنګه دکتاب په خپل ځان کی عمده والی او جامعيت دخپل وخت دنامتو علماوو له تقريظونو څخه په ډاګه معلوميږی ، کم چی دکتاب په پای کی په پوره ډول راغلی دی، خوکله چی ددې کتاب ترتيب په فارسی ژبه سوی وو ، ځکه نو ددې کتاب فهم پر بعضو داسی ناظرينو باندی چی له فارسی سره يې ولدتيا نه درلوده ، مشکل او سخت وو ، نو ددې دپاره چی ددې کتاب فآئده نوره هم ډيره سی ، او زموږ عام افغانان وړونه ورڅخه پوره ګټه ترلاسه کړی ، پښتو ته وژباړل سو ، دژباړی په دوران کی ډير کوشش سويدی چی دکتاب فارسی الفاظ په عام فهمه او ساده پښتو تعبير کړل سی ، او هم دکتاب تصحيح ته زياته پاملرنه سويده ، خو کله چی له بشر سره هيره او خطا تل مل وی نو ځکه که تاسو محترمينو ته کومه نميګړتيا په نظر درسی نو هيله لرو چی موږ ورڅخه خبر کی تر څو په آينده کی هغه اصلاح سی ، نور نودا تاسی اودا کتاب . ومن الله التوفيق

**مُحـمَّد احـمـد حـقّـانـی** ( عَفَرَاللّٰهُ )

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

الحمدُ لله الذى جَعَلَ ابتهالنا اليه مقصدًا اَسْنٰى ، ولا يعبأُ بنا ربُّنا لَوْ لا الدُّعآء ، والصَّلٰوة والسَّلام على من كانَ قابَ قوسين او اَدنٰى ، واَزعَجَنَا بانّ مُخَّ العبادة هو الدُّعآء ، وعلٰى آله واصحابه الذيْنَ نالُوْا كلَّ مطلبٍ بالتّضرع الى ربّهم فى الصّباح والْمَسَآء ، وجُعِلَ السُّلوكُ على أثارهم عَلَمَ الاهتدآء .

**امّا بعد** : دپوهي دخاوندانو پر زړونو باندی دی پټه نه وی چی کله الفاظ دمعناګانو دپاره غالبونه دی ، نوځکه دالفاظو صحیح کول دترکیب او اعراب دلحاظه ضروری سوه ، اوکله چي دپاره دطلبولو دهر مقصد جلا جلا عبارتونه پکار دی نودهر ځای دپاره دکلمو او تورو جلا جلا ترتیب ضروری دی ترڅو چی دالفاظو معناګانی دمتکلم دزړه دمقصد سره موافقی او برابری سی. خو ددی ټولو سره سره څه خلګو بلکه زیاتو خلګو ته داضروری شی لاس ته نه وو ورغلی. نوبعضي ددوی تردي لار تیر سوه او خپل ځان یې په اکثرو ځایوکی په ګنج کی دګُم نامی او په څنګ کی دپټیدو واچوی او ددي پر جاری کولو یې دلاوری نه کوله ، وَنِعْمَ مَا صَنَعُوْا ، او بعضو ددوی بې ځایه دلاوری ښکاره کوله اوهر څه چی به یې پر ژبه راتله هغه به یې ویله او دپوهانو او هوښیارانو په وړاندی خوار او ټوکی سوه او دا لوی مصیبت دی . پر دې بنآ باندی بعضو ریښتینو تعلق ساتونکو ([1]) طلب وکی ددې خوار او ګناه ګار او ملامت بنده څخه چی مسمٰی دی په **عبد القیوم** سره او زوی دعالِم فقیه **حاجی مُلاً آغا محمد آخند** مرحوم دی، فی الحاله اوسیدونکی دی دداګیان دکلی ، دګرشك دولسوالی ، ولایتِ هلمند، او وطنِ اصلی یې نَوْدِه نوزاد دی. دا متعلقین چی په خپلی زیرکی سره ددې مشکل څخه خبر وه او لیدی یې، دخپل ښه ګمان پر بنا باندی یې ددې خوار بنده څخه په ځو ځو واره طلب وکی چی ددې مشکل کار دآسانه کولو دپاره پر ټولو اشخاصو باندی او ددعا کوونکو دفائدې دپاره اوددې کارونو دوظیفه دارانو دپاره یو کتاب تالیف کړم چی دهر مهم کار دپاره مناسبه

---

([1]). ددې ټولی څخه یو دمؤلّف زوی رشید اوفهیم مسمٰی په عبد الحلیم (اوصله الله تعالی الی اقصی السعادات) هم وو چی قوی باعث بلکه علتِ غایی ددې کتاب وګرځیدی . منه ؒ

دعا په هغه کی وی ، او دارنګه داامامانو دوظیفو پر تفصیل باندی لکه داسقاط دوره ، دخطبو ویل ، دمړی دفن کول او داسی نورو شیانو باندی مشتمل وی ، نودپاره دعمل کولو په دې قول سره دالله ﷻ : وَاَمَّا السَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ [ الضحٰی: ۱۰] می خپل ځان دغشو ویشتلو دپاره هدف وګرځوی ، او ددې مقصد په پوره کولو کی می دخپل طاقت سره برابر کوشش وکی او دا کتاب می نامداره کی په ( **جُرْأة الاَئِمَّة فی اجرَآء الاَدْعِيَة و الاَقْضِيَة** ) سره .
اودکتونکو څخه دا اُمید لرم چی ددې خادم الشریعة پرعیبونو او نقصانونو باندی دستر څادر وغوړوی ، او خطآء یې ور اصلاح کړی او ددواړو جهانو دخیر ددعا څخه یې هیر نکړی . وَمَا أُبَرِّئُ نَفْسِي إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوْءِ [یوسف: ۵۳] حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ [آلِ عمران: ۱۷۳] .
اوپه مطابقت ددې قول چی : اِنَّ الشَّجَرَةَ تُنْبِئُ عَنِ الثَّمَرَةِ اول باید مشروعیت او کیفیت ددعا ثابت کړل سی ، دا په ضمن کی دیوې مقدمې ذکر کوم او وروسته تردې په مطلب شروع کوم. والله المستعان

## المقدمة

باید وپیژندل سی چی په دعا کی بحث دڅو وجهو څخه پکار دی :
**اول بحث** : په مشروعیت کی دمطلقی دعا دی :
**پوه سه** چی ثبوت دشرعیت دنفس دعآء بیان ته حاجت نلری ځکه چی الله تعالی په قصو کی دډیرو انبیآء کرامو ﷷ بې له انکاره په خپل قدیم کلام کی حکایت کړی دی چی هریوه ددوی څخه په وخت کی دحاجت اودهغه دپوره کولو دپاره دالله ﷻ په دربار کی دعآء او عاجزی کړیده. او دا دلیل کافی دی پر مشروع والی باندی دمطلقی دعا. او ددې سره بیاهم یو څو دلیلونه ددعآء په باره کی دپاره دروښانه کولو داوریدونکو دزړو راوړم :
۱. **اول**: قال الله تعالی: وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيْبٌ أُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ [ البقرة : ۱۸۶] ۲. **دوهم**: قال الله تعالی: قُلْ مَا يَعْبَأُ بِكُمْ رَبِّي لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ [الفرقان:۷۷] ای لا یکترث ولا یبالی بکم ربّی لو لا دعآئکم ایّاه فی الشدآئد فیکشفها . جلالین ص ۳۰۹
۳. **دریم**: قال الله تعالی: وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِيْنَ [الغافر: ۶۰] ای سلونی اعطکم وقوله تعالی: عَنْ عِبَادَتِي ای عن دعآئی ذکره کثیر من المفسّرین. ولِحدیث الترمذی ج۲ ص۱۷۳ عن النعمان بن بشیر رض عن

النبي ﷺ (١) قال: الدعاء هو العبادة ثم قرأ وَقَالَ رَبُّكُمُ الأية، قال الشيخ فى اللمعات الحصر للمبالغة وقرآءة الأية تعليل بانّه مامور به فيكون عبادةً اقله ان يكون مستحبة والمراد بعبادتى هو الدعاء والوعيد ينظر الى الوجوب لكن التحقيق انّ الدّعآء ليس بواجب والوعيد انما هو على الاستكبار (٢). فافهم ۴. **څلورم**: قال تعالى: وَاسْئَلُوا اللهَ مِنْ فَضْلِهِ [النسآء : ٣٢] ۵. **پنځم**: په شرح کی دبخاری دی لابن ابی جمرة عن النبی ﷺ من فتحت له ابواب الدّعآء فتحت له ابواب الخيرات .(٣) ۶. **شپږم**: په ترمذی ج ٢ ص ١٧٣ کی روایت دی: عن انس ابن مالك عن النبی ﷺ قال الدّعآء مخ العبادة ۷.**اوم**: په ترمذی کی دی: عن ابی هريرة رضی الله عنه عن النبی ﷺ قال ليس شيءٌ اكرم على الله من الدّعآء (٤). ۸. **اتم**: په ترمذی (٥) کی دی: عن ابی هريرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ انه من لَم يسال الله يغضب عليه ۹. **نهم**: په الترغيب والترهيب کی دی: عن رسول الله ﷺ قال من فُتِح له منكم بابُ الدُّعآء فقد فتحت له ابواب الاجابة. ۱۰. **لسم**: په نزهة المجالس ج١ ص٧٠ کی دی: عن ابی هريرة عن رسول الله ﷺ الدّعآء سلاح المؤمن وعماد الدّين ونور السمٰوٰت والارض . ۱۱. **يوولسم**: په ترمذی (٦) ج٢ ص١٩٣ کی روایت دی: عن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ من فتح له منكم باب الدعاء فتحت له أبواب الرحمة وما سئل الله شيئا يعطى أحب إليه من أن يسأل العافية وقال رسول الله ﷺ إن الدعاء

---

(١). ورواه ابن ابی شيبة فی مصنفه واصحاب السنن الاربعة وابن حبان والحاكم فی مستدركه والامام احمد فی مسنده من نعمان بن بشير وقال الترمذی حديث حسن صحيح وفی بعض النسخ منه حسن فقط وقال الحاكم صحيح الاسناد .

(٢). الحديث رواه الترمذی فی كتاب التفسير رقم (٢٨٩٥) ورواه ايضا فی كتاب الدعوات رقم (٣٢٩٤) ورواه ايضا ابوداؤد فی كتاب الصلاة رقم (١٢٦٤) وابن ماجه فی سننه فی كتاب الدعآء فی باب فضل الدعآء حديث رقم (٣٨١٨) وايضا الامام احمد بن حنبل فی مسنده رقم (١٧٦٢٩) ورقم (١٧٦٦٠) ورقم (١٧٧٠٥) كلها فِی مسند الكوفيين. حقّانی عفّی عنه

(٣). ورواه ابن ابی شيبة فی مصنفه عن علی وابن عمر بلفظ ابواب الاجابة كما يذكر قريبا عن الترغيب ورواه الحاكم فی مستدركه بلفظ ابواب الجنّة عن ابن عمر رضی الله عنه وقال صحيح الاسناد .

(٤).وكذا رواه ابن ماجة وابن حبان والحاكم واحمد والبخاری فی الادب المفردعن ابی هريرة رضی الله عنه وقال الحاكم صحيح الاسناد .

(٥). ورواه الحاكم فی مستدركه .

(٦). ورواه الحاكم فی مستدركه والطبرانی فی الدّعآء له وقال الحاكم صحيح الاسناد ورواه ابو يعلی عن علی رضی الله عنه .

ينفع مِمّا نزل ومِمّا لَم ينْزل فعليكم عباد الله بالدعاء ، تردې حديث لاندې شيخ عبد الحق" په لمعات کې ليکي: اشارةٌ الى ان الدعآء عبادة مامور بِهـا فـامتثلوا الامـر واستسلموا القـضآء آهـ او ددې مثالونه نور هم ډيردي چې ذکر کول يې داوږدوالي سبب کيږي اوکم چې ذکر سوه په دې کې کفايت دی.

اودا دليلونـه لکـه څنګـه چـې ثـابتوونکي دشـرعيت دمطلقـي دعـا دي همدارنګه اثبات دشرعيت ددعـاء وروسـته ترسنتو هـم کـوي ځکـه چـې دا مطلق دي په دعآء کې برابره خبره ده که وروسته تر لمانځه وي اوکه بل ځای وي اوبرابره خبره ده که په طريقه داجتماع سره وي اوکه يوازې، او (( والمطلق يَجرى على اطلاقه ما لَم يوجد الصّارف عنه )) مقرره قاعده ده په علم اصول الفقه کې. اوپر دې سربيره نور خاص دليلونه دمشروعيت ددعاء وروسته تر سنتو به هم ذکر کړل سي. نو دبدعت حکم کول پر يوه داسې شي باندې چې مشروعيت او افضليت او مستحبيت دهغه په دلائلو شرعيه وو سره ثابت وي اوددې وکولو ته ګمراهي ويل اوسخت منع کول ددې کار پرکوونکي ، کار داولي الابصار نه دی، ځکه چې بدعت هغه دی چې دليل دمشروع والي دهغه دقرآن او سنت او اجماع څخه نه وي په هيڅ وجه دوجوهو ددليل ويلو کم چې دعبارت او اشارت او دلالة او اقتضآء النصوص څخه عبارت دي.

او داحکامو دمرتبو ساتنه کول يعني حلال حلال ګڼل او حرام حرام ګڼل دقواعدو څخه داسلام دی. اللهم اجعلنا هادين مهتدين غير ضآلّين مـضِلّين يـا ربَّ العالمين .

## دوهم بحث : په مشروعيت کې ددعاء دې وروسته تر اعما ل صالحه وو عموماً او وروسته تر لمانځه خصوصاً .

**يوه سه** : چې دعا کول وروسته تر اعمالِ صالحه وو عمومًا دثابتو قواعدو څخه دشرع شريفې دی، چې ډيرو علماوو په دې سره تصريح کړيده. آيا نه ګورې چې حضرتِ ابراهيم او حضرتِ اسماعيل (على نبيّنا وعليهما الصلاة والسلام) کله چې دجوړولو څخه دکعبې شريفې فارغه سوه نو يې وويل: رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّـا اِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ [البقرة : ١٢٧] چې دا صريح نص دی په قرآن کې، او همدارنګه په احاديثو کې راغلي ده دعاء په وخت کې دروژې ماتولو: اَللّٰهُمَّ اِنِّىْ لَكَ صُمْتُ وَبِكَ اٰمَنْتُ وَعَلٰى رِزْقِكَ اَفْطَرْتُ فَاغْفِرْلِىْ ، دارنګه وروسته تر فارغه کيدو دحج څخه او وروسته ترفارغه کيدو دهر فعل څخه دحج ، دمحدثينو

اوفقهاوو دمناسکو په کتابو کی دعاوی رانقل سوی دی. اودهمدې قاعدې شرعیې څخه لکه څنګه چې اثبات دشرعیت ددعاء وروسته تر عملِ صالح کیږی ، همدارنګه دپاره دشرعیت ددعآء وروسته تر لمانځه خصوصا په پوره ډول سره کفایت کوی ځکه چې لمونځ هم عبادت دی لکه چې دا خبره دهغو امورِ متقرّره وو څخه ده چې دانکار قابل نه دی، او دهر عبادت تر ختمولو وروسته دعآء مستحب ده لکه چې فقهاوو ددې استنباط دنصوصو څخه کړیدی. او پردې سربیره قال الله تعالی: فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ۞ وَإِلٰى رَبِّكَ فَارْغَبْ ۞ [الَم نشرح : ۷-۸] . محقق بغدادی" په خپل تفسیر ج۳۰ ص۱۷۲ کی راوړی دی: ای اذا فرغتَ من الصلاة فاتْعبْ فی الدّعآء ورُوِیَ هذا التفسیر عن قتادة وضحاك . او همدارنګه دنورو مفسرینو څخه هم منقول دی. او په ترمذی او نسائی کی راوړی: قیل یا رسول الله ایّ الدّعآء اسمع قال جوف اللّیل الأخرِ ودبر الصّلوات المکتوبات .

**دریم بحث** : **په مشروعیت کی دی دلاسو پورته کولو په دعاء کی**

امام مسلم" (ج۱ ص۲۱۳) په واقعه کی دبقیع غرقد راوړی دی: انّه ﷺ رفع یدیه ثلثًا. امام نووی" ددې په تشریح کی فرمایی: فیه استحباب اطالة الدّعآء وتکرر رفع الیدین. اوپه مشکوٰة ص ۲۱۹ کی دترمذی او احمد څخه نقل کوی: وعن عمر بن الخطاب ﷺ فأنزل علیه ﷺ یوما فمکثنا ساعة فسري عنه فاستقبل القبلة ورفع یدیه وقال اللّهم زدنا ولا تنقصنا الی آخر الحدیث. په بنایة کی یې دامام نووی" څخه نقل کړی دی: قال النووی قد ثبت انّه ﷺ رفع یدیه فی الدُّعآء ذکرتُ لذٰلك من نحو عشرین حدیثا فی شرح المهذّب . انتهٰی

**څلورم بحث** : **په مشروعیت کی دی دلاسو پورته کولو په دعاء کی په هیئت اجتماعی سره**

امامِ سیوطی" په السّهام المصابة فی الدعوات المستجابة کی راوړی: عن حبیب بن مسلمة مرفوعًا لا یجتمع قوم فیدعو بعضُهم ویؤمن بعضهم الا اجابَهم الله ، رواه الحاکم ، او همدارنګه په کنز العمال ج۱ ص۱۷۷ کی ذکر دی: ولفظه عن حبیب بن مسلمة الضّمری مرفوعًا لا یَجتمعُ مَـلأٌ فیدعو بعضهم ویؤمن بعضهم الاّ اجابَهم الله . وعن انس مرفوعا ما اجتمع ثلثة بدعوة الاّ کان حتمًا علی الله ان لا یردّ ایدیهم رواه ابونعیم فی الحلیة . وفی (العرف) الشذی ولیعلم انّ الهیئة الاجتماعیة برفع الایدی المتعارفة فی

العصر ثبت بعد النافلة فی الاستسقآء وواقعة بیت ام سلیم انتهٰی. وواقعة بیت ام سلیم حین صلی علیه الصلاة والسلام فیه السّجدة ودعا لانس رواه مسلم من حدیث انس فی باب جــواز الجماعة فی النافلة والاصل فی النصوص التّعلیــل فثبَّــت ، او پردې موضوع باندی منذریؒ دقدماوو څخه او علاّمه سیوطیؒ دمتاخرینو څخه او دارنګه نورو علماوو مستقل تصنیفات کړی دی چی ددې دثابتولو دپاره پوره کفایت کوی، ځکه نو زه نور کلام نه اوږدوم .

**پنځم بحث** : **دی په بیان کی ددعاء وروسته تر پنځو لمونځو په پورته کولو سره دلاسو**

دامطلب که څه هم دمخکنیو بحثونوپه ضمن کی ثابت سو لکه چی هلته مو اشاره هم ورته وکړه لیکن ددې سره دپاره دغابښ ماتولو او دملامتولو ددښمنانو ددې مستقل او جلا اثبات کوم، او دښه اوبد په مینځ کی به تمیز کوونکی فیصله ولیکم، ددې دپاره چی دطالبانو بصیرت ته حق واضح سی، اوپه شك اوحیرت کی ونه لوېږی. نو وایم بحول الله تبارك وتعالی چی:

دعا په پورته کولو سره دلاسو وروسته تر فرضی لمانځه پس له سلام ګرځولو څخه مطلق برابره خبره ده که تر هغه وروسته سننِ رواتب وی اوکه نه وی او برابره خبره ده که دعا په اجتماع سره وی او که نه وی ، مخکنیو محدثینو په ډیرو کتابو کی په اثبات سره رسولی ده. او په دې ځای کی په یو څو حدیثو سره کفایت کوم : ۱. **اول**: ما اخرجه ابن ابی شیبة قال حدّثنا محمد بن یَحیٰی الاسلمیّ قال رأیت عبدَ الله بن زبیر ورأی رجلاً رافعًا یدیه یدعو قبل ان یفرغ مــن صلوٰته فلما فرغ منها قال له انّ رسول الله ﷺ لَم یکن یرفع یدیه حتّٰی یفرغ من صــلوٰته وعزاه الــهیثمی فی الزوآئد الی الطبرانی وقال رجاله ثقات انظر (مجمع) الزوآئد ج ۱۰ ص ۱٦۹. ۲ . **دوم**: ما اخرجه ابن ابی حاتم باسناده عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ رفــع یدیه بعد ما سلم وهو مستقبل القبلة فقال اللّهم خَلِّص الولید بن الولید رحمه الله ذکره ابن کــثیر فی تفسیر قوله تعالی ( اِلاَّ الْمُسْتَضْعَفِیْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ [النسآء : ۹۸]) الآیة ج ۱ ص ۵٤۲ وفیه عَلِیّ بن زید بن جدعان روی له مسلم مقرونًا بالغیر قال ابن دقیق العید فی حــدیث ابــن مسعود فی النّبیذ : من طریقه عند احمد والدار قطنی علیّ بن زید وان ضعف فقد ذُکِر بالــصّدق حکاه الزیلعی فی ج ۱ ص ۱٤۱. وقال العجلی یکتب حدیثه ومثله قال ابن عدی وقال ابــن معین ما اختلط علیّ بن زید قطّ وقال یعقوب بن ابی شیبة : شیبة ثقةٌ صالِح الحــدیث والی اللین ما هو کما فی التهذیب ج ۷ ص ۳۲۳ . ۳. **دریــم**: ما اخرجه ابن ابی شیبة فی مصنفه

من حديث الاسود العامرى عن ابيه قال صلّيتُ مع رسول الله ﷺ الفجر فلمّا سلّم انحرف ورفع يديه ودَعَا والاسود هٰذا ابن عبد الله ابن حاجب بن عامر من رجال ابى داؤد ذكره ابن حبّان فى الثقات وقال الذّهبى محله الصدق كما فى التهذيب. ۴. **څلورم: هغه چې حافظ** ابوبكر احمد بن محمد بن اسحٰق ابن السنى ؒ په خپل كتاب عمل اليوم والليلة كې ليكلى دى: حدّثنى احمد ابن الحسن حدثنا ابو اسحٰق يعقوب بن خالد بن يزيد البالِسى (١) حدثنا عبد العزيز ابن عبد الرّحمٰن القرشى عن حفيف عن انس عن النبى ﷺ انّه قال: ما مِنْ عبدٍ يبسط كفَّيه فى دبر كلِّ صلٰوة ثمّ يقول اللهمّ الهى وإلٰه ابراهيم واسحٰق ويعقوب واله جبرآئيل وميكآئيل واسرافيل اسئلك ان تستجيبَ دَعْوَتِيْ فَاِنِّيْ مُضْطَرٌّ وَتَعْصِمُنِيْ فِيْ دِيْنِيْ فَاِنِّيْ مُبْتَلًى وَتَنَالَنِيْ بِرَحْمَتِكَ فَاِنِّيْ مُذْنِبٌ وَتَنْفِيْ عَنِّيَ الْفَقْرَ فَاِنِّيْ مُتَمَسْكِنٌ اِلاَّ مَا كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ ان لا يَرُدَّ يديه خَائِبَين. ۵، ۶: **پنځم اوشپږم: هغه دى** كم چې اخراج يې طبرانى په (المعجم) الكبير كې كړى دى: عن ابن عباس ؓ، وفى الاوسط عن ابن عمر ؓ، قَالاَ صلى رسول الله ﷺ الفجر ثم اقبل على القوم فقال اللّهم بارك لنا فى مَدِيْنَتِنَا وبَارِكْ لَنا فِي مُدِنّا وصاعنا، ذكرهما السّهمودى فى الوفا ج ١ ص ٣٦ و ٣٨، ورجالهما ثقاتٌ كما قاله. ۷. **اووم: هغه دى كم چې ابن ماجه** ليكلى دى (حديث رقم = ١٣٢٥) : حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا شبابة بْن سوار حَدَّثَنَا شعبة حَدَّثَنِي عَبْدُ الله بن سعيد عَن أَنَس بْن أَبِي أنس عَن عَبْد الله بْن نافع بن عمياء عَن عَبْد الله بْن الحارث عَن المطلب يعني ابن أبي وداعة قَالَ قال رَسُول الله ﷺ : صلاة الليل مثنى مثنى، وتشهد في كل ركعتين وَتَبْأَسُ وتمسكنُ وتُقْنِعُ وتقول: اللّهم اغْفِرْ لِي، فمن لَمْ يفعل ذلك، فهي خداج. قوله تقنع من باب الافعال اى ترفع يديك بعد الصّلٰوة كذا ذكره المحدّث الدهلوى كما فِي نِهاية الجزرى ومَجْمَع البِحار. او په ترمذى ج ١ ص ۵١ كې دفضل ابن عباس ؓ څخه نقل دى: وقال – الترمذى – قال محمّد يعنى البخارى حديث ليث بن سعد اصحّ من حديث شعبة، او همدارنګه يې په معارف السنن ج ٣ ص ۴٧٣ او ابوداؤد ج ١ ص ١٧٣ او په شرح دسفر السعادة ص ٩٠ كې ددې اخراج كړى دى. پاته سوه داخبره چې په څلورم حديث كې عبد العزيز بن عبد الرحمٰن دى اوپه ده كې خبرى سوى دى، ذكره فِي كَنْز

(١). كان اللفظ فى النسخة الفارسية من جرأة الائمة هكذا: بن يزيد اليالسى آهـ بالياء، وهو فى الاصل اى فى كتاب عمل اليوم والليلة لابن السنى ج١ ص٢٦٢ حديث رقم= ١٣٧ (ط: دائرة المعارف النظامية، بحيدر آباد الدكن، ١٣۵٨هـ) هٰكذا: البالسى، بالباء فاثبتناه من الاصل. واختصر المصنف ؒ هٰهنا فى اسمآء الرواة ايضًا. حقّانى

العمال ج١ ص١٨٣ وقال واه آهـ او همدارنګه په میزان الاعتدال کی لیکلی دی، اوپه آخری روایت کی عَبد الله بن نافع بن عمیاء مجهول دی لکه چی په تقریب لیکلی دی: مجهولٌ من الثالثة ([1]). لکن باید چی وویل سی چی دراوی دجهالت دوجی څخه حدیث موضوعی نه ګرځی البته ضعیف ګرځی او عمل په حدیث ضعیف سره په فضآئلو کی داعمالو روا دی اتفاقا ، ملا علی قاریؒ په رساله ( فضلِ شعبان ) کی ذکر کړی دی: قلت جهالةُ الرّاوی لا تقتضی کونَ الحدیثِ موضوعا وکذا نکارة الالفاظ فینبغی ان یحکم بانّه ضعیف ثم یعمل بـه فی فضآئل الاعمال اتفاقا انتهٰی .

که وویل سی چی نزاع په هغه دعا کی ده چی دلاسو په پورته کولو سره دامام اودقوم ، اوپه هیئتِ اجتماعی سره وروسته تر سننو وی ، او په خاص ډول سره دحمد اودرود وی، اوپه دې احادیثوکی چی ذکر سوه یا مطلق دعا ده وروسته تر فرضی لمونځو ، یا بې له اجتماع څخه ده ، نو بیا هم مطلوب ثابت نسو ؟ نو اول عرض کوم که چیری په مَا تَقَدَّمَ کی په غور سره نظر وکړل سی نو هیڅ وسوسه به ددې په ثبوت کی نسی پاته . آیا نه ګوری چی کله شیخ مجد الدین فیروز آبادیؒ په خپل کتاب سفر السعادة ص ٩٠ کی داسی ویلی دی: هرڅه چی دا دعا ده چی دمسجدو امامان یې وروسته تر سلام ګرځولو کوی او مقتدیان آمین آمین پر وایی لکه څنګه چی اوس دعربو اوعجمو په ښارو کی مشهوره ده دا دعادته څخه دپیغمبر ﷺ نه وه اوپه دې باره کی هیڅ حدیث نه دی وارد سوی. آهـ شارح ددې کتاب شیخ عبد الحق الدهلویؒ صاحب دااللمعات چی ددې کتاب دشرح په سرکی په بیان کی دباعث دجوړولو دشرح خپل فرمایی: چی کله صاحب دکتاب یعنی

---

([1]). قوله : من الثالثة آهـ ای من الطبقة الثالثة ، وهذه الطبقة هی طبقة الوسطی من التابعین ، وهٰذا لان الحافظ ابن حجرؒ ذکر فی مقدمة کتابه هٰذا ای تقریب التهذیب (ج١ ص٢٥ ط: دار الکتب العلمیة ببیروت سنة ١٩٩٥) ، مراتب الرواة ، وجعلهم محصورین فی اثنی عشرة مرتبة ، وذکر الفاظ الجرح والتعدیل المقابلة لکل مرتبة ،حیث قال: الثالثة: الطبقة الوسطی من التابعین، کالحسن وابن سیرین آهـ فعلی المراجع الی هٰذا الکتاب ان ینتبه الی هذه المراتب وما یقابلها من الالفاظ حتی لا یقع فی لبس او خطـأ . وینبغی لزاما معرفة تلك الطبقات قبل المراجعة فی الکتاب حتٰی یعرف المراجع ذلك الاصطلاح الخاص لابن حجرؒ فی هذا الکتاب . وهو مختصر جدا ، اختصر فیه الحافظ ابن حجرؒ کتابه ( تهذیب التهذیب ) فی نحو سدس حجمه . وان شئتَ زیادة التفصیل فی هٰذا الموضوع فارجع الی کتاب: اصول التخریج ودارسة الاسانید ، للدکتور محمود الطحّان ص ١٦٦ – ١٦٨ (ط: الرّحیم اکادمی ، کراتشی).

وامّا صاحب الترجمة فهو من رواة الترمذی وابو داؤد والنسآئی وابن ماجة ، من الصحاح الستة ، وهو مجهول عند الحافظ ابن حجر کما ذکره ، واما الذهبی فقال فیه : قال البخاری: لَم یصح حدیثه ، کتبه حقّانی عفٰی عنه

فیروزآبادی پر مذهب دمحدّثینو داصحاب الظواهر تللی وو او په اکثرو ځایو کی یې خبری دمجتهدینو دمذهب خلاف کړی وی او دعوه دفساد او دبطلان دخپل مدعی دمخالف طرف یې کړی وه اودعوه دنه صحیح کیدو دهغو احادیثو یې کړی وه چی ددوی په طرف کی وارد سوی وه اوپه خاتمه کی دکتاب یې نسبت دوضع او دبطلان وبعضو احادیثو ته کړی وو ، اودا په پیروی کولو سره دبعضو علماوو دمتاخرینو څخه چی هغوی ډیر غلو کوونکی او تلوار کوونکی دی لکه ابن الجوزیؒ او نور. نو طریقه دانصاف داده چی دهغه شرح وسی، او حقیقت حال څرګند سی اوپر ځایو دخطاوو او اشتباهاتو آګاهی ورکول سی اوپه اهتمام سره ذکر دهغو احادیثو وکړل سی چی وارد سوی دی په مذاهبو کی دائمه وو. ولی چی مطالعه ددې کتاب خاص کر دمجتهدینو دمذاهبو دپیروی کوونکو دپاره سبب دپیدا کیدو دوحشت اودزیږیدو دشبهت ګرځی. او په شك او حیرت کی یې اچوی په بد ګمان کولو سره پر ائمه مجتهدینو باندی اوپه سختی او خطآء ګڼلو باندی دعلماء راسخینو مبتلا کیږی اودا یوډیر لوی اوسخت تاوان دی ، تر آخره پوری چی ده یې بیان کړی دی، نو بنآء پرخپل دې قصد باندی په دې ځای کی په راګرځولو سره ددې قول دفیروزآبادی وایی: په جامع الاصول (١) او مشکاة (٢) کی یې حدیث دفضل ابن عباس‏ؓ راوړی دی چی په هغه کی ذکر دی: ( الصلاة تخشع وتضرع وتمسكن ) یعنی لمونځ اظهار دی دپوره خشوع او عاجزی او مسکینی ( ثم تقنع يـديك ) بیا پورته که دواړه لاسونه ستا یعنی وروسته ترسلام ( مُستقبلا ) په داسی حال کی چی مخامخ کی (بطونهما وجهـك) نسونه دګوتو ددواړو لاسو خپل مخ ته ، لکه څنګه چی په حالت کی ددعاء سنت هم دی ( وتقول ) او ته ووایی ( يا ربِّ يا ربِّ ) یعنی دعا وکی او حاجت وغواړی ( ومَن لَمْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ ) اوڅوك چی داسی ونکی ( فهو كـذا وكـذا ) نودی دارنګه اودارنګه دی ، کنایی ده دملحق کیدو څخه دتاوان په لمانځه کی دده او رسیږی هغه تاوان ده ته ددنیا او آخرت. كذا قال بعض الشّارحين. او په بعضی روایاتو کی راغلی دی (فهو خداج) یعنی ناقص ، او خداج په اصل کی غورځولو ته ویل کیږی دحاملی ښځی خپل اولاد لره مخکی تر خپل

---

(١). ای ذكره ابن الاثير الجزری صاحب النهاية فی غريب الحديث فی كتابه : جامع الاصول فی احاديث الرسول ﷺ وهو فی ج ٦ بحديث رقم (٣٥٩٠) (طبع : دار الكتب العلمية ، بيروت ، سنة ١٩٩٧، بتحقيق : ايمن صالح شعبان ) .

(٢). فی باب صفة الصلاة فی الفصل الثانی فی ج ١ ص ٧٧ (ط: قديْمی كتب خانه ، بكراتشی). حقّانی عفی عنه

وخت چې ناقص الخلقة وی یعنی اندامونه یې کم وی. دا حدیث بیانوی استحباب اوفضیلت ددعاء وروسته ترلمانځه هم امام لره او هم مقتدی لره، اومثل ددې حدیث په نزد دمصنّف" ثبوت نلری آهـ نو باید فکر وکړل سی چې شیخ عبد الحق دهلوی" چې دحدیث پیژندنی دعلم لوی ماهر دی موافق دغرضه سره خپل لکه چې مخکې ذکر سوه اعتراض وکې پرقول دفیروزآبادی چې په دې باب کې حدیث نه دی ثابت سوی، اوپه قید لګولو سره د (په نزد دمصنف) یې دې ته اشاره وکړه چې حقیقت دا ډول نه دی.
اودوهم غواړم چې ووایم چې دا مشهوره دعا کمه چې په ۱. پورته کولو دلاسو وی ۲. او په هیئت اجتماعی سره دامام او دقوم وی ۳. او وروسته تر سنتو وی ۴. او په مخ کرځولو سره دامام وقوم ته وی ۵. او په اول او په پای کی دحمد په ویلو سره وی ۶. او په مږلو سره دلاسو وی پر مخ خپل باندی وروسته تر ختمیدو ددعا ، نوهر فعل ددې افعالو څخه مشروع دی.
اودلیل معارض اومانع ددوی داجتماع سره نه دی ثابت سوی بلکه روایتونه دکتب متعمده وو دفقه شریفی تائید ددې کوی او دمکمّلاتو دقبلیدو یې بولی ( كَمَا سَتَعْلَمُ ) نو باید چې په مشروعیت کی ددې دعآء نزاع واقع نسی.
**هرڅه چې ثبوت دی ددې شیانو په روایاتو سره دسننو**: نو دبعضو ثبوت تیر سو، او دنورو پاتو دثابتوونکو روایاتو یې باید چې په نظر سره دانصاف پلټنه وکړل سی، اوپه معارف السنن ج ۳ ص ۱۲۱ کی داسی راغلی دی:
وَردت الاحاديث القولية والفعلية فى الدُّعآء دبر الصلٰوة مطلقا اى قبل الفراغ عنها وبعد الفراغ عنها وصحّت احاديث عامة فى آداب الدُّعآء من رفع اليدين ومسحِ الوجه بهما بعد الدُّعآء وصحَّ حديث فى تكرير الدُّعآء ثلثا كل مرَّة برفعِ اليدين من حديث عآئشة عند مسلم (وسيـأتى لك فِى بَحث زيارة القبور). وهٰذا كلّه واضح معروف فى مَحلّه لا مساغ لانكاره آهـ وفى الحرز الثمين قال فضالة بن عبيد سمع رسول الله ﷺ رجلاً يدعوفى صلٰوته لَم يمجد الله ولَم يصلّ على النَّبى ﷺ فقال عجل هٰذا ثُمَّ دعاه فقال له او لغيره اذا صلّى احدكم فليبدأ بتحميد ربّه والثنآء ثمّ يصلّى على النّبيّ ﷺ ثم يدعو بما شآء آهـ وفى مراقى الفلاح ص۱۷۳: عن رسول الله ﷺ اذا دعوتَ الله فادعُ بباطن كفّيك ولا تدعُ بظهورهِما فـاذا فرغتَ فامسح بهما وجهَك آهـ .
**واماّ اقوال ثقات علمآء الفقه** : په دې شیانو کی نو هغه دا دی : په هدایة باب

الکسوف ج۱ ص ۱۵۲ کی لیکی: والسّنة فی الادعیة تاخیرها عن الصلوٰة . اوپه فصل فی الصّلوٰة علی المیّت ج۱ ص ۱۲۰ کی لیکی: لانّ البدایة بالثنآء ثم بالصّلوٰة ای علی النبی ﷺ من سُنّة الدّعآء ، او په باب الاحرام ج ۱ ص ۲۲۲ کی ذکر کوی: لانّ الثنآء والصّلوٰة علی رسول الله تعالی ﷺ یقدمان علی الدعآء تقریبًا الی الاجابة کما فی غیره من الدعوات والرفع سنة الدّعآء ، اقول ولحدیث عمر بن الخطاب ﷺ عند الترمذی ج ۲ ص ۱۷٤ بذلك .

اوپه همدی باب دهدایې ج ۱ ص ۲۲۴ کی لیکلی دی: والاجابة فی الجمع ارجٰی آهـ او په عین العلم ص ۷۸ کی دی: الدّعآء مخ العبادة وحقّه ان یترصد شریفَ الاوقات ، الی ان قال: والکون فی جماعة تبلغ مائة آهـ اوپه شرح دشرعة الاسلام ص ۱۱۲ کی دی: وذکر الامام ابو اللیث فی شرح المقدّمة نقلاً عن ابی حنیفة من انه اذا دعا الامام بعد الصّلوٰة حوّل وجهه الی الجماعة آهـ او همدارنګه امام ابو اللیث په خپله فتاوٰی ص ۱۳ کی لیکلی دی، اوپه نور الایضاح او مراقی الفلاح ص ۱۷۱ کی دارنګه لیکلی دی: ویستحب ان یشتغل بعده ای بعد التّطوع وعقب الفرض ان لَم یکن بعده نافلة یستقبل النّاس ان شاء ان لَم یکن فی مقابله مصلٍّ ، الی ان قال: ویستغفرون الله العظیم . نووی ؒ په شرح کی دمهذب ج ۱ ص ۴۸۸ کی وایی: الدّعآء للامام والمؤتم والمنفرد مستحب عقب کلّ الصّلوٰة بلا خلاف ، ویقول: ویستحب ان یقبل علی النّاس فیدعو آهـ قلت : کما قال فی معارف السنن وثبت الدّعآء مستقبل القبلة ایضًا کما قال فی حدیث ابی هریرة ﷺ عند ابی حاتم . نو دواړه ډوله ثابت دی او شاید چی دنور الایضاح په قول ( ان شآء ) همدې طرف ته اشاره وی. وفی الهدایة العلائیة التی هی خلاصة نُخبة الکتب المقدمة ص۵۹: ویستحب للامام بعد السنة ان یستقبل الناس ویستغفرون الله العظیم ثلاثًا ویقرؤن أیة الکرسی والمعوذتین ویسبّحون الله ثلثًا وّثلثین ویَحمدونه کذٰلك ویکبّرونه کذٰلك ثمّ یقولون لا اله اِلا الله وحده لا شریك له ، له الملك وله الحمد وهو علی کل شيء قدیر ثمّ یدعون لانفسهم وللمسلمین رافعی ایدیهم ثمّ یمسحون بها وجوهَهم. آهـ اوباید یادونه وکړل سی چی هغه روایتونه چی په هغو کی (دُبُر المکتوبات) ذکر دی ، هم باید چی په هغو لمونځونو کی چی وروسته ترهغو سننِ رواتب وی مراد دهغه څخه وروسته تر سنتو واخیستل سی ، ولی چی سنت په دې وجه چی دمکمّلاتو څخه دفرضو دی او په هغو پوری متصل دی، باید جلا ونه شمیرل سی ، لکه چی په ردِّ محتار او کبیری کی

ذکر دی ، ولی چی تر معین مقدار زیات فصل په مابین دسنتو او فرضو کی ، لکه چی وروسته به راسی ، مکروه دی ، اوسره ددې چی دعا وروسته تر ټولو فرضو مستحب او مندوب ده ، نو داسی معلومیږی چی هرځای چی رواتب وروسته تر فرضو وی ، نو ځای ددعاء په هغه کی وروسته تر سنتو دی . علامه شامیؒ په ردِّ محتار ج ۱ ص ۴۷۷ کی وایی: (وکــذا) یعنی مکروه دی ( لو فصّل بقرآءة الاوراد لانّ السنّة الفصل بمقدار اللّٰهمّ انت السلام آهــ ) حتی لو زاد تقع سنة لا فی مَحلها . اوپه مراقی الفلاح ص ۱۷۰ کی دی: کلّ صلوٰة بعدها سنة یکره القعود بعدها والدّعآء بل یشتغل بالسنة کی لا یفصل بین السنّة والمکتوبة . اوپه بحر الرآئق ج ۱ ص ۳۰۴ کی لیکلی دی: لکن السنة عندنا مقدّمة علی الدعآء الّذی هو عقب الفراغ انتهٰی . او دلفظ څخه دعندنا معلومیږی چی دا مذهب داحنافو دی ، وصاحب البحر اعرفُ بمذهب امامه . وفی شرح شرعة الاسلام : ویغتنم الدّعآء بعد الفرض وقبل السنّة عند البقالی وبعد السّنن والاوراد علی ما روی عن غیره وهو المعمول المشهور فی زماننا . او دارنګه په شرح کی دشرعة الاسلام لیکی: ویــدعو الامام للقوم بعد الصّلٰوة ای یدعو بعد قرآءة الاوراد والاذکار الماثورة علی ما هو المتعارف بین الائمة رحمهم الله تعالی، الی ان قال: وفی قنیة الفتاوی واذا کانت صلٰوة لیس بعدها سنة یستقبل القوم بوجهه هٰذا هو السّنّة اذا لَم یکن بحذآئه رجلٌ مسبوقٌ یصلّی . وامّا اذا کان فلا یستقبل آهــ او په فتح القدیر باب النوافل ج ۱ ص ۳۱۳ او ص ۳۱۴ کی بې راوړی دی چی حاصل یې دادی: ان المسنون عدم الفصل بین الفریضة والسّنن الا قدر ما یقول : اللّٰهمّ انت السّلام الخ کما فی حدیث عآئشة عند مسلم والترمذی وهو الّذی ذکره فی شرح الحاکم الشهید وما ورد من حدیث ابی رمْثة عند ابی داؤد فانّه لَم یهلك اهل الکتاب الا انه لَم یکن بین صلٰوتهم فصل فلیس فیه دلیل علی فصلٍ اکثر من هٰذا ، وما ورد من افضلیّة السّنن فی المنزل فلا یرد لان کلامنا فیما اذا ادی السنّة فی مَحل الفرض (۱) وما

---

(۱). وقال الشامی فی ج ۱ ص ۳۷۲ : نقلاً عن الحلیة افاد شیخنا (یعنی ابن الهمام) ان الکلام فیما اذا صلّی السنّة فی محل الفرض لاتفاق کلمة المشآئخ علی انّ الافضل فی السّنن حتّی سنة المغرب المنزل ای فلا یکره الفصل بمسافة الطریق انتهٰی ددې څخه معلومیږی چی سنت او نفلونه په کور کی افضله دی تر مسجد نه دا چی په مسجد کی مکروه دی . په مرقاة ج ۲ ص ۱۱۷ کی دی په ضمن کی ددې قول درسول الله ﷺ چی روایت سوی دی: قام النّاس یتنفّلون فقال النّبی ﷺ علیکم بهٰذه الصّلٰوات فی البیوت ، وایی چی: ارشاد لما هو الافضل اوپه اشعة اللمعات ج ۱ ص ۵۴۰ کی په ضمن کی ددې ذکر سوی حدیث لیکی: جمهور =

ثبت عن رسول الله ﷺ انه كان يقول لا اله الا الله وحده لا شريك له الخ وانه ارشد فقرآء المهاجرين الى التسبيحات واخواتها ثلثا وثلثين وغير ذلك دُبر الصّلوة فلا يقتضى وصـــلها بالفريضة بل يصحّ كونها دُبر الصّلوة اذا كان عقيب السنة من غير اشتغال بما ليس هو من توابع الصّلوة ولا يُرد انّه كان ﷺ يصلّى التطوّع فى بيته فكيف علمها الصّحابة ﷺ وكيف نقلوها لو لَم تكن متصلة بالمكتوبات لانّهم كثيرا مّا نقلوا مِمّا كان عَمَله فى البيت اما بواسطة نسآئه او بسماعهم صوته وكانت حجرته ﷺ صغيرةً جدًا او سمع قبلها حال قيامه الى المنزل او جالسًا بعد صَلوةٍ لا سنَّة بعدها كالفجر والعصر، وما ذكره الحلوانى من انه لا بـــأس بان يقرء الاوراد بين الفرض والسنّة فمفاده ايضًا انّ الاولى ان لا يقرئها، والحاصل انه لَم يثبت عنه ﷺ الفصل بالاذكار التى يواظب عليها فى المساجد فى عصرنا من قرآءة آية الكرســـى والتسبيحات واخواتها ثلثا وثلثين وغيرها بل ندب اليها والقدر المتحقق ان كلاً من الـــسُّنن والاوراد له نسبة الى الفرآئض بالتّبعية وحديث عآئشة ﷺ لَم يقعد الاّ مقدار الخ نص صريح فى المراد وما يَتخَايلُ انَّه يُخالفه لَم يقوّ قُوّته او لَم تلزم دلالته على ما يخالفه فوجب اتباع هٰذا النصّ . ثمّ انّ ذٰلك تقريب فقد يزيد قليلاً وقد ينقص وقد يدرج وقد يرتّل ثمّ انّه لَم يثبـــت مواظبته على ذكر خاص فكان تارةً يقول هٰذا وتارةً ذاك فلا يَجمعها كلها فى وقت واحـــد انتهٰى ملخصا مع رعاية الفاظه فى التلخيص بقدر الامكان .

وفى معارف السنن ج ٣ ص ١١٩: وتحقيق الشيخ ابن الهمام هٰذا يطمئن اليه القلب اكثر مِمّا افاده الشّاه ولىّ الله فى الحجّة البالغة ص ٢٠٩ فى اذكار الصّلوة من ذكره اذكارًا كثيرةً ثمّ قال والاولى ان يـــأتى بها قبل الرّواتب واقرّه الـــمحدّث الكشميرى رحمـــه الله تعـــالى بدون تعقيبه فيدلّ على رضآئه ايضًا انتهٰى .

او دريم وايم چې پر تقدير دمنلو دنه ثبوت ددې شيانو دنصِ ثابت څخه دحضرت رسول الله ﷺ ليكن بنآءً پردې بيا هم دبدعتِ مستحسن څخه

= علمآء پردې دی چې امر دپاره داستحباب دی او بهتره داده چې په كور كی وی. او په حاشيه كی دهدايه يې دجامع صغير څخه نقل كړی دی: چې څوك دمابنام لمونځ په مسجد كی وكړی ، كه چيری بيريدی چې كورته ترتګ وروسته يوكار شايد ورته پيښ سی چې مانع سی دسنت ادا كولو څخه نودې يې په مسجد كی وكړی اوكه دا بيره نه وه بهتره داده چې په كور كی يې وكړی آه او په حاشيه دابوداؤد ج ١ ص ١٨۴ كی يې دملا على قاری څخه نقل كړی دی: چې ښكاره كول دفرضو دشعآئرو څخه ددين او ملت محمّدی ﷺ دی او په فرضو پوری يې سننِ رواتب په دې زمانه كی ملحق كړی دی دپاره ددفع كولو دتهمت چې شايد نسبت وكی خلګ ده ته دبدعتی چې دی داهلِ بدعت او دمخالفو څخه داهلِ سنت والجماعت دی. انتهٰى، عبد الحليم دمؤلف زوی

شمیرل کیږی په نزد دفیروزآبادی چی اوس هم پرمذهب داصحاب الظواهرو تللی دی په حکم دشیخ عبد الحق" لکه چی په سفر السعادة اودهغه په شرح ص ۹۰ کی یې ویلی دی: چی دا بدعت دی مستحسن ولی چی دعاء همیشه مستحب او مستحسن ده خصوصاً وروسته تر ادا کولو دلمانځه ، اوتردې وروسته یې هغه استحسان چی رانقل سوی دی دعلماوو څخه بیان کړی دی اوددې شارح چی شیخ عبد الحق" دی پردې اعتراض کړی دی چی دمصنف" دا الفاظ چی: دا دعاء بعضی امامان کوی ، کتونکی په دې باور کوی چی ګواکی دادهغو افعالو څخه دی چی علماوو ورته ښه ویلی دی اوپه صریحو احادیثو نه دی ثابت سوی اوحال داچی په صحیحو احادیثو کی دفعل څخه دآنحضرت ﷺ راغلی دی ، دارنګه چی په احادیثو کی تهلیل، تسبیح او تمجید ذکر دی دعاوی هم په دې کی داخلی دی. آهـ نو پرهر تقدیر باندی ددې درو تقدیراتو څخه داذکر سوی دعـاء دقبیلې څخه دبدعت قبیحه شمېرل ، اوددې پر کوونکی باندی سخت انکار کول ، او هغه زواجر چی په باره کی دمبتدعینو او مضلّینو راغلی دی دا ددوی په حق کی جاری کول اوپردوی یې تطبیق کول ، دافراط اوتر حد دتجاوز کولو او نا انصافی کولو څخه نه خالی کیږی . مصراع :

**ببین تفاوتِ راه از کُجا است تا کجا**

وګوره فرق دلاری ، چی دکمه ځایه څخه تر کمه ځایه پوری دی.
حاشا وکلاً، علامه محمد انور شاه کشمیری" په فیض الباری کی لیکی: الدُّعآء بالــهیئة الکذائیة لیست ببدعة بمعنی انه لا اصل له فی الدِّین فمن کان محتاجًا فلیدعُ بالاجتماع ومن لا فلا آهــ . اوکه وویل سی چی دا ډول لزوم او استمرار لکه دسنتِ مؤګده نه خالی کیږی دخلل او دنوی کار پیدا کولو څخه په دین کی، سره ددې چی دلیل ددې پر سنتیت باندی وجود نلری ، که څه هم چی احیانًا (کله کله) به په وخت کی دخاص حاجت دجناب رسول الله ﷺ څخه نقل سوی وی خو همیشه توب نه دی وربانـدی نقل سوی، نو وایم چی غوره طریقه دنبی ﷺ په حدیثِ فعلی پوری تخصیص نلری بلکه حدیثِ قولی هم حجت دی او که نه وی نو ډیر احکامِ شرعیه به معطل کړل سی. په معارف السنن ج ۳ ص ۱۲۴ کی چی دافاداتو څخه دعلامه کشمیری" دی وروسته تر راوړلو ددې مضمون اعتراض ذکر کوی: الاّ ان یقال العمومات القولیة ثابتة فیــه مع الترك فعلاً کصلٰوة الضحٰی آهــ اودارنګه په همیشه توب کی پر فعلِ مندوب

او امرِ مستحب باندی هیڅ حرج نسته ، آیا نه وینی چی محقّق بغدادی پر تلاوت دسورة مُلك هره شپه مداومت کوی، اوپردې يې دالله ﷻ حمد ویلی دی دخپل تفسیر (روح المعانی) په سورةِ ملك کی ، سره ددې چی تلاوت ددې سورة دمستحباتو څخه دی او دارنګه اهتمام دحضرتِ بلالؓ پر تحیّة الوضوء باندی اوقرار ورکول درسول الله ﷺ وده ته ددې فعل پر همیشه کولو باندی لکه چی په صحیح حدیث کی ثابت دی، او دارنګه صالحان دهر عصر اوهری زمانې یوپه بل پسې په ادا کولو دتهجد اهتمام کوی، حال داچی دا دمستحباتو څخه دی، اوپه حدیث کی راغلی دی: خير العمل ما ديم عليه . اوپه فیض الباری علی البخاری ج ۴ ص ۴۱۷ کی لیکی: بقي أن المواظبةَ على أمرٍ لَم يثْبت عن النبيّ ﷺ إلاّ مرّةً ، أو مرّتين ، كيف هي ؟ فتلك هي الشاكلةُ في جميع المستحبّات ، فإنّها تَثْبُتُ طوراً فطوراً ، ثم الأمةُ تواظبُ عليها آهـ نعم فرق المراتب ضروريٌّ بان نرى الفرضَ فرضًا والواجب واجبًا والمستحبَ مستحبًا. وهٰكذا . مصراع :

**گر فرق مراتب نکنی زندیقی**

یعنی که دمرتبو فرق ونکړی نو زندیق یې .

نو دعملونو دپاره دوه طرفه دی یو طرف داعتقاد او بل طرف دعمل کولو دهغه دی. او انصاف داره او دینداره سړی باید چی دعملو داعتقاد په طرف کی هریو عمل په خپله درجه کی نازل کړی نه داسی چی پرثابت مستحب باندی دبدعت او ضلالت حکم کوی او عقیده ددې پر لری، یا پر مکروه عقیده دسُنّت یا استحباب لری، ولی چی دا دنوع څخه دافراط او تفریط کیږی او دسمی لاری څخه داوښتلو سبب ګرځی. اومناسبه ده چی پر داسی عقیده لرونکو باندی سخت انکار وسی ځکه چی دادقسمه څخه دبدلولو دحقآئقو شمیرل کیږی ، تردې چی بعضی علمآء وایی چی انکار کول دروا والی څخه دروا کار چی ثابت وی په نصِ قطعی سره یا دمستحب والی څخه دمستحب چی په داسی نصِ سره ثابت وی تردې زیات کفر دی او انکار کول ددې شیانو څخه هغه وخت چی په دلیلِ ظنی سره ثابت وی فسق دی. قال بعض الـمحققين والملام على من انكر الاستحباب والانكار عن استحباب الامر المستحب سبب الملام كما لا يَخفٰى على اصحاب الدّراية ، ثُم قال: وعدم النقل فعلاً انّما يدل على الكراهية اذا لَم يوجد دليل آخر على جواز الفعل والا فيعد من الوجوه الفاسدة كما يظهر بالمراجعة الى فنّ الاصول .

اوپه طرف کی دعمل هم باید چی پرهغه لاره باندی تګ وکړی کم چی دشرع په نظر کی دده پرعمل باندی وی ، یعنی فرض باید چی خامخا پـه عمل کـی راوړی ، او پر پرېښوونکی باندی ددې دعمل سخت انکار وکړی، او سنت بایـد چـی ترځپلـه قدرتـه پـوری بې لـه عـذره نـه پریـږدی او ددې دعمـل پـر پرېښوونکی بانـدی سره ددرلودلـو دعقیـدې دسنت والـی سپك انکـار او ملامتـی روا وګڼل وسی ، او دمستحب کـار وکولـو اودهغـه پـه عمـل کـی راوړلو ته باید چی ترجیح او رغبت ورکول سی او ددې دعمل وتـارك تـه بې له انکاره باید چی دعمل کولو دپاره ترغیب ورکول سی او ددې دثـواب پـر فوت کیدو باندی دده څخه باید چی دغمرازی اظهار وکړل سی، لکه چی حضرت عمر رض وحضرت عثمان رض ته په وجه دکهالی (سُستی) دده رض پـه لمانځـه کی دجمعې او دجمعی دلمانځه دپاره یوازی داودس کولو په وجه دغمرازی اظهار کړی وو ، حیث قال له والوضوء ایضًا، من غیر امره بالرجوع للاغتسال کما ذکره فی الترمــذی ج١ ص٦٦. او همدارنګـه پـه کولـو سره دحرامـو ، سره دعقیـده درلودلو دحرمت دهغـه بایـد چـی معاملـه دترك دفرضو ورسره وسـی ، اوپـه کولـو سـره دمکروهِ تنزیهـی دې طریقـه دپرېښولو دمستحب دځپـل ځـان او دنورو سره وکړل سی ، نه داسی چی په پرېښولو سره دمستحب یـا پـه کولـو سره دمکروهِ تنزیهی دومره شدید او سخت انکار پر وکړل سی لکه چی پر پرېښولو دفرضـو یـا پرکولـو دحرامـو چـی کـول کیـږی ، او حسد او بغـض ورسره کوی ، او فتنه دشر او دضرر او دمومن مسلمان دحق پایمالـه کولـو ورڅخه پیداسی . او دابیان عبارت دی دساتنی څخه دمراتبو چی په مخکی کی ذکر سو. او هغه سختی چی پر پرېښوونکی باندی دعمل مستحب یا پـر کوونکی دعمل مکروه کول کیږی کمی چی مـا لیـدلی یـا اوریـدلی دی چی دشرع شریفی تر اندازې تجاوز پکښې سوی دی بیشکه دافـراط او تفریط څخه شمیرل کیږی او ددې سخت انکار کوونکی تـه بدعتی ویـل مناسب او لایق دی اوهم پرداسی چا باندی باید چی دا قـول دمحدث کشمیری رح حمل کړل سی چی په فیض الباری ج ۴ ص ۴۱۷ کی یې ذکرکړی دی: نعم ئحکــم بکونها بدعة اذا افضی الامر الی النکیر علی من ترکها . آهــ او هغـه چـی پـه معـارف السنن ج٣ ص۴۱۷ کی لیکلی دی: ثُم انَّ ما راج فی کثیر من بلاد الهنــد الجنوبیّــة بکیفیة مخصوصة بعد الرّواتب یستقبل الامام المقتدین ویدعو رافعی ایدیهم ثُمّ ینادی الامام

محتار ج ۲ ص ۳۴۲ کی په وجه کی دقول دابی یوسف" چی مهر په تجدید کی داولی نکاح دی نه ددوهمی نوشته کوی : لانّ العقد الثانی یلغو فیلغو ما فیه ، او ددې په رد کی دطرفه څخه دامام محمد" لیکی: وعند الامام انّ الثّانی وان لغا لا یلغو ما فیه من الزّیادة کمن قال لعبده الاکبر سنًا منه : هٰذا ابنی ، فعنده وان لغا فی حکم النّسب یعتبر فی حقّ العتق کذا فی المبسوط ، او په فتاوٰی خیریه کی چی پر هامش د (تنقیح) الحامدیه ده په ج۱ ص۴۷ کی راوړی: فالنّکاح هو الاوّل وتثبت التسمیتان فی الاصحّ لانّها مسئلة تجدید النکاح وفیها اقوال ، قال الفقیه ابو اللّیث یَجب کلا المهرین وذکر فی المنیة انّه الاصحّ آهـ وفی البزازیة علی هامش الـهندیة ج۴ ص۱۵۲ وفی ردّ الـمحتار نقلاً عن الفتح ج۲ ص۳٤٦ وفی الفتح ج۲ ص٤٤٤ ذکروا فی حکم تجدید النّکاح ان عند الامام" الثانی زیادة علی الاوّل وکان القاضی الامام قاضیخان انّما افتی بانه لا یَجب بالعقد الثّانی شيء الاّ اذا عنی به الزیادة فی المهر لکن الاوجه الاطلاق فان ذٰلك یقتضی ان یسئل الزّوجان عن مرادهما قبل الحکم وقد ینکر الزّوج القصد وینفتح باب الخصومة من غیر حاجة الی ذٰلك لانّه اذا کان الثّابت شرعًا جواز الزّیادة فی المهر والکلام الثّانی یعطیه صادرا من ممیز عاقل وجب المهر بمقتضاه بل یَجب انّه لو ادعی الهزل به لا یقبل ما لَم تقم بینة علی اتِّفَاقِهِمَا عَلی ذٰلِكَ. نَعَمْ وَیَخَالُ أَیْضًا أَنَّهُ یَجبُ ٱلْأَلْفَانِ کانا للثانی مَعَ ٱلْأَلْفِ کان للاول، لِأَنَّ ٱلْأَوَّلَ قَدْ ثَبَتَ وُجُوبُهُ ثُبُوتًا لاَ مَرَدَّ لَهُ ، وَالْمَفْرُوضُ لَهُ کَوْنُ الثَّانِي زِیَادَةً فَیَجبُ بِکُلِّ مَالهِ مَعَ ٱلْأَوَّلِ ، وَمِنْ ثَمَّ ذَکَرَ فِي الدِّرَایَةِ عَنْ شَرْحِ ٱلإِسْبِیجَابِيِّ : جَدَّدَ عَلی أَلْفٍ اٰخَرَ تَثْبُتُ الالفان عِنْدَ أَبِي حَنِیفَةَ "، وَعِنْدَهُمَا لاَ تَثْبُتُ الثَّانِیَةُ ، وَکَذَا لَوْ رَاجَعَ الْمُطَلَّقَةَ بِأَلْفٍ . وَفِي النَّوَازِلِ عَنِ الْفَقِیهِ أَبِي اللَّیْثِ : إِذَا جَدَّدَ یَجبُ کِلاَ الْمَهْرَیْنِ . وَوَجْهُ مَنْ نَقَلَ لُزُومَ الثَّانِي فَقَطْ اعْتِبَارُ إِرَادَةِ ٱلْأَوَّلِ فِي ضِمْنِ الْکَلاَمِ الثَّانِي ؛ لأَنَّ الظَّاهِرَ کَوْنُ الْمَقْصُودِ تَغیُّـرَ ٱلْأُولی إِلَی الثَّانِي. وَالَّذِي یَظْهَرُ مِنَ الْجَمْعِ بَیْنَ کَلاَمِ الْقَاضِي وَٱلإِطْلاَقِ الْمُتَظافِرِ عَلَیْهِ کَوْنُ الْمُرَادِ بِکَلاَمِ الْجمْهُورِ لُزُومُهُ إِذَا لَمْ یُشْهِدَا عَلَی الْهَزْلِ فِی الثَّانی مِنْ حَیْثُ الْحُکْمُ ، وَمُرَادُ الْقَاضِي لُزُومُهُ عِنْدَ اللهِ فِي نَفْسِ ٱلْأَمْرِ ، وَلاَ شَكَّ إِنَّمَا یَلْزَمُ عِنْدَ اللهِ تَعَالی إِذَا قَصَدَا الزِّیَادَةَ ، فَأَمَّا إِذَا لَمْ یَقْصِدَا حَتّی کَانَا هَازِلَیْنِ فِي نَفْسِ ٱلْأَمْرِ فَلاَ یَلْزَمُ عِنْدَ اللهِ شَيْءٌ حَتّی لاَ یُطَالَب بِهِ فِي الْقِیَامَةِ ، وَیَلْزَمُ ذٰلِكَ فِي حُکْمِ الْقَاضِي ؛ لِأَنَّهُ یُؤَاخِذُهُ بِظَاهِرِ لَفْظِهِ إِلاَّ أَنْ یُشْهِدَا عَلی خِلاَفِهِ آهـ هذه عبارة الفتح الی موضع الحاجة .

نو باید چی په دقیق فکر کولو سره په دې عبارتونو کی، زموږ داهل او وطن دمروجه نکاح حکم بې له وسوسې ښکاره سی ولی چی ښکاره ده چی معلومی او مقرری

پيسې په دوهمه نکاح کې غير دمخکنی مهر څخه په طريقه دکوشش هر سړی ورکوی، نو داوضع بې له شکه علی قصد الزّيادة سوه، په دې ډول سره چې په زړه کې ديوه دحاضرينو دا ورتيره نسی چې ددوهم مهر څخه يوه حصه داخله ده په اول مهر کې، بلکه هر يو ددې مهر څخه جلا مال دمخکنی مهر څخه ګرځی، نومعروف عرفًا داسی دی لکه مشروط شرطًا، اوکه چيری په وخت کی دبيانولو ددوهم مهر يې د (علاوه) توری پر مخکنی مهر ذکرکی، دهری وسوسې څخه خالی ګرځی . تعرّف وتشکر . او کله چې اراده دتړلو دعقد دنکاح وکی اول وار بايد خطبه ووايی چې دا دمستحباتو څخه دی، برابره خبره ده که داخطبه دمخکنی خطبې په شان ووايی اوکه په بل ډول يې ووايی، لکه چې مخکې مو ذکر کړل چې خاص ترکيب ضروری نه دی ، او وروسته تردې به ايجاب او قبول په مخکې ذکر کړل سوی شکل سره وکړی، او بايد چې په وخت کی دذکر کولو دمهر دا کلمې (علاوه پر مخکنی مهر باندی) هم ورسره يوځای کړی ، ددې دپاره دخلاف دخدشه او شك څخه ووزی، وروسته تر پوره کيدو دعقد دې يا مخکنی دعا ووايی ، او يادې دا دعا ووايی وروسته تر حمد او صلاة :

---

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لِلزَّوْجَيْنِ فِيْمَا رَزَقْتَهُمَا ، وَبَاعِدْهُمَا عَنِ الْحِقَدِ وَالْحَزَنِ وَالْوَحْشَةِ وَالنُّشُوْزِ ، اَللّٰهُمَّ اَحْسِنْ عَاقِبَتَنَا وَعَاقِبَتَهُمَا فِي الْاُمُوْرِ كُلِّهَا ، اَللّٰهُمَّ سَهِّلْ عَلَيْنَا وَعَلَيْهِمَا كُلَّ صَعْبٍ بِحُرْمَةِ سَيِّدِ الْاَبْرَارِ ، اَللّٰهُمَّ اَلِفْ بَيْنَهُمَا كَمَا اَلَّفْتَ بَيْنَ اٰدَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَحَوَّآءَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا ، اَللّٰهُمَّ اَلِفْ بَيْنَهُمَا كَمَا اَلَّفْتَ بَيْنَ اِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَسَارَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا ، اَللّٰهُمَّ اَلِفْ بَيْنَهُمَا كَمَا اَلَّفْتَ بَيْنَ يُوْسُفَ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَزَلَيْخَا رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا ، اَللّٰهُمَّ اَلِفْ بَيْنَهُمَا كَمَا اَلَّفْتَ بَيْنَ سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا ، اَللّٰهُمَّ اَلِفْ بَيْنَهُمَا كَمَا اَلَّفْتَ بَيْنَ عَلِيٍّ كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ وَفَاطِمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا ، اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْاَلُكَ خَيْرَ مَا سَاَلَكَ مِنْهُ نَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ ﷺ وَنَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا اسْتَعَاذَكَ مِنْهُ نَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ ﷺ وَاشْرَحْ صُدُوْرَنَا وَيَسِّرْ لَنَآ اُمُوْرَنَا مَعَ الرَّاحَةِ لِقُلُوْبِنَا وَالسَّلَامَةِ فِيْ دِيْنِنَا وَدُنْيَانَا وَاَنْتَ الْمُسْتَعَانُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ . ☆

## بيان دهغو شيانو چي تعلق لري تر يو شخصه پوري دوخته څخه دمرض تر وخته پوري ددفن كولو دده :

بايد زده كړل سي چي پوښتنه دمريض دسُننِ مؤكداتو څخه ده، او دمجموعي څخه دحقوقو دمسلمان پر مسلمان باندي شمېرل سوي دي، ما سوا دمريض څخه ددرد دستركو او ددرد دغاښو ، او صاحب الدمل يعني خاوند دپټ زخم چي په دې درو كي جآئز دي اوپه دې ډول سره تطبيق دهغو احاديثو كيږي چي په دې باب كي وارد سويدي. په شرح شرعة الاسلام په ص ۵۵۵ كي ذكر دي: اوكله چي دمريض سره يوځاى سي پر برابري دزنګنو دمريض دې كښېني كه يې چيري پردې قدرت وو نه پر برابري دسر دده ولي چي دا پرمريض تكليف كيږي، اوپه خوشحالي او سرور سره دې ومريض ته كتل كوي نه په غم اوزړه تنګي سره چي په دې سره دمريض دزړه شكستګي راځي ، او دده سره دي په هغه څه خبري كوي چي ده ته خوشحالي راوړي لكه دمرض دجوړوالي او دمريضي دسپك والي او أميد دجوړيدو دمريض اوداسي نور، اودده څخه دي دعآء غواړي، ولي چي دعاء دمريض وقبليدو ته ښه نژدي وي، اوژر دې دده څخه را وزي ترڅو چي زحمت او تكليف نسي پرمريض، اوخپل لاس دې پر تندي دمريض يا دده پر لاس كښېږدي او دحال پوښتنه دي ورڅخه وكړي ، او دعاء دصحت او عافيت دې ورته وكړي، او دا دعا چي رانقل سويده درسول الله ﷺ څخه دا دي ووايي: اِذْهَبِ الْبَأْسَ رَبَّ النَّاسِ وَاشْفِ اَنْتَ الشَّافِيْ لاَ شِفَآءَ اِلاَّ شِفَآئَكَ شِفَآءً لاَّ يُغَادِرُ سَقْمًا. اويا دي دادعا اووه واره ووايي: اَسْـأَلُ اللهَ الْعَظِيْمِ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمَ اَنْ يَّشْفِيْكَ. او يا دي دادعا پنځه واره ووايي: اَعُوْذُ بِاللهِ وَبِقُدْرَةِ اللهِ وَعِزَّتِهِ مِنْ شَرِّ مَـآ اَجِـدُ وَمِنْ شَرِّ مَآ اُحَاذِرُ . او په ويلو كي دسورةِ فاتحې درې واره يا اووه واره چي بيا يې دم كي پر خپل ځان او مريض او ياپر لاس خپل بيا خپل لاس ومږي پر بدن دمريض ، په دې كي هم لوى تاثير دي، او دارنګه ويل دمعوذتين يعني قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ اَعُوْذُ بِـرَبِّ النَّـاسِ تر آخره پوري او ويل دآخر دسورةِ حشر يعني : هُوَ اللهُ الَّذِيْ لاَ اِلَهَ اِلاَّ هُوَ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ، هُوَ اللهُ الَّذِي لاَ اِلَهَ اِلاَّ هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ السَّلاَمُ الْمُـؤْمِنُ الْمُهَـيْمِنُ

الْعَزِيْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحٰنَ اللهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ، هُوَ اللهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْأَسْمَآءُ الْحُسْنٰى يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ، او وروسته تردي دي يې په مخکنۍ ترتيب سره پرمريض دم کړی، دمرض دسپك والی دپاره دا بې مثاله دم دی، اودپاره دچيښلودی اوّل سورة فاتحه تر آخره پوری او وروسته ترهغه دی بيا دا آيتونه دشفآء : وَيَشْفِ صُدُوْرَ قَوْمٍ مُؤْمِنِيْنَ ، وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ ، يَخْرُجُ مِنْ بُطُوْنِهَا شَرَابٌ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيْهِ شِفَآءٌ لِلنَّاسِ ، وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ، وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ ، قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ آمَنُوْا هُدًى وَّشِفَآءٌ ، نوشته کړی بيادې يې پريولی اوپه مريض دې يې وچښی ، ژر نفع رسوی. او کله چی علامې دنژدې کېدو دقبض دروح پر مريض ښکاره سی لکه کوږوالی دپزی، او سُستی دپښو دده ، او چابکيدل په ساه اخيستلو کی او نوری داسی نښانې ، نوبايد چی پر رسته طرف يې مخ وقبلې ته کړی او يا يې ستونی ستخ کړی لکه داچی دمتاخرينو علماوو په نزد باندی ښه ده دوچی څخه دآسانی په وتلو کی دروح دده ، اوکه چيری دده سمول وقبلې ته تکليف وو نو پرخپل حال دی پرېږدی هر ډول چی وی، او تلقين دی په کلمۀ شهادت يعنی : اَشْهَدُ اَنْ لاَّ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ ، ورته کوی ، په دې ډول دی وايی چی ده ته نژدی يې واوری ، اومريض ته دی يې امر دويلونه کوی، ولی چی داوخت وخت دتکليف او مشقت وی ، اوکله چی دا ذکر سوی دشهادت کلمه پرژبه ددې شخص چی مرګ ته نژدی دی جاری سوه يا صراحةً يا اشارةً ، نوبيا دی دا نور خلګ کلمه دشهادت ودروی نور حاجت وتکرار ته نسته ، مګر کله چی دې شخص حاضر ومرګ ته په بل کلام سره شروع وکړه نو بيادی دنوی سره مخکنۍ عمل تکرار کړی ، مقصد داچی آخر کلام دده دشهادت کلمه سی، اوبعضو علماوو په تلقين کی يوازی په کلمه طيبۀ يعنی: لاَ اِلٰـهَ اِلاَّ اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ (ﷺ) باندی کفايت کړی دی او دا آسانه دی نسبت وعوامو ته اودوی ددې په ويلو ډير عادتی دی دوجه دمحبت ددوی ددې کلمې سره، او سورة يٰس دی هم ورته وايی، لکه په شرح شرعة الاسلام ص **۵۲۵** کی دی: چی ويل دسورة يٰس په نزد دهغه چاچی مرګ ته حاضر وی سنت شمېرل کيږی اوپه دې کی يې حديث را نقل کړيدی، بايد وهغه ته مراجعه وسی، او

که چیری په دې حالت کی کلماتی دکفر دده څخه صادری سوې دا اعتبار نلری ولی چی دلته احتمال دتلو دعقل سته ، باید چی پرده باندی دمسلمان مړی معامله جاری سی ، لکن پیدا کیدل دعلامو دسعادت او درحمت پر ده باندی سبب دخوشحالۍ او اطمینان دپاره دباقیماندګانو ګرځی ، او لیدل دعلامو دبدبختۍ او دعذاب پرده باندی ددوی دزړه دتنګی او دوحشت سبب کیږی ، خو ددې سره سره بالکل نا أمیدی نه دی کول پکار ، او دروح وتل په تکلیف سره باید چی دعلاماتو څخه دبدبختۍ نه وشمېرل سی، ځکه چی الله ﷻ لره قسم قسم حکمتونه دی، بلکه مدار پر نیك عمل او بد عمل باندی دی . او وروسته تر وفات کیدو دده دې غُسل اوکفن پدستی بې له ځنډه په اندازه دخپل وس او طاقت په هغه ډول ورکړی چی په کتابو دفقه شریفې کی مفصّل ذکر دی، بیا دې وطرف ته دقبر یوسی. او په وخت کی دوړلو یې بعضی کسان خاص رواج لری چی امام به دریې ۳ واره جنازه پر لس ۱۰ لس ۱۰ قدمه ایږدی پرمځکه باندی بیا به یې پورته کوی او پر وړو یې ایږدی، دا امر اصل نلری که څه هم چی شهرت یې پیدا کړیدی، ددې اصلی سبب اتباع دلاحق (وروستنی) ده په سابق (مخکنی) پسی بې له باریك نظر څخه او بې له تحقیقه دسند څخه دهغه ، رجوع ورواج ته کوی، او هغه چی په کتابو کی دفقه شریفی ذکر دی چی: ضَعْ یَمین المیّت علی یَمینك آهـ او مشهوره په طریقه مسنونه سره حمل دی، مُراد ددې څخه تکمیل دسنت دحمل دی خاص حامل لره ، او تخصیص په امام یا په وضع پوری دجنازې پر مځکه نلری ، په فتاوٰی عالمګیری ج۱ ص ۲۷۲ کی ذکر دی:

ثُمّ فی حَمل الجنازة شیئین نفس السّنة وکمالُها امّا نفس السّنّة فهی ان تأخذ بقوآئمها الاربعة علی طریق التّعاقب بان تَحمل من کل جانب عشر خطوات وهٰذا یتحقّق فی حقّ الجمیع وامّا کمال السّنّة فلا یتحقق الاّ لواحد وهو ان یبدأ الحامل بِحمل یَمین مقدّم الجنازة کذا فی التّتارخانیة فیحمله علی عاتقة الایْمن ثمّ المؤخّر الایْمن علی عاتقة الایْمن ثم المقدَّم الایسَر علی عاتقة الایسر ثمّ المؤخّر الایْمن علی عاتقة الایسر هٰکذا فی التّبیین آهـ

نو ددې څخه واضحه ښکاره سوه چی اول دحمل نسبت وحمل (وړلو) ته دحامل (وړونکی) دی نه ووړلو ته دجنازې بلکه که چیری په مابینځ دلار کی نیت دوړلو دجنازې وکی بیاهم دده دپاره پردې ډول وړل سنت دی، او دارنګه یې وړل پر غاړه سنت شمېرل کیږی ، او نوی پیدا سوی رواج منع

کوی داخیستلو څخه دجنازې پر غاړه مګرنه په څلورم وار، او هغه حدیث چې دڅلویښتو ګناهونو دکفارې وعده پکښې راغلې ده په وړلو سره دجنازې څلویښت قدمه ، هغه په مطلق وړلو کې دجنازې دی په اندازه دڅلویښت قدمه ، او غوښتنه ددې ایښولو او پورته کولو نه کوی نو هغه چې په وجیز الصّراط کې راغلې دی چې بیان دی دایښوولو څخه دجنازې پر لس ۱۰ قدمه ، ښکاره غلط دی، لکه چې دې ته ورته نور منکرات هم په دې کتاب کې ذکر دی، چې لآئق داعتبار نه دی، او همدارنګه هغه چې په مجموعۀ ملاً خوخی کی ذکر دی چی عبارت دی دایښوولو څخه دجنازې پر لس ۱۰ لس ۱۰ قدمه ، اعتبار نلری، اومحضی اتباع ده درواج .

**پوه سه** : چې ویل دقرآن پر مړی باندی ، وروسته تر قبض کیدو دروح او مخکی تر غسل ورکولو ، مختلف فیه دی، په فتاوٰی عالمګیری ج ۱ ص ۱۲۷ کی لیکی: ویکره قرآءة القرآن عند المیّت حتّی یغسل کذا فی التّبیین آهـ او همدارنګه په بحر الرّآئق ج ۲ ص ۱۷۱ کی ذکردی، او مولانا اشرف علی تهانویؒ په بهشتی زیور کی هم لا ینبغی (نا مناسب) ورته ویلی دی اوپه دُرِّ مختار او زیلعی کی یې هم مکروه ورته ویلی دی، اوقهستانی دالنتف (فی الفتاوٰی) څخه نقل کړیدی چې: ویقرء القرآن عنده الی ان یرفع الی الغسل آهـ . او بعضو علماوو ددې دواړو قولو په مابینځ کی موافقت کړی دی په سبب دنژدی والی دقاری ومړی ته او په سبب دلیری والی دده ، او یا په پټوالی دمړی او لڅ والی دمړی، اویا په ناپاکوالی دمړی او په پاکوالی دده ، نو ساتنه دقرآئت څخه په نزد دمړی مخکی تر غسل ورکولو ده ته اولی او احوطه ده ، اوهرڅه چې وروسته تر غُسل دی نو بیا پروا نسته ، په زوره یې وایی او که کرار ، لکه چې دتبیین دعبارة دنقل څخه معلومیږی چې مقید دی په غایه حتّٰی یغسل سره ، نوشك نسته په دې کی چې تلاوت دقرآن عبادت دی او مذهب داهلِ سنت دادی چې صحیح دی هدیه کول دثواب دعبادت ، او خاص کر بل چا لره ، ژوندی وی دا بل څوك اوکه مړ وی، په بحر الرّآئق کی لیکی: من صام او صلّی او تصدّق وجعل ثوابه للغیر من الاموات والاحیآء جاز ، ویصل ثوابُها الیهم عند اهل السّنة والجماعة ، کذا فی البدآئع آهـ . او ددې تفصیل په ردِ محتار ج ۱ ص ۲۳۱ کی ذکر دی، او مخالف ددې قول دمعتزله وو دی لکه ژردی چې په راتلونکو بحثونو کی دتتمّة به واضح

بیان سی، اوپه ردّ محتار ج ۵ ص ۸۲ کی په ضمن کی ددې قول ددرّ المختار: اعتق عبده عن ابیه المیت فالولاء له واجره للاب انشآء الله تعالی من غیر ان ینقص من اجر الابن شيء وکذا الصّدقات والدعوات لابویه وکل مؤمن یکون الاجرلهم من غیر ان ینقص من اجر الابن شيء ، مضمرات آهـ لیکی: قَالَ الْعَلاَّمَةُ ابن عَبْدُ الْبَرّ: وَالْمَسْأَلَةُ مَبْنِيَّةٌ عَلى وُصُولِ ثَوَابِ أَعْمَالِ الْأَحْيَاءِ لِلأَمْوَاتِ ، وَقَدْ أَلَّفَ فِيهَا قَاضِي الْقُضَاةِ السُّرُوجِيُّ وَغَيْرُهُ ، وَآخِرُ مَنْ صَنَّفَ فِيهَا شَيْخُنَا قَاضِي الْقُضَاةِ سَعْدُ الدّينِ الدّيرِيُّ كِتَابًا سَمَّاهُ [ الْكَوَاكِبَ النَّيِّرَاتِ ] مَحَطُّ هَذِهِ التَّأْلِيفَاتِ أَنَّ الصَّحِيحَ مِنْ مَذْهَبِ جُمْهُورِ الْعُلَمَاءِ الْوُصُولُ طحطاوی آهـ او محدث دهلوی په اشعة اللمعات ج ۱ ص ۱۳۰ کی په ضمن کی ددې قول درسول الله ﷺ چی دحضرت عثمان ؓ څخه روایت دی: قال کان النبی ﷺ اذا فرغ من دفن المیّت وقفَ علیه فقال استغفروا لاخیکم ثم سلوا بالتّثبت فانه الاٰن یُسْئل رواه ابوداؤد آهـ لیکی: اوپه دې حدیث کی دلیل دی چی دعا دژوندو ګټه رسوونکی ده ومړو ته ، او طلب دبخښنی او درحمت دوی لره سبب درحمت دی اوهمدغه مذهب دمشآئخو داهلِ سنّت والجماعة ؒ دی، وروسته تردې لیکی: او وروسته تردې ویل داول دسورةِ بقرة تر المفلحون پوری ، او آخر دسورةِ بقرة داٰمَنَ الرَّسُول څخه هم راغلی دی ، او که چیری ختم دقرآن وکی ډیره اولی او افضله ده ، او دبعضو علماوو څخه اوریدل سوی دی چی که چیری یوه مسئله دمسآئلو څخه دفقه شریفی ذکر کړی هم فضیلت لری او باعث دنزول درحمت دی، او مناسب ددې حال سره ذکر کول دی دمسئلې دعلمِ میراث ، او مختاره داده چی ویل دقرآن پر هر قبر باندی مکروه نه دی، خلافًا لبعضهم کذا قال الشیخ ابن الهمّام آهـ اوپه مرقات ج۱ ص ۱۷۳کی په ذیل کی ددې ذکرسوی حدیث لیکی: وفیه دلیل علی ان دعآء الاحیآء ینفع الاموات خلافًا للمعتزلة ، او تردې وروسته لیکی: وذکر فی الاذکار عن الشّافعی واصحابه انّه یستحب ان یقرأ عنده شيء من القراٰن ، قالوا وان ختموا القراٰن کلّه کان حسنًا وفی سنن البیهقی ان ابن عمر استحب ان یقرأ علی القبر بعد الدّفن اوّل سورة البقرة وخاتِمتها قاله الطّیبی ، وفی روایة یقرء اوّل البقرة عند رأس المیّت وخاتِمتها عند رجلیه آهـ اومحدث دهلوی په اشعة اللمعات ج۱ ص۷۴۳ په ضمن کی دحدیث دعبد الله بن عمر ؓ: قال سمعتُ رسول الله ﷺ یقول اذا مات احدکم فلا تحسبوه واسرعوا به الی قبره ولیقرأ عند راسه فاتِحة البقرة وعند رجلیه بِخاتمة البقرة ، لیکی: اوپه احادیثو

کې ویل دفاتحة الکتاب اودمعوذتین اودقل هو الله احد اوګرځول دثواب
یې دپاره داهل دمقبرو راغلي دي. ددې تصریحاتو څخه معلومه سوه چې
ویل دقرآن دپاره درسیدو دثواب وروح ته دمړي پر قبر باندي یاپه بل ځای
کې جآئز دی، او هرڅه چې دعوه داخلاص نه لرلو ده په دې قرآئت کې او
ریآء کول دقاري او داسې نور فاسد غرضونه چې ثواب ته دعبادت فآئده
رسوي نو هغه تخصیص په دې قرآئت پورې نلري بلکه په ټولو عباداتوکې
تاوان پېښوونکی دی، په دلیل ددې آیت: إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ، اوحدیث:
اِنَّما ٱلاَعْمَالُ بِالنِّيَاتِ ، وَلِكُلِّ امرئ ما نوٰی ﴿ . نو باید چې علماء سعی او کوشش
په وصیت کولو سره داصلاح او په صفا کولو سره دنیّاتو او په اخلاص
کولو سره په طاعاتو کې ، وکړي، نه داچې انکار دمشروع والی داصل څخه
ددې اعمالو وکي. او که چیرې خصوصیت داحکامو دتلاوت په دې رواج
کړل سوي مشهور ډول سره غواړي ، باید چې دهغه تفصیل څخه چې په
مقدمه کې ذکر سو په غور سره دتامّل او تدبّر هدایت وغواړي چې انشآء
الله تعالی ویبې او هوښیار سړی ته به دهغه تقسیم هم ومندوب او بدعت او
نورو ته ښکاره سي. تفکّر

## دعا وروسته تر قرآئت دقرآن دپاره دثواب دمړي

اَللّٰهُمَّ يَا بَدِيْعَ السَّمٰوٰتِ وَٱلاَرْضِ يَا ذَا الْجَلاَلِ وَٱلاِكْرَامِ يَا حَيُّ يَا قَيُّوْمُ يَا رَبَّ
الْعٰلَمِيْنَ يَا رَبِّ يَا رَبِّ يَا رَبِّ يَآ اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ يَآ اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ يَآ اَرْحَمَ
الرَّاحِمِيْنَ يَا مَنْ لآَ اِلٰهَ اِلاَّ اَنْتَ سُبْحَانَكَ اِنِّیْ كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِيْنَ هَذِّبْنَا مِنْ سُوْءِ
ٱلاَخْلاَقِ ، وَخَلِّصْنَا مِنَ الْخَطَايَا وَٱلاٰثَامِ ، وَطَهِّرْنَا مِنَ الذُّنُوْبِ وَالْمَعَاصِيْ ، وَاجْعَلْ
لَّنَا حَظًّا وَّافِرًا مِّنْ رَّحْمَتِكَ الَّتِيْ اَخَّرْتَهَا لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ كَمَا جَعَلْتَ لَنَا نَصِيْبًا كَثِيْرًا مِّنْ
رَّحْمَتِكَ الَّتِيْ نَزَّلْتَهَا فِي ٱلاَرْضِ وَاعْفُ عَنَّا وَعَافِنَا وَارْضَ عَنَّا وَتَقَبَّلْ دُعَآئَنَا وَمَا
تَلَوْنَاهُ وَسَمِعْنَاهُ وَاجْعَلْهُ مَقْبُوْلاً وَّخَالِصًا لِّوَجْهِكَ ، وَاَوْصِلْ ثَوَابَهُ اِلٰى رُوْحِ سَيِّدِنَا
فَخْرِ الْعَالَمِيْنَ ، وَاِلٰى اَرْوَاحِ ٱلاَنْبِيَآءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ ، وَاِلٰى اَرْوَاحِ الصَّحَابَةِ وَالتَّابِعِيْنَ ،
وَاِلٰى اَرْوَاحِ الْمُجْتَهِدِيْنَ وَالْمُفَسِّرِيْنَ وَالْمُحَدِّثِيْنَ ، وَاِلٰى اَرْوَاحِ الزُّهَّادِ وَالصُّلَحَآءِ
وَالْعُلَمَآءِ الْعَامِلِيْنَ ، وَاِلٰى اَرْوَاحِ كَافَّةِ الْمُؤْمِنِيْنَ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنَ خُصُوْصًا اِلٰى رُوْحِ
هٰذَا الْمَيِّتِ ، وَنَوِّرْ قَبْرَهُ وَزَيِّنْ بِهِ قَلْبَهُ ، وَبَعِّدْ بِهِ وَحْشَتَهُ وَحُزْنَهُ وَاغْفِرْهُ وَارْحَمْهُ

وَاعْفُ عَنْهُ وَثَبِّتْهُ بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ ، وَسَهِّلْ عَلَيْهِ سُوَالَ الْمَلَكَيْنِ وَكُلَّ صَعْبٍ وَّاغْفِرْ لِاٰبَآئِنَا وَاُمَّهَاتِنَا وَمُعَلِّمِيْنَا ، وَلِمَنْ اَحْسَنَ اِلَيْنَا وَلِمَنْ ظَلَمْنَاهُمْ بِاَيْدِيْنَا وَاَلْسِنَتِنَا ، وَلِجَمِيْعِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ ، وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى نَبِيِّنَا وَشَفِيْعِنَا وَاٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ ، اٰمِيْنَ بِرَحْمَتِكَ يَآ اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ .

**پوه سه** : چی پر مړی باندی په لمانځه کی درې صفه کیدل دمقتدیانو مستحب دی لکه چی په ترمذی ص ۱۲۲ کی راوړی: قال مالك بن هُبيرة اذا صلّى على جنازة فقال النّاس عليها جزّأهم ثلثة اجزآء ثمّ قال رسول الله ﷺ من صلّى عليه ثلثة صفوف فقد اوجب. او په لمانځه کی دجنازې فضیلت په آخری صف کی دی پر عکس دصفونو دپنځو لمونځو ، او تفصیل ددې په ردّ محتار ج ۱ ص ۷۱۱ کی ذکردی، اوڅلویښتو کسانو ته رسیدل دلمونځ کوونکو دجنازې په جنازه کی ، سبب ګرځی دډیر اُمید دبخښنی دمیت. دوجی دحدیث دکریب دابن عباسؓ څخه: قال فانّی سَمعتُ رسول الله ﷺ يقول مامن رجل مسلم يَموت فيقوم على جنازته اربعون رجلاً لا يشركون بالله شيئًا الاّ شفّعهم الله فيه رواه مسلم، اوهم په مشکوٰة ص۱۴۵ کی ذکردی. اوسلو کسانوته رسیدل دلمونځ کوونکو ډیر دطمع سبب ګرځی وبخښنی ته دمیت. لکه مسلم چی دحضرتِ عآئشة ؓ څخه روایت کوی دنبی ﷺ څخه : قال ما من ميّت تصلّى عليه اُمّة من المسلمين يبلغون مائة كلّهم يشفعون له الاّ شفعوا فيه ، او دارنګه ترمذی هم په ج ۱ ص ۱۲۲ کی روایت کړیدی، لکن ځنډول ددفن دپاره دډیر والی دلمونځ کوونکو او معطله کول ددفن تر وخته پوری دلمانځه دجمعې یا تر بلی اجتماع پوری مکروه دی، مطلوب تلوار کول دی پر دفن باندی تر اندازې پوری دامکان ، اودا یو لوی آفت دی زموږ په وطنو کی چی خواص او عوام په مبتلا دی، دپاره دحاضرولو دخلګو اویا دپاره دراتلو ددوستانو اویا دپاره دترتیب داسقاط تاخیر ددفن کولو کوی، سره ددې چی په دې کی تلوار په احادیثو سره مطلوب او مرغوب ګرځیدلی دی. نو باید چی امامان همیشه وصیت په تلوار کولو سره په دفن کی وکړی او اجازه دتاخیر دې دپاره دتلاوت دقرآن او دپاره دادا کولو داسقاط او دنورو نورو شیانو هیڅکله نه ورکوی ، او امام په لمانځه کی دمړی پر نر او ښځی باندی باید چی پر برابری دسینې دمړی ، په فاصله دمقدار دسجدې کولو ودریږی. او

دپاره دروا والی دلمانځه دجنازې مطلق مخامخ کیدل دامام ویوه جُزء ته داجزاوو دمړی کافی دی، په ستونی ستخ والی پوری دمړی او یاپه مخامخ کولو پوری دمړی وطرف ته دقبلې دلمانځه صحت توقف او اړه نلری، پاته سوه خبره په مسنون ډول کی چی کم دی؟ مولانا عبد الحیؒ په مجموع الفتاوٰی کی چی پرهامش دخلاصة الفتاوٰی لګیدلی ده په ج۱ ص ۲۰۰ کی دنهاية څخه نقل کړیدی: وفی حالة الصّلٰوة عليه معترضا علی قفاه آهــــ او په بحر الرآئق ج ۲ ص ۱۷۰ کی دمحیط (البرهانی) څخه نقل کوی: الاضــــطجاع للمريض انواعٌ احدها فی حال الصّلٰوة وهو ان يستلقی علی قفاه والثانی اذا قرب من الموت يضجع علی الايمن واختير الاستلقآء والثالث فی حالة الصّلٰوة علی الميّت يضجع علی قفــاه معترضًا للقبلة والرابع فی اللّحد يضجع علی شقه الايمن ووجهه الی القبلة هٰکذا توارثــت السّنّة آهــ اودلیل نیول ددعوه کوونکو دمخامخ کیدودمړی وطرف ته دقبلې په لفظ دیضجع سره ، چی پربغل پربوتل ددې څخه مرادوی، او په لام د للقبلة سره چی په متضمن کیدوسره دلفظ داعتراض ومعنی ته دمیل آګاهی ورکوی، توجیه بما لا یرضٰی (به قآئله) ده، ولی چی په سرکی ددې مبحث يې اضطجاع دپاره دڅو حالتو تقسیم کړیده، او پردې سربیره مولانا عبد الحیؒ وروسته تر عبارت خپل چی (معترضًا علی قفاه) دی ویلی دی: په همدې ډول صاحب دمحیط راوړی دی اوپه لفظ د هٰکذا توارثت السّنّة سره يې مؤکدکړیدی، ددې څخه ښکاره کیږی چی فهم ددې دلیل نیونکی مقابل کیږی دفهم سره دمولانا عبدالحیؒ، اوپه طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۳۰۵ کی لاندی تردې قول دماتن: وجاز الاستلقآء علی ظهره (يعنی فی الـــمحتضر) لیکی: ويوضع هٰکذا فی الغسل والصّلٰوة قال فی شرح الطحاوی وهو العرف بين النـــاس آهــ نوثابته طریقه ستونی ستخ کیدل دی دمړی نه مخامخ کیدل وقبلې ته ، که څه هم چی زموږ په وطنوکی عرف ګرځیدلی دی، تقلیداً لللاحق بالسّابق من غير تحقيق، لکه چی دا ډول تقلیدونه په ډیرو نورو امورو کی هم واقع سوی دی، فالحقّ احقّ بالاتباع ، او بعضی اشخاص چی صاحبان داستعداد هم دی، دپاره دفهمولو دعبارتو دمؤلّفینو، په دې سبب چی یوه څه مُده يې هغه بې بنیاده امرصرف دتقلیدپه وجه بې له پلټنی په کتابوکی، خپل عادت ګرځولی وو، وروسته تر خبریدو په هغه چاچی مخالف به وو دده دعادت ، سره ددې چی په خپله خطآء به خبر کړل سو، سره ددې يې دخپلو کړو څخه

شرم کوی او اقرار په حق سره او رجوع وحق ته یې ترخه ګڼلی ده ، نو دپاره دغلطولو دعوامو ، دذوق مخالفې شبهاتی اونه تعلق درلودونکی رایی یې، دعبارتونوپه ذکرکولو سره راوړی دی، اوخپل ځان یې په محل کی دمکابر، چی قانونی جواب دده (دعلم مناظرې دلحاظه) سکوت دی، اچولی دی، فاخذته العزّة بالاثم ، سبحان الله آیا نه ګوری چی مجتهدین امامان کله چی قصد کوونکی دحق وه په ډیرو ځایونو کی یې په وخت کی دظهور دقوی دلیل پر خلاف درایی ددوی ، دخپلو اقوالو څخه رجوع کړیده ، نو اقرار په حق سره دلوړو کمالو څخه دی ، بې له نقصانه ، او خدای ﷻ دی خاصر کر ومولانا رحمت الله صاحب ته زیات ثواب ورکړی چی څه ډول یې حق فهمی په دې واقعه کی وکړه .

او لمونځ پرداسی مړی چی پر چارپایی باندی پروت وی جآئز او ثابت دی داحادیثو اوکتابو څخه دمذهب. اولمونځ پر آنحضرت ﷺ مبارك باندی هم په داسی ډول سره چی دی مبارك ﷺ پر چارپایی پروت وو صحابه کرامو ﷺ ادا کی، نوپه دې کی هیڅ وسوسه نه دی کول پکار ، لکن پر هغه تقدیر چی پښې دچارپایی په اندازه دذراع یا تردې هم زیات اوږدوالی لری ، لمونځ ورکول مړی ته پرداسی چارپایی باندی بعض علمآوو مکروه ګڼلی دی، په تجهیز کی دعلامه حامد بوبکانیؒ (الحنفی المتوفی سنة ۱۱۲۲ ه) ذکر سویدی: الاّ انه لَمّا کان للمیت حکم الامام ینبغی ان یکون الصّلوة علیه علی الجنازة مکروهة اذا کان ارتفاعها عن الارض مقدار ذراع والاّ لا ، لانه کالامام وانفراد الامام علی مکان مرتفع قدر الزّراع مکروه آهــ لکن ده په خپله ددې په تعقیب کی لیکلی دی: لکن لَم یتعرّض لهذا التفصیل صاحب المضمرات وقاضیخان وصاحب البحر وحکموا بالجواز مطلقا کما رأیتُ فی جامع الرّموز آهــ نو دلیل ویل دده په قولِ اول سره ډیر عجب دی . اوپه الاشباه والنظآئر کی ذکر دی: لا یکره الصَّلوة علی میّت موضوع علی دکان ولا ینافیه قولهم ان له حکم الامام وهو یکره انفراده علی الدّکان لانّــه معلّــل بالتّشبیه باهل الکتاب وهو مفقود هٰهنا والاصل عدم الکراهیة وبه افتیتُ آهــ اودا بیان ډیر ښه حل دی خصوصا مخکنی کلام لره، اوهغه چی استدلال نیسی په دې قول دشامی ج۱ ص ۲۰۸: وشرطه وضعه علی الارض او علی الایدی قریبًا منها آهــ اودوجی دقیاس پرمحمول علی الدّابة او الاکتاف ، چی فقهآء په عدمِ جواز په دې حال کی حکم کوی، په دې صورت کی هم حکم په عدمِ جواز دلمانځه

کوی، نو باید وپیژندل سی چی په مابینځ کی دمحمول او دموضوع فرق دی چی فقهآء یې راوړی، اوپر جنازه دقسم څخه دموضوع دی فقط ، نو لمونځ پر چارپایی مطلقًا جآئز دی ، مګر ځان ساتل دځای څخه دخلاف دوجی داحتیاط ، دحُسن او ښه والی څخه خالی نه دی.

او هرڅه چی بحث دی په حکم کی دپاکوالي دځای دمړی، نو په دُرّ مختار اوردِّ مُحتار ج۱ ص ۲۰۷ کی او په بحر الرّآئق ج۲ کی په طور داختلاف ، ددې په شرطولو او نه شرطولو کی ذکر دی، او همدارنګه په طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۳۱۹ کی په طور داختلاف ذکر دی، دقنیة او مفتاح او مجتبٰی او تجریدِ اسمٰعیل څخه شرط کیدل دپاکوالی دځای دمړی ذکر دی، نو بنآء پردې روایت لمونځ دجنازی په داسی وخت کی چی مړی پر مردار ځای پروت وی صحیح نه دی، او دکفن حآئل کیدل ، دمړی دبدن او مردار ځای په مینځ کی اعتبار نلری ، ولی چی کفن هم تابع دمړی دی ، لکه کالی دژوندی دپاره ، او دتتارخانیه څخه نقل کوی: سئل قاضیخان عن طهارة مکـــان هل تشترط لِجواز الصّلٰوة علیه قال ان کان المیّت علی الجنازة لا شك انه یَجوز والاّ فــلا روایة لِهٰذا وینبغی الجواز وهٰکذا اجاب القاضی بــدر الــدّین آهـــــ او همدارنګه په طحطاوی کی یې دفوآئد څخه حکم دروا والی نقل کړیدی، که څه هم چی ددې عبارت دراوړلو څخه ، ددې دوو امامانو په نزد باندی ترجیح دروا والی ته ځینی فهمیږی ، اوبعضی نور تائید کوونکی ددې حکم په فقه کی موجود دی، لکن احتیاط ډیر ښه دی، او غوړول دیوې پاکې جامې لاندی ترمړی او لوړ پرمردار ځای باندی کافی دی دپاره دروا والی دلمانځه اتفاقًا اونیت دلمانځې دجنازې دا قدر کفایت کوی : اَللّٰهُمَّ نَوَیْتُ اَنْ اُصَلِّیَ لَكَ وَاَدْعُوْا لِهٰذَا الْمَیِّتِ (که چیری مړی نارینه وو) اویا: لِهٰذِهِ الْمَیِّتِ ( که چیری مړی زنانه وو)، اومقتدی به پردې اندازې باندی لفظ د: اِقْتَدَیْتُ بِهٰذَا اْلاِمَـــامِ ، ورزیات کی، وروسته تردې به لفظ د: اَللّٰهُ اَکْبَر، ووایی په پورته کولو سره ددواړو لاسو تر غوږو خپلو پوری، او لاسونه پورته کول یوازی په دې اول تکبیر کی دی نه په پاته تکبیراتوکی، که چیری مقتدی دومره قدر نیت هم نسوای ویلای ، نو دا هم کفایت کوی چی ووایی: نَوَیْتُ صَلٰوةَ اْلاِمَامِ ، سبحانك اللهم او درود او دُعآء ویل ددوی (مقتدیانو) پر راجح قول سنّت دی، نو که چیری مقتدی عامی وو چی هیڅ یې نه وه اِزده چی وې وایی، نو محضی په څلور

تکبیره ویلو سره دده لمونځ صحیح دی، په فتاوٰی ظهیریة کی دی (نقلاً عن منیة المصلی وفتاوی الحسامی والذّخیرة): لا عقد بعد التکبیر الرابع لانّه لا یبقی ذکر مسنون حتّی یعتمد فالصّحیح ان یَحلّ الیدین ثم یسلّم آهـ وروسته تر سلام دی دعا نه کوی ، لکه چی په خلاصه کی یې ویلی دی: ولا یدعو بعد السّلام ، او همدا ډول په نور الایضاح کی ذکر دی سره دزیادته د: فی ظاهر الرّوایة ، اوپه قنیة کی دابی حامد څخه نقل کوی: الدُّعآء بعد صلٰوة الجنازة مکروه ، اومحمد ابن الفضل ویلی دی: لا بـأس ، او داهم پر خلافِ اَولی دلالت کوی ، کما لا یَخفٰی، ملاّ علی قاریؒ په باب دفن المیّت والصّلٰوة علیه کی وایی: ولا یدعو للمیّت بعد صلٰوة الجنازة لانّه یشبه الزّیادة فی صلٰوة الجنازة یعنی قیامًا علی هیئة الصّلٰوة کما یقتضی تعلیله .

او وخت دلمانځه دجنازې وخت دحاضریدلو دجنازې دی، که چیری جنازه په وختِ ناقص کی لکه وخت دراختو او لویدو دلمر، حاضره سوه ، نوپه تحفه کی یې ذکر کړیدی: الافضل ان لا تؤخّر الجنازة ، شامی په ج۱ ص ۲۲۱ کی وایی: هٰذا تعقیب علی القول بالکراهة التّنزیهیة (لکه چی صاحب ددرِّ مختار لږ مخکی داقول ذکر کړیدی) فانّه اذا کان الافضل عدم التاخیر فی الجنازة فلا کراهیة اصلا وما فی التّحفة اقره فی البحر والنّهر والفتح والمعراج آهـ اوکه چیری په وختِ کامله کی حاضره سوی وه ، نو بیا یې ادا کول په دې درو وختو کی په نزد دصاحب دتنویر الابصار نه دی روا، او پر قول دصاحب دبحر: نقلاً عن الاسبیجابی تصحّ مع الکراهة (ای التحریْمة) ، اوپه دې سره صاحب دنهر هم اقرار کړیدی، او علامه شامیؒ ویلی دی: لکن ما مشی علیه المصنّف (چی اول قول دی) هو الموافق لِما قدمناه عن الحلبی فی الضّابط وللتّعلیل الأتی وهو ظاهر الکنز والملتقی والزّیلعی وبه صرح فی الوافی وشرح المجمع والنقایة وغیرها آهـ . او په فتاوٰی عالمګیری ج ۱ ص ۵۴ کی دی: اذا وجبت صلٰوة الجنازة وسجدة التلاوة فی وقت مباح واخرتا الی هٰذا الوقت فانّه لا یَجوز قطعًا آهـ او په ډیرو کتابو کی دفقه شریفی راوړی چی که چیری لمونځ دجنازې او دوخت لمونځ سره یوځای سوه نو دوخت لمانځه ته تقدیم ورکول کیږی . حلبی په شرح کی دمنیة المصلّی او ابنِ همّام په فتح القدیر کی وایی: چی په وخت کی دماښام دی لمونځ دماښام اول او لمونځ دجنازې دوهم او سنت دماښام دی دریم ادا کړی، اوپه بحر ج۱ ص

۲۵۳ کې راوړي: وفي شرح المنية معزيا الى حجّة الدّين البلخي انّ الفتوٰى على تـــاخير صلٰوة الجنازة عن سنّة الجمعة وهى سنّة فعلى هٰذا تؤخر عن سنّة المغرب لانّها اكد آهـــ .
پاتـه سـو بحـث پـه حكـم كـې ددې ترتيـب چـې دا ترتيـب واجـب دى او كـه مستحب، بحر الرآئق راوړى په ذيـل كـې دشرح ددې قـول دمصنّف ؒ : وقبـــل الغروب اى ومنع عن التنفّل بعد غروب الشمس قبل صلٰوة المغرب آهــــ تـردې پـه لـړ فاصله وروستـه ليكـې: قيدنا بالتّنفل لانّه يَجوز قضآء الفآئتة وصلٰوة الجنازة وســـجدة التلاوة فى هٰذا الوقت كما صرح به غير واحد كقاضى خان وصاحب الخلاصة يعنى من غير كراهية وقد قدمنا انّه يبدأ بصلٰوة المغرب ثم يصلون صلٰوة الجنازة ثم يـــأتون بالسّنة ولعلـــه بيان الافـــضل ، اوهمدارنګـه پـه الاشباه والنظآئر فـن ۳ ص ۵۴۲ كـې پـر يـوه نسخه باندې دا مضمون دى: ينبغى تقديم الجنازة والكسوف حتّٰى على الفرض ما لَـــم يضق وقته، په تحفة الاخياركې يې دې ته تطبيق وركړيدى: مراده غير الجمعة كما هو ظاهر وغير المغرب كما يشير اليه قوله ما لَم يضق وقته اى المستحب وحينئذٍ لا تنافى بين النّقول ، اوبنا پردې ښكاره كيږي چې ذكر سوى ترتيب واجب نـه دى، كـه څـه هم چې دماښام او جمعې پـه لمانځـه كـې پـه سـبب دعـارض دوروسـته كيـدو دماښام دلمانځهٔ ياپه سبب دتشويش پيدا كيدو په جماعت كې دجمعې، په نـزد دبعـضو خـلاف ددې ترتيـب مكـروه دى. او هغـه چـې علامـه شـامى ؒ پـه منحة الخالق كې پر حاشيه دبحر الرآئق په ذيل كې دقول دصاحب دبحر ، پر فضيلت دتقديم دجنازې دلمانځه پرفرضو دماښام په قول سره درملي تنقيد نيسي، حيث قال: الظّاهر ان تقديم صلٰوة المغرب على الجنازة علٰى سبيل الوجوب لتعليلهم بانّ المغرب فرض عين والجنازة فرض كفاية لانّ الغالب فى كلامهم فى مثله ارادة الوجـــوب تامل آهــ نو دا تقاضـا كـوى دتـرجيح دمكـروه والـى دمخكـى كيـدو دلمانځـه دجنازې پر لمانځه دماښام فقط (١)، نه په نورو وختوكې په نزد دده ، اوهغـه يې هم په ذريعه سره دحال او سوق تعليـل وايـي، او سره ددې يې بيـا هم پـه خـتم كـې ددې كـلام وصـيت دتامـل كړيـدى، او پـه فتـاوٰى عـالمګيرى ج ۱ ص۵۴ كـې دى: وتسعة اوقات يكره فيها النوافل وما فى معناها لا الفـــرآئض هٰكـــذا فى النهاية والكفاية فيجوز فيها قضآء الفائتة وصلٰوة الجنازة وسجدة التلاوة كذا فى فتاوٰى قاضى

---

(١). ولې چې اهميت دتنګى دوخت مراعـات كيـږي ، او هرڅه چې پـه پراخـه وخت كـې وى نـو دمخه والي دنفلو پر فرضو باك نه كوى . منه ؒ

خان ، او وروسته تردې يې شمېرددې نه ۹ ځايونو کړيدی، اودهغه په ضمن کې يودا دی: منها ما بعد طلوع الصّبح قبل صلٰوة الفجر كذا فى النّهاية والكفاية ، ومنها ما بعد غروب الشمس قبل صلٰوة المغرب آهـ ددې بيان څخه هوښيار سړی ته په لږ نظر کولو سره زموږ پرمقصود باندی دلالت ښکاره کيږی. او هرڅه چې حکم دمکروه والی دتقديم دلمانځه دجنازې دی پر وختی لمانځه باندی ، نودا په وخت کی دتنگی، دوخت مکروه دی، او دا خاص نه دی په لمانځه سره دجنازې بلکه عام دی، حتّی چی ترتيب دفوآئتو هم ساقطيږی، په فتاوٰی عالمگيری ج۱ ص۵۴ کی دی: ويكره جَميع الصلوات سوى الوقتية اذا ضاق الوقت المكتوبة هٰكذا فى شرح المنية لابن امير الحاج ناقلاً عن الحاوى آهـــ دا حکم می ددې وجی څخه واضح کی چی بعضی امامان دعوامو په مجمعو کی ، سره ددې چی دمخکی ذکر سوی ترتيب مخالفت ترك دافضل دی، ددې خلافِ اولی پر کوونکی سخت انکار کوی ، چی اظهار دنه صحيح کېدو دلمانځه کوی، اودعالِم اومؤمن دحال بې ځايه سپکاوی کوی، اوخوار والی دده په نظر کی دعوامو ښکاره کوی، لکه چی اوريدلی می دی، اوددې ټولو سره دی، دبل مؤمن مسلمان دساتل سوی عزت سپکاوی کول دخپل ځان دپاره کامله دينداری او بُغض فی الله او اظهار دحق گنی، دقبيلی څخه دهغه متل: چی برعکس ايږدی نوم دکافور پر زنجی ، او فرق دمرتبو اودهغو ساتنه کم چی په مقدمه کی ذکر سوه بايد چی مراعات کړی .

## طريقه داسقاط

ددې کار په مشروع والی کی هم دبې مذهبه خلگو نزاع وډير شدّت ته رسيدلی ده ، اوډيری رسالې يې په دې کی راوړی دی، لکه : رسالة النّشاط لحيلة الاسقاط ، اونوری ددې په ډول، لکن بايد وپيژندل سی چی دمشروع والی څخه دنفسِ حيلې هوښيار سړی بايد منکر نسی، چی قصّه دحيله کولو ديوسف ﷺ دپاره دنيولو دخپل ورور په حيلې سره دکاسې په قرآن کريم بې له انکاره ذکر ده ، بلکه په ځای کی داحسان راغلی ده: قال الله تعالى : كَــذٰلِكَ كِدْنَا لِيُوْسُفَ ، او همدارنگه په باره کی دحضرت ايوب ﷺ چی قسم يې کړی وو په وهلو سره دمنکوحې خپلی سل ۱۰۰ تازيانی ، حيله دطرفه څخه دالله ﷻ ورده ته وښوول سوه ، اوپه قرآن کريم بې له انکاره ذکر ده : قـال الله تعالى: وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِبْ بِّهٖ وَلاَ تَحْنَــثْ ، او دارنگه امام بخاری ؒ په خپل

صحيح ج۲ ص۱۰۲۸ کی کتاب الحیله راوړی دی، اوپه معتمدو کتابو کی دفقهِ حنفی ډیری حیلې دپاره داسقاط دشفعې او دحلالولو دقسمو او نوری ، بې له انکاره ذکر دی، نو انکار دمطلق حیلې څخه خلاف دکتاب الله او سُنّت رسول الله اوداقوالو دفقهاوو دی، او ددې ټولو سره باید وپیژندل سی چی په حیلو کی تفصیل دی، بعضی ددوی څخه چی ابطال دحکمتِ شرعی راولی لکه حیله داصحاب السّبت او حیله دیهودو په خوړلو کی دقیمت دوازګو اوداسی نوری حیلې حرامی دی، اوبعضی نوری چی دا ډول نه وی لکه سُرکه کول دشرابو او رنګ کول دپوست دمرداری او داسی نور ډولونه دا جائز دی، اودرسول الله ﷺ څخه مروی دی، اوهرڅه چی فدیه ورکول دی دمړی څخه دپاره دخلاصولو دغاړی دده ، نو داپه احادیثو کی وارد دی، لکه چی رسول الله ﷺ ([1]) هغه وخت چی جنازه دداسی شخص حاضره سوه چی پوروړی وو اوڅه مال یې ترشا هم نه وو پرې ایښی ، او بل صحابی (قتادة ﷺ) وعده دپوره کولو دده دپور وکړه ، تردې وروسته بیا رسول الله ﷺ دجنازې لمونځ پر هغه مړی وکی ، سره ددې چی مخکی تردې یې منع کړی وه دلمونځ ګذارلو څخه ، لکه چی په کتابو کی دحدیثو ذکر دی، اولکه اجازه ورکول درسول الله ﷺ هغه ښځی سوال کوونکی لره په حج کولو سره دځپل مور دطرفه څخه ، چی وې ویل: الله احقّ بقبوله ، او داسی نور مثالونه . او دارنګه په کتابو کی دفقه شریفې ذکر دی ، لکه په جامع الرموز ج ۱ ص ۱۷۱ او ردِّ محتار ج۲ ص ۱۲۳ او نور الایضاح او مراقی الفلاح او طحطاوی ص ۱۰۱ او بحر الرآئق ج۲ ص ۲۸۴ او فتاوٰی هندیه (عالمګیری) ج۱ ص ۲۲۰، او دامام محمدؒ څخه زیادات کی نقل سوی دی، او په منّة الجلیل ص ۲۲۰ کی (چی تالیف دعلآء الدّین ابن ابن العابدین دی) هم ذکر دی، نو په روا والی کی دنفسِ فدیه ورکولو دپاره دفارغه کیدو دذمې دمړی شبه کول نه دی پکار ، اوپه همدې حیله کی داسقاط نفع ده دمړی، ولی چی په دې کی خلاصول دی دغاړی دمړی په لږ مال اندازه سوی سره، ولی چی اداکول دټولو فدیو ډیرمال غواړی، چی دهر سړی سره دومره مال نه وی، اوحاجت وخلاصولو ته دذمې دمړی هم ستنه. او

([1]). کما فی ابو داؤد ج ۲ کتاب البیوع باب فی التشدید فی الدَّین حدیث رقم (۳۳۴۳) والحدیث رواه ایضا النسآئی فی کتاب الجنآئز رقم (۱۹۳۶) . حقّانی عفی عنه

په دې حيلوکی مخالفت داصولوڅخه ددين هم نسته ، ولی چی ددې ډير مؤيّدات دشرع شريفی څخه موجود دی، نو کم شی به يې دجواز څخه مانع سی. او پردې سربيره دتصدّق او خيرات څخه پر هيڅ تقدير باندی نه وزی ، او خيرات دپاره دمړی يومُستحسن کار دی، او هغه څوك چی طريقه ددې اسقاط دقبيلې څخه دعَوْد فی الهبة [۱] بولی ، اوهغه بد اومستکره دی، نو ښکاره خبره ده چی دوی ته فرق په مابينځ کی دعود فی الهبّة او دنيکی کولو نه ښکاره کيږی، ولی چی عود تعلق په اختيار پوری دموهوب لَهُ نلری اوپه دې ځای کی متصدّق عليه په خپل اختيارسره رحمةً علی الميّت بخښنه ددې صدقې و مصدّق ته کوی ، لکه چی دالفاظو څخه دفقير معلوميږی ، او ددې ټوله بيان سره دا مسئله شخصی په کتابو کی دفقه شريفی ، چی وضع سوی دی دپاره دنقل کولو دمذهب ، موجوده او ثابته ده . دهغو څخه يو په منتقی کی، لکه طحطاوی پر مراقی الفلاح په ص ۲۳۹ کی راوړی: فی الدّر المنتقی انّهم اذا ارادوا الاخراج عنه يُحسب عمره بِحسب غلبة الظّنّ ويُخرج منه مدّة الصِّبا وهی اثنا عشر فی الغلام وتسعة فی الجارية ويُخرج عنه بقدرها ان کان عندهم ما يکفی والا تدفع مرارًا آهــ او په نور الايضاح صـ ۱۰۱ کی وايی: وان لَم يف ما اوصی بـــه عما عليه يدفع ذٰلك للفقير فيسقط عن الميّت بقدره ثم يهبه الفقير للولی ويقبضه ثم يدفعـــه للفقير فيسقط بقدره ثم يهبه الفقير للولی ويقبضه ثم يدفعه الولی للفقير وهٰکذا حتّٰی يسقط ما کان علی الميّت من صلواتٍ وصيام ويَجوز اعطآء فدية صلواتٍ لواحد جملة بخلاف کفارة اليمين آهــ په مراقی الفلاح کی په ضمن کی ددې قول دماتن: ان لَم يـــف مـــا

---

[۱]. عَوْدُ فی الهبة : (يعنی رجوع په هبه او بخښنه کی) دې ته وايی چی يو څوك يوچاته يو شی وروبخښی اوبيا بيرته پر خپله بخښنه پښېمانه سی ، په دې باره کی رسول الله ﷺ فرمايلی : العائد في هبته کالعائد في قيئه يعنی هغه څوك چی يو شی يوچاته وروبخښی او بيا بيرته په خپله بخښنه کی رجوع وکړی (يعنی پر پښېمانه سی) داسی مثال لری لکه يو څوك چی خپل قی دوباره خوری. رواه ابوداؤد فی سننه فی کتاب البيوع فی باب الرجوع فی الهبة ، حديث رقم = ۳۵۳۸ ، همدا ډول دا حديث شريف په صحيح البخاری کتاب الهبة حديث رقم = ۲۴۰۰ او رقم = ۲۴۲۸ او رقم = ۲۴۲۹ ، او همدارنگه په صحيح مسلم کتاب الهبات حديث رقم = ۳۰۴۸ ، او رقم = ۳۰۴۹ او رقم = ۳۰۵۰ او رقم = ۳۰۵۱ ، او همدارنگه په سنن الترمذی کتاب البيوع کی حديث رقم = ۱۲۱۹ ، او همدارنگه په سننِ نسآئی کتاب الهبة کی حديث رقم = ۳۲۳۰ ، او ۳۲۳۱، او ۳۲۳۳، تر ۳۲۴۳ پوری او هم په کتاب الرقبی کی حديث رقم = ۳۲۵۰ ، او همدارنگه ابنِ ماجة په کتاب الاحکام کی حديث رقم = ۲۳۷۲ ، او همدارنگه امام احمد بن حنبل دخپل مسند په مسند بنی هاشم کی ، حديث رقم = ۱۷۷۲ ، او په همدې مسند حديث رقم = ۲۰۱۴ ، او رقم = ۲۱۳۸ او رقم = ۲۳۹۸ او ۲۴۹۱ ، او ۲۵۱۴ ، او ۲۸۵۸ ، او ۲۹۷۹ ، او ۳۰۱۱ او همدارنگه حديث رقم = ۳۰۵۳ کی راوړيدی . تخريج : محمّد احمد الحقّانی الافغانی

اوصى به الميّت عمّا وجب عليه من الفدية ، وايي: او لَم يكف ثُلُث ماله او لَم يوص بشيءٍ واراد احد التّبرع بقليلٍ لا يكفى فحيلته لابرآء ذمّة الميّت عن جميع ما عليه ان يدفع ذٰلــك المقدار اليسير بعد تقريره بشيءٍ من صيام او صلوات او نحوهما ويعطيه للفقير بقصد اسقاط ما يريد من الميت بقدره ثمّ بعد قبضه يهبه الفقير للولى او للاجنبى ويقبضه لتتمّ الهبّة وتملك ثم دفعه الموهوب له للفقير بجهة الاسقاط متبرعًا به عن الميت آهــ او همدارنګه په جامع الرموز ج١ ص ١٢١ کی او فتاوىٰ زاهدى نقلاً عن التحقيق ، دا ذکر سوى حيله بيان کړيده او تقرير يې پکښې کړيدى. دا دى بيان دمشروع والى دحيلې داسقاط په لنډ ډول سره ، چې تفصيل يې داوږدوالى سبب ګرځى ، او بايد چې تفصيل يې په نورو ځايوکى وکتل سى که چيرى په دغه قناعت ونسى او مختلفى زړه ربړدوونکى وسوسې په زړه کى دسامع دلامذهبه کسانو دطرفه څخه ولويږى .

**آداب داسقاط :**

بايد وپيژندل سى چې مخکى تر شروع ددورې داسقاط اولاً مراعات ددې يو څو شيانو ضرورى دى : ۱. عمر دمړى بايد چې معلوم کړى ، او که په تحقيقى ډول دهغه عمر نسى معلومولاى ، نودې بيا په اټکل او غالب ګمان سره مقدار دعمر دده مقرر کړى ، او مده دکوچنيوالى دده دې ورڅخه وباسى، که دده دبلوغ وخت په يقين سره معلوم وو ، ددې څخه باقى عمر دې بيا حساب کړى ، اوکه نه وو معلوم ، نو دوولس ۱۲ کاله دى احتياطًا دعمره څخه دنارينه کم کړى ، او دعمره څخه دښځى دى نه ۹ کاله موده دکوچنيوالى کمه کړى ، او دپاته عمره څخه ددې دى دپاره دلمونځو يوازى په برابرى دغالب ګمان اندازه دحيض او نفاس کمه کړى، او پاته عمر دې سره يو ځاى کړى په هرو دواړو صورتو کى ، او حساب دلمانځه دى داسى وکړى چې په هر شبا روز کى دى شپږ لمونځونه شمار کړى پر مذهب دامامِ اعظمؒ ، اودا په يو ځاى کولو سره دوتر چې واجب يې بولى ، او روژى ديوه کال به ديرش ۳۰ وشميرل سى، او ټوله به سره جمع کړى. ۲. فديه دهر لمانځه په مثال سره دفديې ديوې روژې ده پر قولِ مختار او راجح او مفتىٰ به باندى ، يعنى مقدار دنيمى کاسې دغنمو يا داسى بل شى څخه، اويا يوه کاسه داوربشو يا ددې دمثل دنورو شيانو څخه ، اوددې قيمت دې معلوم کړى ددې دپاره چې په موجوده پيسو باندى څو فديې ورکول کيږى ، نودې

پرسر دهر يوه مسكين په هر وار قبض كولو كې دغومره قدر ددغه مجموعه فديو څخه نفي كوي، تر څوچې فديې خلاصې سي. اوبايد وپيژندل سي چې دشرعي كاسې اندازه هغه ده چې وزن ديوه زر او څلوېښت ۱۰۴۰ درهمو تلل سوو په هغه كې ځايږي، اويو پخواني قِران چې لس ۱۰ شاهي وو ، اوس هم زموږ دانداز و مقدار ددغه څخه مقرر دى ، په مقدار ديوه مثقال شرعي دى په وطنونو كې زموږ، اوهر لس ۱۰ درهمه شرعي برابرېږي دووزنه سره داوو مثقالو شرعيه وو ، لكه چې په كتابو كې دفقه شريفې ثابت دي، نو بنآء پردې شرعي كاسه زموږ په وزن سره ، په اندازه داوه سوه اواته ويشت ۷۲۸ قِرانه اندازه سوى شي ځايوي ، چې اوه نيم پاوه او دريمه دخورد كېږي ، او نيمه كاسه پنځلس ۱۵ خورده او شپږمه دخُورد كېږي، لكه چې ددې تفصيل يې په منّة الجليل ص ۲۱۰ او څو نورو كتابو كې كړيدى. لكن ددې په اندازه كولوكې په ماش ياپه عدس (دال) او ياپه غنمو سره ، په دې كې اختلاف دى، په منّة الجليل كې يې ترجيح وغنموته وركړيده ، حيث قال: واعتبار البُرِّ هو الاصل ، او دارنګه يې ويلي دي چې داسې غنم چې پاك وي دهرشي څخه او يا دهغه قيمت معتبر دى ، او ددې وجه څخه بايد چې ترذكر سوي مقدار احتياطًا يوڅه زيات وركړي ترڅو ادا يې په يقين سره حاصله سي . ۳. بايد چې يوڅه مسكينان صالحان را ټول كړي اودوى ته عرض وكړي چې دپاره درحم او شفقة پر دغه اسلامي ورور باندې زموږ چې فعلاً عاجزه دى دخلاصولو څخه دذمې خپلې ددغه حقوقو څخه ، ستاسې څخه كومك غواړم چې دغه مال ، چې دده ترفديوكم دى، هروار چې تاسې ته وبخښل سي اوستاسې په قبضه كې داخل سي او ستاسې دهر يوه دپاره خاص ملك وګرځي ، نو دپاره دمعاونت ددغه مړي سره ، بيرته دوباره يې وروبخښې. ۴. دغني اوكافر او دهغه شخص چې وركول دزكوٰة دمړي وهغه ته منع وي ، په دوره او مجلس كې داسقاط بايد دداخلولو څخه دده پرهيز وكړل سي، او كه اتفاقا يو دداسې كسانو څخه دورې ته داخل سو بايد چې په حساب كې دكمولو دحقوقو يې شمار نكړې ، او دارنګه دداخلولو څخه دنابالغه او دمعتوه او ليوني كه څه هم چې مسكينان وي بايد چې پرهيز وكړي، ولې چې وروسته تر قبض كولو ددوى ، ددوى ملك ګرځي ، او هبه او تبرع ددوى صحت نلري ، نو ددې ډول كسانو (كوچنى او ليوني) داخليدل ډير تاواني دي ومقصد ته تر داخليدو دمخكنى ډول (غني

يا كافر ). او حكم دمريي او دمدبّر مريي او دداسي نورو مريانو هم داسي دي ، كه موجود وه نو دورې داسقاط ته دې نه ورځي .
مال ددورې بايد چي يا داسي پيسې وي چي مړی دهغه وصيت كړی وي، او يا دوارث خپل ملك وي كه څه هم چي په قرض يې اخيستی وي ، او په خواست غوښتل سوی مال به نه وي ، لكه چي په ډيرو ځايو كي ليدل كيږي چي امام يا يو بل بيگانه نفر په ډول دخواست مال جمع كړي او بيا يې په دوره كي داسقاط گرځوي، او دا هيڅ اعتبار نلري پر اكثرو رواياتو باندي ، چي يوڅه بيان به يې مخ ته ذكر سي. ۶. بايد چي دتلوار څخه په قبلولو كي مخكي تر پوره كيدو دايجاب احتراز وكړي ، يعني چي فقير قبلتُ لا نه وي ويلي، مگر وروسته تر پوره كيدو دخبري ، دوركوونكي شخص يا ولي كم چي دوره كوونكي دي ، دي بيا قبلتُ ووايي ، مگر صحيح كيږي وروسته تر پوره كيدو دكلام دفقير ، او ددې مسئلې وجه او سر په علمِ أصول كي ذكر دي. ۷. بايد چي دباقي پربښوولو څخه دهميانۍ يا ددې په مثل دبل شي په لاس كي دفقير په وخت كي دقبض كولو دولي اويا په لاس كي دولي په وخت كي دقبض كولو دفقير، پرهيز وكړي، بلكه هر وار به يې ولي وفقير ته او فقير وولي ته پوره تسليمول كوي چي هيڅ تعلق دذكر سوي مال په هغه بل پوري پاته نسي ، ترڅو چي وركړه او هبه پر ډول دحقيقت واقع سي. ۸. په وخت كي دوركولو او اخيستلو به هر يو دولي او فقير څخه په كوشش او اخلاص سره دا عمل كوي، نه په ډول دمسخرو او دځان ښكاره كولو ، كه نه وي نو دفائدې او ثمرې سبب به نسي. ۹. بايد چي متصرّف دكارو او مالونو دمړي په خپله دوره ددې فديې وكي، ولي چي په منّة الجليل كي دعلآء الدّين او په شفآء العليل كي دابنِ عابدين يې ويلي دي: چي په كتابو كي دمذهب ، په هر ځای كي دتبرع ولي دمړي داعتبار او اعتماد وړ شمېرل كيږي ، او دا قيد دولي او وارث تقاضا دتخصيص دولي كوي په دې كار كي، مگر امامِ شرنبلاليؒ په مراقي الفلاح كي او علامه شيخ اسماعيل په باب الجنآئز من شرحه علي الدّرر كي ، تبرع دبيگانه هم روا بللي ده ، لكن نسبت يې وهيچاته نه دي كړي، او داقول مخالف دي دنص سره دنورو كتابونو لكه متنونه او شروحي اوحواشي ، چي هغو ټولو تخصيص دولي كړيدی ، او امامِ محمدؒ هم په زيادات كي تخصيص دتبرع دولي كړيدی ، نودغه دوه مؤلّفين (يعني شامي او زوي يې) دوره كول دولي

په خپله ډیر احتیاط او بهتره ګڼی ، ترڅو چی دظاهر سره دکتابو دمذهب موافق سی ، او که دولی طریقه ددورې او دورکولو نه وه ازده ، او مشغول اویا مریض وو، نوبیابايد چی وکیل دخپل طرفه څخه ودروی ، په هبه کولو کی دفدیې په وکالت کی ددورې ، په دې عبارت سره چی: ته زما وکیل یې په بخښلو کی ددې فدیې ومسکینانوته زما دطرفه څخه، په دې ډول چی هر وار چی بر طرفه سوې (۱) بیا زما دخوا څخه وکیل یې په دې بخښلو کی دفدیې، ولی چی پر تقدیر دمطلق وکالت په بخښلو کی دفدیې ، په اول وار پوره کیدو سره وکالت ختمیږی چی کار خلاص سی ، او په طلب کولو دهبه کی یې (دفقیره څخه) بیابایدچی خپل قاصد وګرځوی په دې الفاظو سره: او قاصدیې زماپه قبض کولوکی دبخښل سوی مال دمسکینانوڅخه زما دپاره ، ولی چی په طلبولو کی دهبه وکالت نه کول کیږی ، لکه چی په طلبولو کی دقرض نه کول کیږی ، کما هو مقرّر فی موضعه ، لکن استول یې دپاره دقبض کولو دهبې، دپاره ددې ولی صحت لری ، لهٰذا باید چی په بخښلو کی یې دټولی دورې وکیل کړی ، او په قبض کولو کی دهبې یې دفقیر څخه بیا قاصد کړی. **۱۰**. که چیری پر ذمه دمړی حج پاته وو ، نودپاره دخلاصولو دذمې دمړی ددغه حج څخه به ، نیابةً حج کول دیوه سړی معلوموی ، او فدیه ورکول دحج څخه په شرع کی نسته. **۱۱**. دپاره دکفارې دقسم لس ۱۰ واره قبض کیدل ضروری دی ، ولی چی تصریح په شمار سره دلسو ۱۰ مسکینانو په قرآن شریف کی واقع سویده ، اودپاره دکفارې دروژې او دظهار شپیته ۲۰ واره قبض کیدل ضروری دی ددوی وجی چی عدد د سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا ذکر دی، او که چیری شمار دمسکینانو ددورې شپیته نه وو ، نوبه په تکرارولو سره پر دوی باندی شپیته پوره کړی، په فتاوٰی هندیه ج ۱ ص **۵۳۸** کی وایی: لو أعطى من كفارة ظهار مسكينا واحدا كلّه في يوم واحدٍ لا يَجزيه إلاّ عن يومه ذٰلك هٰذا في الإعطاء بدفعةٍ واحدةٍ او إباحةٍ واحدة من غير خلاف أمَّا إذا ملَّكــه بدفعاتٍ فقد قيل يَجزيه ، وقيل: لا يَجزيه إلاّ عن يومه ذٰلك وهو الصحيح كذا في التبيــين آهــ او همدارنګه په ردّ محتار ج۲ ص **۵۹۹** کی ذکر دی، او په دُرّ المنتقی ج۱ ص **۴۲۲** کی دی: وان اعطاه طعام الشّهرين بدفعة لا يَجزيه الا عن يومٍ واحدٍ ولو

(۱). یعنی چی هر وار وکالت خلاص سو په یوه وار ورکولو سره وفقیر ته او بیرته دهغه څخه په قبض کولو سره نوبیا بل وکالت شروع سو ، وهٰکذا الی الانتهآء . حقّانی عفٰی عنه

بتمليكات قيل يَجزيه والاصحّ لا الاّ عن يوم فقط كذا فى النّهر كما فى التّنوير آهــ او په هدايه کی په بحث کی دکفارې دظهار په دې صورت کی ليکی: وامّا التّمليك من مسكين واحد فى يوم واحد بدفعاتٍ فقد قيل لا يَجزيه وقد قيل يَجزئه لانّ الحاجـــة الى التّمليك تتجدّد فى يوم واحد بخلاف ما اذا دفع بدفعةٍ واحدةٍ لانّ التّفريق واجب بـــالنصّ آهــ او په مجمع الانهر ج۱ ص ۴۲۲ کی په همدې عبارت سره ذکر دی ، او په فتح القدير ج ۳ ص ۲۴۴ کی په ذيل کی ددې قول دهدايې يې ذکر کړيدی: وربّما يشعر اقتصار المصنّف بعد حكاية القولين على توجيه هٰذا القول باختياره الاّ انَّ الاوّل احوط ونكتة جوابه منع كون التّمليك لَمّا اقيم مقام الاطعام اعتبر ذاته من حيث هو تَمليك بل يَجب اعتباره من حيث هو اطعام لانه لَمّا اقيم مقام الشَّيء اعتبرت فيه احكام ذٰلك الشَّيء ، او په ابتدآء کی ددې قول يې ذکر کړيدی: وقيل لا يَجوز ايـــضًا الاَّ عن يومه ذٰلك وصحَّحه فى الـــمحيط ، ثُم علَّله مفصَّلاً فليرجع اليه وهٰذا يقتضى ترجيحـــه لعدم الجواز . نوبايد چی شمېر دمجلس وشپيتوته ورسوی، اوکه پيدانسوه نو بايد چی په هره ورځ کی يو وار فديه دکفارې ورکړی ترڅو چی په مختلفو ورځو سره عدد دشپيتو پوره سی ، اودځای ښخه دخلاف ، بلکه دعمل کولو ښخه په ضعيف قول سره ، ووزی . او فديه ورکول په کفاره کی دقتل (¹) مختلف فيه ده. قال فى الشرنبلالية اقول لا يصحّ تبرع الوارث فى كَفارة القتل بشيء

---

(¹). کله چی دلته بحث دکفارې دقتل ذکر سو ، اوزموږ په وطنو کی بعضی اشخاص بې اعتداله په باب کی دلزوم دکفارې پر مور دکوچنی چی په خوب کی يې هلاك کړی ، وعوامو تـه وسوسه وراچوی ، او بې له تحقيقه په سطحی (ښکاره) نظر سره حکم په نه لازميدو سره دکفارې پر مـور باندی کوی ، ځکه نو جواب ددې کتـاب دمؤلّف پـه هغـه وخت کی چی دده ښخه ددې مسئلې استفتآء (پوښتنه) وسوه ، دده ښخه ذکر کوم ، او هغه دادی :

( **استفتآء** ) : محترمه ! په حکم کی دهغه ښځی چی خپل زوی يې په حالت کی دخوب هلاك کړی وی دا پوښتنه کول کيږی ، چی آيا ددې اولاد په قتل سره پر مـور بانـدی يې چی قاتلـه ده کفـاره دقتل لازميږی او که نه ؟ ؟ ؟

( **الجواب** ) : مهربانی ، دعبارتو ښخه دکتـابو دفقه حنفی ظاهره او معلومـه ده چی پـه دې ذکر سوی واقعه کی، دکوچنی پرمور باندی کفاره لازمه ده ، او پر دې سربيره ددې ذکر سوی کوچنی ديّت ، پـر کـورنی ددې ښـځی چی قاتله ده ، او محرومـه کيـدل ددې ښـځی دميراثـه ښخـه ددې کوچنی که يې چيری مال درلودی، هم لازميږی. فی الهدايـة : وما اجرى مَجرى الـــخطآء مثل النّآئم ينقلب على رجل فيقتله فحكمه حكم الخطآء آهــ او تردې دمخه يې حکم دخطآء بيان کړيدی پـه دې عبـارت سره: وموجب ذٰلك ( اى الخطآء ) الكفارة والدّية على العاقلة ويَحرم عن المِيْراث ، هدايـــة ج۴ ص٥٤٥، وفى خلاصة الفتاوٰى ج۴ ص٢٤٦: حكم الخطآء الدّية والكفارة وحرمان المِيْراث، ثم قال بعد =

.....................................................................................................................

= بعد اسطر ، ومنها (ای ومن الخطآء) ان یکون نائما فینقلب علی انسان فیقتله آهـ وفی در المختار : الرابع ما اجری مَجراه (مَجری الخطآء) کنآئم انقلب علی رجل فقتله وموجبه الکفارة والدّیة علی العاقلة ، وضمَّ الیه الشامی فی ردّ المحتار ج ٥ ص ٣٥٢ الحرمان من المیراث ، او همدارنګه په مجمع الانهر او په درّ المنتقی ج ۲ ص ۲۱۷ کی ذکردی، وهٰذه عبارات عدة کتب نقلتها للتبصر، ولکن جَمیع الکتب المعتمدة فی نقل المذهب مصرّحون بهٰذا الحکم ، فانظروا ایُّهَا الاخوان الی اطلاقات العبارات حیث لَم یستثنوا من ذٰلك الحکم فردا من النآئم ولَم یفرقوا بین الامّ النآئمة وغیرها ولَم یفرقوا فی جانب المقتول بین ان یکون قریبًا للقاتل او لا بل صرّحوا بحرمان المیراث فیعلم منه ان فی القریب المقتول ایضًا هٰذه الاحکام ابنًا کان او غیره ، واطلاقات العبارات معتبرة وحجّة ما لَم یوجد لَها تقیید معتبرفی الکتب المعتبرة، وما استدل بعضهم بقول الکافی فی بَحث الصّیام فیما اذا وطی النّآئمة او المجنونة الصّآئمتین لا کفارة علیهما هٰکذا : الا ترٰی انّهما (ای النآئمة والمجنونة) لو قتلا رجلاً خطاء لَم یکن علیهما فی ذٰلك کفارة ولا تَحرمان المیراث آهـ فمردود بما قال فی ردّه السرخسی فی المبسوط ج ۳ ص ۱۳۷ وهٰذا صحیح فی حقّ المجنونة غلط فی حقّ النآئمة فالرّوایة مَحفوظة انّ النّآئم اذا انقلب علی مورثه فقتله تلزمه الکفارة وتَحرم المیراث آهـ وایضًا ما تَمسکوا بما ذکر فی الدّر المختار ج ٥ ص ٥٠٦ فی موانع الارث ، والقتل الموجب للقود او الکفارة وان سقطا بحرمة الابوة علی ما مرّ آهـ غیر صحیح لِما ذکر فی التحریر ج ۲ ص ۳٥۸ . قوله : سقطا لعل حقّه الافراد فانّ الّذی یسقط بحرمة الابوة القصاص لا الکفارة آهـ فهٰذا صریح فی مطلوبنا وحَمل الطحطاوی ج ٤ ص ۳۷۷ قوله : وان سقطا علی الصّورة المخصوصة وهو قتل الوالد ولده عمدا فلا قصاص علیه لِحرمة الابوة ولا کفارة فیه علیه لانّه قتل عمد مع انّه مانع من الارث لانّ اصل موجبه القصاص ولامادة افتراق لسقوط الکفارة بالابوة وغایة متمّنی القآئلین ما ذکر فی جواهر النفیس علی هامش تَجهیز الجنازة ص ۱۲۰ وفی القاضی خان ان انقلب الامّ علی الولد فی النوم فمات الولد قیل لا کفارة علیها بل فیها یذهب عنها سیّآت ستّین سنة (لایصال المصیبة الیها) الا ان یسقط من ید الاب او الام فحینئذٍ یَجب الکفارة کذا فی مُختار الفتاوٰی وقیل یَجب الکفارة علی الام فی قتل الولد فی نومها کذا فی مسآئل النّسآء وفی الواقعات اذا مات الولد بین الابوین فی حالة النوم قیل لا کفارة علیهما لاجل المصیبة علی موته وقیل وجب الکفارة نصرانیه آهـ لکن ینبغی ان ینظروا الی رتبة هٰذا الکتاب اهُوَ من الکتب المعتمدة ویعلموا حال مؤلّفه اهو من المعتمدین ام لا ؟ قال الشامی فی ردّ المحتار ج ۱ ص ٥۰ نقلاً من فتح القدیر : فلا یَجوز الافتآء من الکتب الغریبة ، ثم قال بُعَیْد هٰذا : او لعدم الاطلاع علی حال مؤلّفیها او لنقل الاقوال الضّعیفة فیها آهـ فاقول اوّلاً یعلم من هذا البیان عدم اعتداده واعتباره بثلٰثة وجوه عدم ثبوت توثیق مؤلّفه وغرابته وعدم تلقی الامة به وکثرة الضعاف بل الاغلاط فیه کما یظهر بالمراجعة الیه فلا یصلح ان یکون معارضا للکتب المعتمدة المقبولة بین العلمآء المعتمدین وثانیا ان نقله الاوّل الّذی عزاه الی قاضی خان لَم یوجد فیه بل یوجد فیه ما یقتضی انّه یَجب علیها الکفارة کما ذکر فیه علی هامش الهندیة ج ۳ ص ٤۸٥ فی مسئلة سقوط الولد من یدها وموت الولد بعدم رضاعها =

لانّ الواجب فیها ابتدآءً عتق رقبة مؤمنة ولا یصحّ اعتاق الوارث عنه کما ذکره (یعنی لانّ الاعتاق بلا ایصآء الزام الولآء علی المیّت) والصَّومُ فیها بدل عن الاعتاق لا تصحّ فیه الفدیة کما سیاتی (ای لکون البدل لا بدل له) ولیس فی کفارة القتل اطعام ولا کسوة فجعلها مشارکة لکفارة الیمین فیهما سهوٌ آهـ اوددې په مثل سره دی په عزمیة کی هم ، او په دې سره ابو السعود هم اقرار کړیدی ، لکن په منة الجلیل ص ۲۱۲ کی یې ، نقلاً عن الکافی النسفی ، فرق په مابینځ کی دژوندی او دمړی کړیدی ، چی په ژوند کی روژه دژوندی په کفاره کی دقتل په بدل کی دعتق صحیح ده ، او په مړی کی مرییې آزادول دده څخه منع دی، لِما سبق من الـزام الولآء علی المیّت ، نو روژه دده په حق کی اصل کیږی ، او خوراك ورکول دده څخه هم جآئز کیږی ، اودا حاصل دی دبیان دشیخ اسمٰعیل په شرح درر کی، او په قرار سره دقواعدو داصولو او داقوالو دفقهاوو یې اول قول راجح کړیدی . **۱۲**. کله چی په دوره کی داسقاط فدیه دمختلفو الجنس شیانو موجوده ده نوباید چی ورکوونکی دفدیې عالِم وی چی پوه سی چی فدیه دچشی ورکوم ، دلمانځه ده یا دروژې یا دبل شی، ترڅو چی تمییز وکړای سی ، اوعلم اوپوهه دفقیر پرراجح اومختاره مذهب نه ده ضروری، ولی چی دی محضی بخښونکی دی دخپل ملك وولی ته ، چی دوره کوونکی دی، نه

---

= وقت التعین علیها وامثال هٰذه المسآئل حکم فیها بلزوم الکفارة علی الام ومع هٰذا لَم یذکر بوجه القطع بل ذکره بقیل وقیل فلا یَحکم به بِهٰذا القدر وثالثًا ان فیه تَهافت بین صدره وعجزه ، اذ صدره یقول : ان الام لا کفارة علیها فی قتلها لمصیبتها وعجزها یقول لو سقط الولد من ید الام ومات یَجب مع ان الخطـآء والاُمومیة والمصیبة مشترکة فی الصّورتین وکذا نقله الثانی مع قطع النظر عن غرابة ماخذه وضعفه غیر مَجزوم بِها فی نقله فلا یصحّ الاعتماد علیه ولا ینبغی ان یَجعله احد سندًا لفتواه ویعدل عن کتب المذهب بسببه فتدبّر حق التّدبیر ، واللّٰه الموفق للصّواب ، والحمد للّٰه فی کلّ باب ، والصّلٰوة علی رسوله واحبابه الی یوم یقوم الحساب . تَمَّت .

او وروسته تر استولو ددې جواب ، په تالیفاتو کی دمولوی رحمت اللّٰه مندوخیلی می ددې مضمون پیدا کی چی نظریۀ ددې عالِم وقت موافقه واقع سوی وه دنظریه سره ددې راقم الحروف (مؤلِف) ، فنذکره هٰهنا ، په رحمت بیان ج۲ ص ۴۰۴ کی لیکی: څلورم هغه دی چی قصد یې بالکل نه وی مګر بې احتیاطی ورڅخه وسی لکه چی په خوب کی څوك مړ کړی موجب یې کفارت او دیت دی اګر که ابوین پر اولاد واوړی . آهـ اوپه رحمة الباقیة ص ۷۲۲ کی لیکی : اما کفاره دابوت په کبل (وجه) نه ساقطیږی، اوتردې لږ وروسته یې ویلی دی : او هم دخطا څخه دا دی چی خوبولی (بیده) پر یوچا واوړی لکه چی مور په خوب کی هلك لاندی کړی ، او تردې وروسته یې ویلی دی: قوله: کفاره ده ، اګر که مور زوی لاندی کړی . منه رحمه اللّٰه تعالی

په طريقه داسقاط دمړي څخه ، نوهغه چې بعضې امامان علم دقبض كوونكي هم ضروري بولي پر يوه روايت باندې ، نوهغه مرجوح او ضعيف دي ، لكه دشرنبلالي او شيخ اسمٰعيل څخه چې مو نقل كړه ، اودارنګه ددې ضعف مو درسالې څخه دعلامه شامي" او درسالې څخه دعلآء الدين" هم ذكر كي. اوددې جملې څخه دي هغه چې رواج دي چې فقير په وخت كې دوركولو ودوره كوونكي ته عبارت د: لفظِ مذكوره ، ملګرى كړي دلفظه سره د: هبّه ، خپل ، او همدارنګه اكثره امامان دوره كوونكي ته په اندازه دشمېر دناستو كسانو په دوره كې حساب وركوي ، داټوله بنآء پر روايتِ مرجوح او غير احوط باندې دي، او تحقيق مو مخكې ذكر كې چې دوره كوونكي بايد په خپله ولي يا دده وكيل وي، اوكه داسې نه وي نو اعتبار نلري پر ظاهر روايات باندې ، اوكله چې دا امورو ستاسې په ذهن كې قرار ونيوى ، اوس نو ومطلب ته ځم او وايم چې اول به فديه دلمونځو وګرځوى، كه چيرى پيسې ددورې فديه دسلو لمونځو وي ، دوره كوونكي به داسې الفاظ وايي: **دا مبلغ (پيسې) ددې حاضر مرده دقضآئې لمونځو په اسقاط كې ما وتاته دركړيدي** ، او مسكين به ووايي : **زما قبولې دي، ما بيرته دربخښلي دي**، او ذكر دشمېر دلمونځوپه وخت كې دوركولو ضروري نه دي، بلكه په ذهن كې دي يې په ياد لري چې دپاره دنفې كولو بيا ورته معلوم وي، او دمسكين دخوا څخه ويل دلفظ د : په لفظِ مذكوره ، لكه چې مشهوره ده ، ضروري نه دي، ددې دمشهوره كيدو وجه ، او علت دنه اعتبار ددې الفاظو دمخكې بيان څخه معلوم سو، اوكله چې دا دوره وپاى ته ورسيده نو هرڅومره نفر چې داخل وه په حلقه كې ، پر هر يوه يوه باندې ددوى به سل سل لمونځونه دمجموعي شمار څخه دلمونځو نفې كړل سي، او دوره كوونكي سرې په حساب كې دنفې كولو دخل نلري (يعنې دي نه پكښې شمارل كيږي) لكه چې مخكې ذكر سوه ، او بيابه دوره وكړي ترڅو چې لمونځونه ختم سي، تردې وروسته به فديه دروژو وګرځوي ، اوداسې به وايي: **دا مبلغ (پيسې) ددې حاضر مرده دقضآئې روژو په اسقاط كې ما وتاته دركړيدي** ، اوپه هم هغه ډول به يې نفې كړي ترڅو چې روژرې خلاصې سي، او وروسته تردې به فديه دكِفارو دروژو وګرځوي، او هرڅومره كفارې دروژوچې دده پرذمه وي، يو وار وركول دفديې ديوې كِفارې دپاره داسقاط دټولو كافي دي، ولې چې بنآء دكفارو پر تداخل باندې ده، او همداسې حكم

دی په کفاره کی دقسمو، په منة الجليل ص ۲۲۴ کی وايي: ثم يَخرج كفارة واحدة عما بقي عن ايْمان العمر على قول محمَّد" بتداخلها كما نقله سيدى الوالد عن المقدسى عن البغية عن شهاب الائمَّة وقال صاحب الاصل وهو المختار عندى ومثله فى القهستانى عن المنية ، وهو مذهب الامام احمد بن حنبل" آهـ او داسی الفاظ به وايي: **دا مبلغ (پيسي) ددې حاضر مرده دکفارو دروژو په اسقاط کی ما وتاته درکړيدی** ، او وروسته تر پوره کيدو دشپيتو ۲۰ نفرو قبض کوونکو فديې لره دکفارو دروژو ، به لس ۱۰ قبضه فديه دکفارې دقسمو وګرځوی په دې تورو سره: **دا مبلغ (پيسې) ددې حاضر مرده دکفارو دقسمو په اسقاط کی ما وتاته درکړيدی** ، او قسمونه پر نفی اوپر اثبات فرق نلری ، ټوله په حکم کی دکفارې تداخل کوی، په يوې کفارې سره ټوله ادا کيږی، ولی چی تداخل په حکم کی دی نه په سبب کی، اوحکم ددوی (دقسمو پرنفی او پر اثبات) مختلف نه دی، او که چيری مړی کور داره سړی وو، نو دپاره دکفارې دظهار دده به يې په ډول دکفارې دروژې وګرځوی، پر سر دنکاح دهری ښځی به عليحده او جلا جلا کفاره دظهار ورکړی، ولی چی په سبب داختلاف دمحل دظهار يو په بل کی تداخل نه سره خوری، اوهرڅه چی ظهارونه ديوې ښځی دی ، دټولو څخه يوه کفاره کافی ده ، لکن که يې چيری ښځی ډيری درلودی ، نوبايد چی په دوره کی دکفارو دده جلا والی سره ورکړی، مثلا کفاره دظهار داولی زوجی، او دظهار ددوهمی زوجې، اوددريمی....... دپاره داحتياط او دپاره دوتو دخلافه څخه دامامِ زُفر" ، که څه هم چی زمونږ مذهب دادی چی طعام ورکول ددوو کفارو څخه دظهار بې له تعينه هم کافی دی ، علی خلافِ زفر" ، خوبيا هم احتياط اولی دی، او داسی الفاظ به ووايی: **دا مبلغ (پيسې) ددې حاضر مرده دکفارې دظهار دزوجهٔ اولٰی په اسقاط کی ما وتاته درکړيدی** ، اوبيا په دوهمه پلا لفظ : دکفارې دظهار دزوجهٔ ثانيه ، ووايی ، وهٰكذا تر آخره پوری.

**يوه سه** : چی فديه دسجدهٔ تلاوت په مثال سره دفديې ديوه لمانځه فرضی ده ، علی الاحوط، او لمونځونه اوروژې نفلی چی وروسته تر شروع يې فاسدکړی وی، اويا يې يوشی ددوی څخه نذرکړی وی اوپه هغه يې بيا وفا نه وی کړی، او روژې داعتکاف نذرکړل سوی چی وفانه وی په سوی، او هر څه چی درنګ داعتکاف دی په مسجد کی دافديه نلری، دا ټولو لره حکم دفرضی لمانځه او دفرضی روژو دی په باره کی دفديې. او زکوٰة او اضحيه

او سرسایه او عُشر او داسې نور شیان ، باید چې ددې شیانو پاته اندازه پر ذمه دمړي وګرځوی، نوکه يې چیرې وصیت کړی وو په ادا کولو سره ددې شیانو دطرفه دده، په هرڅومره مقدار چې وی، که دده څخه په پاته مال پوره کیدی سوای ، نو دهغه مال څخه به يې ورکړي ، اوکه په مالل نه پوره کیده نوبیا به يې ادا کول دمخکې په شان په ګرځولو سره په دوره کې ورکړي، او که يې وصیت نه وو کړی لکن په اقرار سره دمړي په وخت کې دڅوند دده، ددې شیانو فوت کیدل معلوم سوی وه ، او یا دده ولیانوته دا معلومه وه چې دا شیان پرذمه دده پاته دي ، نوهم باید چې ددې پاته شیانو دپاره ګرځول په اندازه دادا کیدو ددې وکړي، او الفاظ دادا کولو دهریوه ددې شیانو دې پرقیاس دمخکې عبارتو ووایې، او وروسته تردې دې فدیه دټولو حقوقِ شرعیه وو په اندازه داټکل وګرځوی په دې عبارت سره: **دا مبلغ (پیسې) ددې حاضر مرده دټولو حقوقو شرعیه وو په اسقاط کې ما وتا ته درکړیدی** . اوکه چیرې مړی ددې مجلس ددورې په وړاندې حاضر نه وو ، بلکه غآئب وو نوبیا باید چې نوم دده اودپلار او دنیکه يې ، که چیرې مړی یايې پلار معروف او مشهور نه وو ، پر ځای دلفظ دحاضر ووایي، اوکه يې شهرت درلودی نوبیا دی کفایت په هغه مشهور نوم اخیستو سره وسی، لکه چې په کتابو کې دفقه دا ثابته ده .

**او پوه سه** : چې که چیرې مړی صالح اوعابد او همیشه کوونکی پر ادا کولو دلمانځه او روژې وو، بیا هم باید چې فدیه دټولو لمونځو او روژو دده وګرځوی، احتیاطًا ، ولې چې احتمال دواقع کیدو دخلل او دفوت کېدو دشروطو په لمونځو او روژو کې بیا هم سته ، همدارنګه په شفآء العلیل او منّة الجلیل کې ذکر دي، او وروسته ترفارغه کېدو ددې دورې څخه داسقاط دی دا دعاء وروسته تر حمد او صلوة ، سره دټولو آدابو ددعآء چې مخکې ذکر سوه ، وکړي:

اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ هٰذِهِ الْحِيْلَةَ الشَّرْعِيَّةَ بِحُرْمَةِ نَبِيِّكَ الْمُصْطَفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاجْعَلْهَا لِهٰذَا الْمَيِّتِ نِجَاتًا وَّ اَمَانًا عَنِ التَّقْصِيْرَاتِ وَالنَّقَائِصِ وَفَلَاحًا وَّفَرَاغًا لِّذِمَّتِهٖ عَنِ الْحُقُوْقِ وَمَخْلَصًا مِّنَ الْعِتَابِ وَعَذَابِ السَّعِيْرِ ، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَهٗ مِنَ الْحُقُوْقِ جَبِيْرَةً وَّمِنَ الْمَعَاصِيْ فِدْيَةً وَّاِلٰى رِضَاكَ وَسِيْلَةً وَّاِلَى الْجَنَّةِ قَائِدَةً وَّمِنَ النَّارِ سِتْرًا وَّحِجَابًا ، اَللّٰهُمَّ ثَبِّتْهُ بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ ، اَللّٰهُمَّ ثَبِّتْ قَدَمَيْهِ عَلَى الصِّرَاطِ يَوْمَ تَزُلُّ

اْلاَقْدَامُ ، اَللّٰهُمَّ خصَّهُ بِالرَّوْحِ وَالرَّاحَةِ وَالْمَغْفِرَةِ وَالرِّضْوَانِ ، اَللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ مُحْسِنًا فَزِدْ فِيْ اِحْسَانِهِ وَاِنْ كَانَ مُسِيْئًا فَتَجَاوَزْ عَنْهُ وَلَقِّهِ اْلاَمْــنَ وَالْبُــشْرٰى وَالْكَرَامَــةَ وَالزُّلْفٰى ، وَاغْفِرْ لَنَا وَلِجَمِيْعِ الْمُؤْمِنِيْنَ ، وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّــدٍ وَّاٰلِهِ وَصَحْبِهِ وَسَلَّمَ ، بِرَحْمَتِكَ يَآ اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ .

---

**فآئده** : زمونږ په وطنو کی مشهوره رواج دی چی پر کفن دمړی ، دمخ او تندی پر برابری دده بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ، اوپر برابری دسینې دده لآ اِلٰــهَ اِلاَّ اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ (ﷺ) نوشته کوی، اوپه بعضو ځایو کی پریوې ډبری په بلی ډبری سره دا دوه شیان نوشته کوی ، اوبیا یې په قبر کی دده پر برابری دمخ دمړی ایږدی، اوپه درمختار اوفتاوٰی بزازیه کی پر هامش دهندیة ج ۲ ص ۳۷۲ کی دصفار ځخه روایت کوی: وذکر الامام الصفار لوکتب علــی جبهــة المیت او علی عمامته اوعلی کفنه عهدنامه یرجی ان یغفر اللّٰه تعالی للمیّت ویَجعله امنًا من عذاب القبر قال نصیر هٰذه روایة فی تَجویز عهدنامه مع المیّت آهــــ او دارنګه په در مختار او په تجهیز دحامد بوبکانیؒ ص ۱۴۱ کی ذکر دی: نقل عن الکشاف وعن بعض المتقدّمیْن انّه اوصٰی ان یکتب فی جبهته وصدره بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ففُعل ثمّ رُءِیَ فی المنام فســأل عن حاله فقال لَمّا وُضِعْتُ فی القبر جائَتْنی ملٰئکة العذاب فلمّــا رأو مکتوبًا علی جبهتی وصدری بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قالوا اَمِنْتَ من العذاب آهــــ ددې عبــارتو ځخــه اباحــت دنوشــته کولــو داســماء دالله ﷻ اودقــرآن پــه نقــوشِ محسوسه وو سره برابره خبره ده که پر بدن دمړی وی اوکه پر کفن دده وی ، معلومیږی ، بلکه پر مستحب والی ددې دلالت کوی ، او دارنګه جواب یې دمحقّق ابن الحجر المکی الشّافعی په سوال کی دحکم دلیکلو دعهدنامه په ج۱ ص ۲۳۴ کی نقل کړیدی: فاجاب بقوله نقل بعضهم عــن نــوادر الاصــول للترمذی ما یقتضی ان هٰذا الدّعآء له اصل وان الفقیه ابن عجیل کان یــأمر به ثم افتٰی (یعنی ابن حجر) بِجواز کتابته قیاسًا علی کتابةِ ( للّٰہ ) فی ابل الزّکــاة آهــــ او دا هم مؤیّد داباحت سو ، لٰکن علامّة شامیؒ په تعقیب کی ددې نظر وړاندی کړیدی ، اوتائید دخپل نظر یې په فتوٰی سره دابن صلاح کړیدی چی ده فتوٰی په منع ســره ددې ورکړیــده دوجــی ځخــه دعارضــیدو ددې نوشــتې پــر بــدبویی او سپکوالی او داسی نورو شیانو باندی ، اوپه مابینځ کی ددې کتابت او دکتابت پر اوښانو باندی دزکوٰة یې دا فرق کړیدی چی دا دپاره دتبرّك دی

او هغه دپاره دتميز ، نو قياس ديوه پر بل باندی بايد چی ونسی، اوخپل قول ته يې قوت ورکړيدی په دې سره چی کله فقهآء نوشته کول دقرآن شريف او دآسمآء دالله ﷻ پر درهم او ديوال او فرش باندی مکروه گڼی دوجی دبيری دسپکوالی نودا خو اولی دی په منع سره ، او همداسی دطحطاوی ج۱ ص ۳۸۴ څخه معلوميږی، نو پرېښوول ددې ښه گڼی ، خو سره ددې پر کوونکی ددې کار بې له نصيحته او بې له يادونی دانکار دشامی او طحطاوی او بې له تنبيه ورکولو پر علت دمنع ددې فعل ، نور تشديدات اوزور گيرنی لکه دبعضو امامانو څخه چی ليدل او اوريدل کيږی ، بايد چی ونکړل سی. ولی چی حسد کول اوبد ويل او خوارول دحال دمؤمن خصوصاً دعالِم يقينی حرام دی، سره ددې چی ددې کار دکوونکی سره بعضی اجازتونه دعلماوو په نقل سره دکتابو موجود هم دی، لکه چی دمخکی بيان څخه معلومه سوه ، لکن هغه وخت چی ددې عمل څخه نه راګرځی نو بايد چی پر بدن دمړی او يا پرکفن دده په گوته دشهادت سره درسته لاس بې له نقشِ محسوسه يې نوشته کی، لکه چی علامه شامی ؒ په آخر کی ددې بحث ويلی دی: نعم نقل بعض الــمحشّين عن فوآئد الشّرجی ، ان مِمّا يكتب على جبهة الميّت بغير مداد بالاصبع المسبّحة ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الــرَّحِيْمِ ، وعلــى الصّدر : لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ وذٰلك بعد الغسل قبل التكفين آهــ او دغه ډول بوبکانی ؒ په ص ۱۴۱ کی دمأة الفوآئد څخه نقل کړيدی . او بايد وپيژندل سی چی تعين دوخت قبل التکفين دپاره دنوشته کيدو پر بدن دی، لکه په تأمّل سره چی دا فهميږی، اوکه يې چيری پر کفن ليکی نوبيا يې وخت بعد التکفين قبل الدّفن دی .

او بايد وپيژندل سی چی تلاوت دقرآنِ عظيم دمړی په وړاندی تر وخته پوری دقبر جوړولو دګټورو او مفيدو امورو څخه دی دپاره دمړی، په نزد دعقيدې داهلِ سُنّت والجماعة ، هرڅه چی توهمات دنه اخلاص دی په تلاوت کی اويا طمع دعوض اخيستلو ده پر قرآئت باندی او يادامسی نور توهمات ، نوبايد چی داشيان سبب دانکار دمشروعيت څخه دتلاوت نسی، بلکه همدغه منکرين بايد چی په عوض کی دانکار دتلاوت څخه ، کوشش وکړی په تعليم او اصلاح کی دنيتو او اخلاص کی داعمالو او په ساتلو کی دهغه آلو څخه دآفاتو چی نقصان رسوونکی دی وثواب ته داعمالو ، او خوندور نصيحتونه او شديد زجرونه بايد ښکاره کړی دپاره دپرهيز دعمل

کوونکو دهغو شیانوڅخه چي باطلوونکي دثواب داعمالودي اوډپاره دهغو کسانو چي فساد راوړونکي دي، په بحر الرآئق ج۱ ص ۱۹۵ کي راوړي: ولا بــأس بقرآءة القرآن عند القبور وربّما تكون افضل من غيرها ويَجوز ان يّخفف الله عن اهل القبور شيئا من عذاب القبر اويقطعه عند دُعآء القارى وتلاوته آهــ اوپه بزازية کي چي پرهامش دهندية ده په ج ۴ ص ۹۱ کي ليکي: مات فاجلس وارثه من يقرأ القرآن لا بــأس به وبه اخذ بعض المشايخ ، اوهمدا ډول مضمون موجود دي په طحطاوى على الدر المختار ج۱ ص۳۸۳ اوردّ محتار ج۱ ص۲۳۳ اوتجهيزِ بوبكانى ص ۱۲۱ او فتاوٰى هنديه ج ۱ ص ۱۷۷ کي، اوهم په شرح شرعة الاسلام کي، او ډير کتابونه دمذهب دې ته رخصت ورکوي، اوپه شفآء العليل کي دشامي ؒ په ص ۱۲۸ په وصايا الوالولجية کي ليکي: وزار قبْر صديق او قريب له وقرأ عنده شيئًا من القرآن فهو حسن ، ثم ذكر النّقول الكثيرة من الكتب فى ان قــراءة القرآن بالاجرة لا يَجوز والقارى اِثم لا ثواب لقرآئته وفَرَقَ بين اخذ الاجرة علـــى تعلـــيم القرآن وبين اخذها على قرائته بالضرورة فى التعليم دُون القراءة ثم قال بعد كلام ، وهٰذا بنآء على بطلان الاستيجار على القراءة اذ لا ضرورة فيها بِخلاف التّعليم لا بنآء على انّ القراءة على القبور مكروهة آهــ فاطلب تفصيلها منه .

**فائده** : په حکم کي داوريدونکي دقرآن دباندي تر لمانځه دعلماوو اختلاف دي، يعني څوك چي تر لمانځه دباندي قرآئت په زوره سره وايي او نور خلګ يې اوري، حکم داوريدو دسامعانو اودپټه خوله کيدوددوی څه دی ؟ بيضاوی وايي: عامة العُلمآء على استحبابها خارج الصّلٰوة آهــ او په فتح القدير ج ۱ ص ۲۴۲ کي ذکردي: وفى كلام اصحابنا ما يدلّ على وجوب الاستماع فى الجهــرة بالقراءة مطلقًا قال فى الخلاصة رجل يكتب الفقه وبِجنبه يقرأ القرآن فلا يمكنه استماع القرآن فالاثم على القارى وعلى هٰذا لو قرأ على السّطح فى اللّيل جهرًا والناس نيام ياثم وهٰذا صريح فى اطلاق الوجوب ولانّ العبرة لعموم اللفظ دون خصوص السّبب آهــ او په ردّ محتار ج ۱ ص ۳۸۳ کي ليکي چي حاصل يې ګناه ده پر سامع باندي ، او ترك دي دغوږ نيولو په وخت کي دنه عذر دپاره دده ، او ګناه ده پر قاري باندي په پزوره ويلو کي دقرآن په وخت کي داخته کيدو دسامعينو په يوکار باندي ، او مظهري په ج ۳ ص ۵۰۸ کي وروسته تر نقل کولو دډيرو احاديثو په پزوره ويلو کي چي دهغو تيولو ذکر کول سبب داوږدوالي کيږي ، وايي: فهٰذه

الاحاديث تدلّ علی فساد ما افتٰی به صاحب الخلاصة آهـ او ددې څخه هم ميل دده وطرف ته داستحباب معلوميږي ، او ردِ محتار دشرح څخه دمنية نقل کوی چی حاصل يې دادی چی غورِ نيول فرضِ کفايی دی، په غورِ نيولو سره دبعضو سامعينو دټولو اوريدونکو څخه ګناه ساقطيږی، اوسره ددې بيا هم قاري ګناه کاره کيږي په وخت کی دغورِ نه نيولو دټولو سامعينو، ولی چی دی ضآئع کوونکی دی دحُرمت دقرآن، اوحموی" دخپل أستاذ قاضی القضاة يحيٰی الشّهير بمنقاري زاده څخه نقل کوی: انّ له رسالة حقّق فيهـا ان اسـتماع القرآن فرض عين .

کله چی حال دقاري او اوريدونکو ستاسی په وړاندی معلوم او مقرر سو، نوبايد وپيژندل سی چی په وخت کی درا اړولو دخاورو پرمړي باندی که څه هم چی په ويلو کی دسورةِ مُلك په کتابو کی ترغيب راغلی دی، لکه چی بوبکانی" په ص ١٢٢ کی ليکی: په خانة الجلالية کی راغلی دی چی کله مړی په قبرکی پټ کړی دده څخه سوال کيږی په دې حال کی بايد چی سورةِ ملك ووايی، مخدوم ، وروسته ترپټولو دمړی وملګروته وفرمايل دهرچاچی داسورة په يادوی ودی وايی اوثواب دې يې ده ته وروبخښی، ترڅوچی خدای ﷻ جواب او سوال پرده آسانه کړی، او دعذابه څخه دقبر دی وساتی ، دې سورة ته سورةِ واقيه او مُنجيه هم ويل کيږی آهـ لکن تلاوت ددې سورة دقبر سره په داسی وخت کی چی خلګ اخته وی په دفن کولو سره دمړی لکه داچی رسم او رواج دی په بعضو وطنوکی ، خالی دګناه څخه دقاري او اوريدونکو نه وی، او کله چی قاري ګناه کاره سو ، نوبيا دده قرآئت ثواب هم نلری ، نوپر ځای دطلبولو دفآئدې ضرر ورته راوګرځيدی، او مناسبه ده چی امامان ددې جهر څخه منع وکړی ، ترڅو چی دا رواج په کرار ويلوبدل سی، او نفع او ګټه ورسوی .

او هرڅه چی رواج دی دشاوخوا را ګرځيدو ديوه سړی وروسته تر پټولو دمړی پر قبر دده سره دوهلو دبيل پر مځکه باندی ، او آلې دکيندلو دقبر دطرفه څخه دقبلې ومقابل طرفته پر قبر سربيره هاخواته غورځول ، نودا داسی شيان دی چی دخيرُ القرون او دعصر څخه دامامانو دمذهب نه دی نقل سوی، پاته سوه دا خبره چی دوی ښه مقاصد پکښی لری ترڅو چی بدعتِ حسنه کيږی اوکه نه ؟ نودا هم يقيناً معلومه نه ده ، لکن ددې رواجو په پابندی کولو کی بعضی وايی: چی په وهلو سره دبيل پر قبر باندی ، قبر

معلوميږي چې آياټنيګ دی اوژر نړيږي چې اوس لا معلوم سی په وخت کې دحاضروالی دخلګو چې جوړ يې کړی بيرته ، او مړی به دخوړلو څخه ددرندګانو محفوظ کړل سی، او بعضې وايی چې دافعل دپاره دبيرولو ددرندګانو دی چې پر نښانو باندی دبيل په مځکه کې داګمان کوی چې دلته دام پټ سويدی نوبيرته ليری کيږی، اوپه غورځولوکی دآلاتو دکيندلو شمارل او معلومات دخپلو اسبابو کوی ترڅو چې دورك کيدو څخه محفوظ سی ولی چې اصلی مناسب درول دی دخلګو دپاره ددعا کولو ومړی ته پر طرف دقبلې برابر ومخ ته دمړی ، نو آلې ددې طرف څخه ورته ايږدی ترڅوچې مقابل سی دمخ سره دخلګو اومحفوظ کړل سی، او ماسوا ددې څخه نوری وجهی هم بعضې وايی، چې رفع دعذاب ده په ايښوولو کی دآلاتو، اوپه وهلوکی دبيل راجمع کول دی دمځکی چې په احاديثوکی منقول دی، يعنی هغومره اندازه مځکه چې پرشا وخوا يې بيل ووهل سو په احاطه کی ددې قبر داخليږی ، لکن دا وجهی تعلق په ويښ زړه پوری نه نيسی، ولی دا رفع دعذاب او رابندول دمځکی دهغه جملې څخه دی چې بې له قوی نقله دشارع (ﷺ) څخه نه ثابتيږی، اوپه مخکنيو وجوهوکی هم بعضی نقصان په تامل اوفکر کولو سره ښکاره کيږی ، نو لائقه او احتياطی خبره پرېښوول دی ددې شيانو، اوهرڅه چې فرق دی په آخرنۍ خښتی سره پرقبر دنارينه اوښځی په ايښوولوکی نوددې دپاره ګټه او ښه فآئده موجوده ده، دپاره ددعا کوونکی چې دا پټ مړی نردی اوکه ښځه ، او ددې خبری علم (چې مړی نردی اوکه ښځه) په تعبير کی دالفاظو ضروری او مطلوب وی، او علامه پر قبر باندی دپاره دپيژندلو ددې شخص چې په قبر کی پټ دی هم ثابته ده ، لکه چې حضرت رسول الله ﷺ قبر دعثمان بن مظعون ﷺ په ايښولو سره دغتی ډبری پرهغه باندی ښکاره اومعلومداره کی، کما ذکر فی الاحاديث .

او بايد وپيژندل سی چې دعا وروسته تر دفن کولو دمړی منقوله ده، په فتاوٰی هنديه ج١ ص ١٧٢ کی ليکی: ويستحب اذا دفن الميت ان يَجلسوا ساعة عند القبر بعد الفراغ بقدر ما ينحر جزور ويقسم لَحمها يتلون القرآن ويدعون للميّت كذا في الجوهرة آهـ او وروسته تر دفن کولو دمړی به پر برابری دسينې دده ودريږی او لاندی ذکر سوی دعآء به وروسته تر حمد او صلوٰة ووايی :

## دعا دپاره دمړي وروسته تر دفن کولو دده

اَللّٰهُمَّ هٰذَا عَبْدُكَ وَاَنْتَ رَبُّهُ ، وَاَنْتَ خَلَقْتَهُ ، وَاَنْتَ رَبَّيْتَهُ ، جَآءَ اِلٰى جَوَارِكَ بَاغِيًا عَلٰى نَفْسِهِ جِئْنَاكَ شُفَعَآءَ لَهُ فَتَقَبَّلْ دُعَآئَنَا وَاَعِذْهُ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعَ وَمِنْ شَرِّ كُلِّ ذِىْ شَرٍّ وَّاعْفُ سَيِّاٰتِهِ وَامْحُ عَثَرَاتِهِ ، وَاغْفِرْ اِسْرَافَهُ اَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْهُ وَارْحَمْهُ وَتَجَاوَزْ عَنْهُ وَاَكْرِمْ نُزُلَهُ وَوَسِّعْ مَدْخَلَهُ وَاَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِّنْ دَارِهِ وَاَهْلاً خَيْرًا مِّنْ اَهْلِهِ وَاَعِذْهُ مِنَ النَّارِ وَاَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ ، اَللّٰهُمَّ يَارَاحِمَ الْمُذْنِبِيْنَ وَيَا مُقِيْلَ عَثَرَاتِ الْعَاثِرِيْنَ ارْحَمْ عَبْدَكَ ذَا الْخَطَرِ الْعَظِيْمِ ، وَالْمُسْلِمِينَ اَجْمَعِيْنَ ، وَاجْعَلْهُ مَعَ الْاَخْيَارِ الْمَرْزُوْقِيْنَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ مِّنَ الصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصَّالِحِيْنَ ، اَللّٰهُمَّ افْتَحْ اَبْوَابَ السَّمَآءِ لِرُوْحِهِ وَثَبِّتْ عِنْدَ الْمَسْئَلَةِ مَنْطِقَهُ وَجَافِ الْاَرْضَ عَنْ جَنْبَيْهِ وَاَجِرْهُ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ الْاٰخِرَةِ ، وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهِ وَاَصْحَابِهِ وَسَلَّمَ .

باید وپیژندل سی چې په دې دعآء او نورو دعاوو کې دمړي حال دمړي لکه مذکر والی یا مؤنث والی دده په ضمیرو او صیغو او په ټولو هغو شیانو کې چې په مذکر او مؤنث کې فرق لري باید مراعت کړل سي، یعنی دپاره دنارینه ضمآئر دمذکر او اسمآء اشارت مذکر اوصیغې مذکر ووایې، لکه چې په دې دعاء کې ذکر سوې، او دپاره دښځې دی بیا دا شیان په مؤنث سره بدل کړي، او دا خیال باید چې هیڅ وخت هیر نکړي ، ولې چې سبب دملامتیا او عتاب ونه ګرځي .

## ایضًا دعا دپاره دمړي وروسته تر دفن کولو دده

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى نَوَالِهِ ، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ اٰلِهِ ، اَللّٰهُمَّ ارْزُقْهَا الثَّبَاتَ فِى الْاَمْرِ وَلاَ تَنْزَعْ عَنْهَا سَتْرَكَ وَارْزُقْهَا مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ وَلَذَّةَ النَّظَرِ اِلٰى وَجْهِكَ الْكَرِيْمِ ، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ اَوَّلَ لِقَآئِهَا رَحْمَةً وَّمَغْفِرَةً وَّ اَوْسَطَهُ نِعْمَةً وَّفَلاَحًا وَّ اٰخِرَهُ تَكْرِمَةً وَّنَجَاتًا ، اَللّٰهُمَّ سَهِّلْ عَلَيْهَا سُؤَالَ الْمَلَكَيْنِ وَضَغْطَةَ الْقَبْرِ ، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ قَبْرَهَا رَوْضَةً مِّنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ وَلاَ تَجْعَلْ قَبْرَهَا حُفْرَةً مِّنْ حُفَرِ النَّارِ ، اَللّٰهُمَّ يَمِّنْ كِتَابَهَا وَيَسِّرْ حِسَابَهَا وَثَقِّلْ مِيْزَانَ حَسَنَاتِهَا وَثَبِّتْ اَقْدَامَهَا عَلَى الصِّرَاطِ يَوْمَ تَـزُلُّ

اَلْاَقْدَامُ ، اَللّٰهُمَّ بَاعِدْ بَيْنَهَا وَبَيْنَ خَطَايَاهَا كَبُعْدِ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ ، اَللّٰهُمَّ نَقِّهَا عَنِ الْخَطَايَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْاَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ ، اَللّٰهُمَّ افْتَحْ اَبْوَابَ السَّمَآءِ لِرُوْحِهَا ، وَاجْعَلْ رُوْحَهَا فِيْ اَعْلٰى عِلِّيِّيْنَ ، وَلاَ تَجْعَلْ رُوْحَهَا مُعَلَّقَةً بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ وَلاَ تَجْعَلْ رُوْحَهَا فِيْ اَفْنِيَةِ الْقُبُوْرِ ، اَللّٰهُمَّ نَوِّرْ قَبْرَهَا وَصَدْرَهَا بِنُوْرِ الْاِيْمَانِ وَالْيَقِيْنِ ، اَللّٰهُمَّ سَهِّلْ عَلَيْنَا وَعَلَيْهَا كُلَّ صَعْبٍ بِحُرْمَةِ سَيِّدِ الْاَبْرَارِ ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَآئِبِنَا وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا وَذَكَرِنَا وَاُنْثَانَا ، اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَاَحْيِهِ عَلَى الْاِسْلَامِ وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْاِيْمَانِ ، وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهِ وَاَصْحَابِهِ وَاَتْبَاعِهِ وَاَنْصَارِهِ وَاَصْهَارِهِ اَجْمَعِيْنَ ، اٰمِيْنَ اٰمِيْنَ وَارْحَمْنَا بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ .

دعا په دغه عبارتو سره دپاره دښځې ده ، اوکه چیرې مړی نر وو بایدچې مراعات دمذکر والي په صیغو، ضمآئرو او خبرو کې دهغه وکړي.

## ایضًا دعا دپاره دمړي وروسته تر دفن کولو دده

اَللّٰهُمَّ اَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَفِتْنَةِ الْقَبْرِ ، وَاَعِذْهُ مِنْ فِتْنَةِ النَّارِ وَعَذَابِ النَّارِ ، اَللّٰهُمَّ هٰذَا عَبْدُكَ وَابْنُ عَبْدِكَ ، نَاصِيَتُهُ بِيَدِكَ ، مَاضٍ فِيْهِ حُكْمُكَ عَدْلٌ فِيْهِ قَضَآئُكَ ، نَسْئَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيْتَ بِهٖ نَفْسَكَ ، اَنْ تَجْعَلَ مَغْفِرَتَكَ وَرَحْمَتَكَ رَبِيْعَ قَلْبِهٖ وَنُوْرَ صَدْرِهٖ وَجَلَآءَ غَمِّهٖ وَذِهَابَ حُزْنِهٖ وَهَمِّهٖ ، اَللّٰهُمَّ اَعِذْهُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوْبَتِكَ ، وَاَعِذْهُ بِكَ مِنْكَ ، اَللّٰهُمَّ احْشُرْهُ تَحْتَ لِوَآءِ حَبِيْبِكَ الْمُصْطَفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَاسْقِهٖ بِكَاْسِ نَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَرْبَةً هَنِيْئَةً مَّرِيْئَةً لاَ يَظْمَأُ بَعْدَهَا اَبَدًا ، اَللّٰهُمَّ اَحْسِنْ عَاقِبَتَهُ فِي الْاُمُوْرِ كُلِّهَا وَاَجِرْهُ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ الْاٰخِرَةِ ، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا وَاِيَّاهُ مِنَ الْمَغْفُوْرِيْنَ وَالْمَرْحُوْمِيْنَ وَفِيْ زُمْرَةِ عِبَادِكَ الصَّالِحِيْنَ وَاجْعَلْنَا وَاِيَّاهُ مِنَ الَّذِيْنَ لاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُوْنَ، وَاجْعَلْنَا وَاِيَّاهُ مِنَ الَّذِيْنَ لَهُمْ رَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ وَّجَنَّةُ النَّعِيْمِ ، وَاجْعَلْنَا وَاِيَّاهُ مِنَ الَّذِيْنَ لَهُمْ وُجُوْهٌ نَّاضِرَةٌ اِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَلاَ تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلاًّ لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَا اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ .

او وروسته تر دعا په بعضو ځایو کی مشهوره ده چی امام یو وار فاتحة الکتاب یعنی الحمد لله او دري واره سورةِ اخلاص یعنی قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ تر آخره پوری اوپه اوّل او آخر کی یې درود شریف پر رسول الله ﷺ باندی په زوره وایی ، او په بعضو ځایوکی امام آواز کوی قوم ته چی یو وار الحمد لله او دري واره قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ اوپه اوّل او آخر کی یې درود شریف ووایاست او ثواب یې وروح ته دمړی وبخښی ، که څه هم چی دا عمل هم بې اصله نه دی، لکه چی بوبکانی په ص ۱۲۱ اوشرعة الاسلام په ص ۵۷۷ کی نقل کوی: ویستحب عند دفن الميّت قرآءة هٰذه السّور السّبع والدُّعآء وکذا عند المريض والسّور هی الفاتِحة والمعوّذتان وسورة الاخلاص واذا جآء نصر الله وقل يا ايّها الکٰفرون وانّا انزلنه فی ليلة القدر ، وامّا الدّعآء : اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ بِاسْمِكَ الْعَظِيْمِ وَاَسْئَلُكَ بِاسْمِكَ الَّذِیْ قَامَتْ بِهِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ وَاَسْئَلُكَ بِاسْمِكَ الَّذِیْ هُوَ قِوَامُ الدِّيْنِ وَاَسْئَلُكَ بِاسْمِكَ الَّذِیْ تَرْزُقُ بِهِ الْعِبَادَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ وَّاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ وَارْحَمْنَا وَاِيَّاهُ . او دارنګه یې په شرح شرعة الاسلام ص ۵۸۱ کی راوړی دی: قال احمد بن حنبل رحمه الله تعالی اذا دخلتم المقابر فاقرأوا بفاتِحة الکتاب والمعوّذتين وسورة الاخلاص واجعلوا ثواب ذٰلك لاهل القبور فانّه يصل اليهم کذا فی شرح الخطب آهـ او همدارنګه په همدغه صفحه کی دروضة المتّقين څخه نقل کوی: وعن انس رضي الله عنه عن النّبی ﷺ من مشی لزيارة الاموات وقرأ فی المقبرة فاتِحة الکتاب وقل هو الله احد ثلث مرات والْهٰکم التکاثر مرّة فکانّما قرأ القرٰان ثنتی عشرة الف مرّة آهـ اوپه ردّ المحتار ج۱ ص۷۳۱ کی دی: وفی شرح اللباب ويقرأ من القرٰان ای عند القبر ما تيسّر له من الفاتِحة واوّل البقرة الی المفلحون واٰية الکرسی واٰمَنَ الرّسول وسورة يٰس وتبارك الملك والاخلاص اثنی عشرة مرّةً او احدی عشرة او سبعًا او ثلٰثًا آهـ لکن اولی داده چی اول دسر سره دمړی ودریږی او اول دسورةِ بقرة تر هم المفلحون پوری ووایی بیادې دپښو سره دمړی ودریږی اوخاتمه دسورةِ بقرة داٰمَنَ الرسول څخه تر آخره پوری دسورة دی ووایی ولی چی منقول په کتابوکی داحادیثو اوثابت درسول الله ﷺ څخه همداسی دی، اوپه شامی ج۱ ص ۷۳۱ کی ذکردی: فقد ثبت انّه عليه الصّلاة والسّلام قرأ اوّل سورة البقرة عند رأس ميّت واٰخرها عند رجليه آهـ او وروسته تر قرآئت دقرآن دی دلته هم یاهغه دعا وکی چی په مخکی کی وروسته تر تلاوت دقرآن ذکر سوه، او

یا دی دا دعاء وکړی :

اِنَّا لِلّٰہِ وَاِنَّا اِلَیْہِ رَاجِعُوْنَ ، اَللّٰھُمَّ ارْفَعْ دَرَجَتَہٗ فِی الْمَھْدِیِّیْنَ ، وَاکْتُبْہُ فِیْ الْعِلِّیِّیْنَ ، وَاخْلُفْہُ فِیْ عَقْبِہٖ فِیْ الْغَابِرِیْنَ ، اَللّٰھُمَّ لاَ تُحَرِّمْنَآ اَجْرَہٗ وَلاَ تَفْتِنَّا بَعْدَہٗ ، وَاغْفِرْ لَنَا وَاِیَّاہُ ، اَللّٰھُمَّ ارْزُقْ لِاَقْرِبَآئِہٖ صَبْرًا جَمِیْلاً وَّ عَلٰی صَبْرِھِمْ اَجْرًا جَزِیْلاً وَّارْزُقْھُمْ خَلَفًا صَالِحًا نَّافِعًا وَّعَمَلاً مَّرْضِیًّا مَّرِیْحًا وَّاَخْلاَقًا حِسَانًا رَّضِیًّا ، اَللّٰھُمَّ احْفَظْنَا مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَیِّاٰتِ اَعْمَالِنَا رَبَّنَآ اِنَّکَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ، رَبَّنَا مِنَّا الدُّعَآءُ وَاِلَیْکَ الْاِجَابَۃُ وَمِنَّا الْجُھْدُ وَعَلَیْکَ التُّکْلاَنُ ، وَصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَی النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ وَعَلٰی کُلِّ عَبْدٍ مُّصْطَفٰی اِلٰی یَوْمِ التَّنَادِ .

**كه چیری مړی نا بالغه وو نو وروسته تر حمد او صلوة به دارنګه دُعآء وکړی :**

اَللّٰھُمَّ اجْعَلْہُ لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْہُ لَنَآ اَجْرًا وَّذُخْرًا وَّاجْعَلْہُ لَنَا شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا ، اَللّٰھُمَّ ارْحَمْ عَلٰی وَالِدَیْہِ وَاغْفِرْھُمَا وَثَقِّلْ بِہٖ مَوَازِیْنَ حَسَنَاتِھِمَا وَاَعْظِمْ بِہٖ اُجُوْرَھُمَا وَارْفَعْ بِہٖ دَرَجَاتِھِمَا فِی الْجِنَانِ یَا ذَا الْجُوْدِ وَالْکَرَمِ وَالْاِحْسَانِ ، اَللّٰھُمَّ اجْعَلْہُ فِیْ کَفَالَۃِ اِبْرَاھِیْمَ وَالْحَقْہُ بِصَالِحِیِّ الْمُؤْمِنِیْنَ ، وَاغْفِرْ اَللّٰھُمَّ لِجَمِیْعِ الْمُؤْمِنِیْنَ وَالْمُسْلِمِیْنَ وَصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی آھـ

كه چیری پرځای دنارینه انجلۍ نابالغه اویا لیونۍ وه، نوبایدچی ضمیرونه او صیغې مؤنثې راوړی، یعنـې پـر ځـای د اجْعَلْـہُ ، اجْعَلْھَا ، او پرځـای د شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا دي شَافِعَۃً وَّمُشَفَّعَۃً ، او پرځای د وَالِدَیْہِ دي وَالِدَیْھَا او پـر ځای د بِہٖ دي بِھَا او پرځای د اَلْحَقْہُ دي اَلْحَقْھَا ووایی.

اوبایدزده کړل سی چی تعزیه عبارت ده دتسلی ورکولو څخه وغمجن زړه ته ، په ښو وعظو سره او خبرول دی ددې غمجن شخص په هغو ثوابو سره چی مرتّب دی پرصبر کولو باندی پرمصیبت، اوکومك کول دی په داسی کارو کی چی سبب ګرځی دسپك والی دغم ، اوپه دې باره کی کوشش کول ثواب دی ، نـه داچی پـه زوررو خبـرو اوداسـی حرکـاتو کولـو سـره چـی سـبب دزیاتوالی دغم ګرځی دغجمن سره ملاقات وکړی ، لکه داچی ددې عصر داکثـرو خلګـو عـادت ګرځیـدلی دی، او دهغـه غمجـن پـه وړانـدی اظهـار دقرابت اومحبّت دمړی سره کـوی ، اودا ډول تعزیـه ممنـوع او خـلاف ده

دحقيقت څخه دتعزيې (١) ، بلکه دي ته په حقيقت کې اجتماع (راټوليدل) دپاره دنوحې ويل کيږي چې دعاداتو څخه دمشرکينو او دجاهلينو وه ، اوپه بحر الرآئق ج۲ ص ۱۹۲ کې ذکردي: التّعزية للمصاب سنة للحديث مَنْ عزى مصابًا فلهُ اجرٌ مثل اجره ، فى المتانة من بستان الفقيه ابى اللّيث قال التعزية لصاحب المصيبة حسنٌ وهو ماجورٌ فى ذٰلك ، وقد جآء فى الاثر عن النبى صلى الله عليه وآله وصحبه وسلّم قال حق المسلم على المسلم ان يعزيه اذا اصابتهم مصيبة .

او وخت دتعزيې دوخته څخه دقبض کيدو دروح تر درو ۳ ورځو پورې دی ، او تعزيه توقّف پر دفن کولو دمړی نلری بلکه عامه ده ، فى الدّر المنتقى ج ١ ص ١٨٧ : ويستحب ( اى التعزية ) قبل الدفن . او وروسته يې بيا تعزيه تر درو ۳ ورځو پورې ذکر کړيده ، او تر درو ورځو زياته تعزيه مکروه ده ، مګرنه دپاره دغآئب برابره خبره ده که معزى (تعزيه ورکوونکې وى دا غآئب) وى اوکه معزى اليه (هغه څوك چې تعزيه ورکول کيږى) وى، چې په وخت دحاضريدو دده دپاره باك نلرى ، فى الفتاوى الهندية ج ١ ص ١٧٧ التّعزية لصاحب المصيبة حسن كذا فى الظّهيرية ، وروى الحسن بن زياد اذا عزى اهل الميّت مرّة فلا ينبغى ان يعزيهم مرّة اُخرٰى كذا فى المضمرات . او ددې تعبير څخه دتعزيې دتکرار مکروهِ تنزيهى والې معلوميږى . او طحطاوى ددرِّ مختار په ص ۳۸۳ کې تصريح کړيده په مکروهِ تنزيهى کيدو سره دتکرار دتعزيې: ووقتها من حين يَمــوت إلى ثلاثة أيّام ويكره بعدها إلا أن يكون المعزي أو المعزى إليه غائبا فلا بأس بها وهي بعد الدّفن أولىٰ منها قبله وهٰذا إذا لَم يَرَ منهم جزع شديد فإن رئُي (٢) ذلك قُدِّمَتِ التّعزية ويستحب أن يعم بالتعزية جَميع أقارب الميّت الكبار والصغار والرّجال والنسآء إلا أن تكون امرأة شابةً فلا يعزيها إلا مَحارمها ، كذا في السّراج الوهاج . آهــ

او هغه شخص چې حاضروى مګر ددې مړى په مرګ ناخبره وى دده حکم دغآئب دى، لکه چې شامى په ج١ ص ۲۳۰ کې ذکر کړيدى، اودقبر په وړاندى تعزيه ورکول يې په درِّ مختار کې مکروه ګڼلى دى، او شامى په ج

(١). په درّ المنتقى ج١ ص١٨٧كې دى: الا انّ الافراط فى مدحه مكروه لاسيما عند جنازته ففيه قـــال صـــلى الله عليه وآله وصحبه وسلّم ( من تعزى بعزى الجاهلية فاعضوه بِهنَّ ابيه ولا تكنوا ) . منه "

(٢). ليعلم انه قد كان العبارة المذكورة فى الجرأة الائمة الفارسية هٰكذا: رُوى، بالواو ، وهو تحريف من الناســخين، فان اصل العبارة كما فى الهندية ج ١ ص ١٧٧ هٰكذا: رُئِىَ، بالهمزة، وهو موافق للمقام، فاثبتناه من الاصل. الحقّانى

١ ص ١٣٠ کی دابنِ شاهین او هغه دابراهیم څخه نقل کړیدی چی: التعزیة عند القبر بدعة آهـ
او کښېنستل پر دروازې دسرای خپل دپاره دتعزیې مکروه دی، دا ډول په هندیه کی نقلاً عن الظهیریّة او په شامی کی ذکر دی، اوشامی ددې په علت کی وایی: لانّه عمل اهل الجاهلیة وقد نُهی عنه . اوپه مسجد کی په کښېنستلو کی دپاره دتعزیې عبارتونه مختلف دی: ددرِّ مختار څخه ددې کراهیت فهمیږی، او شارح دمنیة او صاحب دفتح القدیر بیا یقین کړیدی په مکروه والی سره ددې، او عبارت دبحر متضارب دی، اول وار دهغه څخه جواز معلومیږی اوآخر یې پر کراهیت باندی دلالت کوی ، لکه طحطاوی چی په ج١ ص٣٨٣ کی ددې بیان کړیدی، اوشامی وروسته تر نقل کولو ددې قول، استدراك کړیدی ددې قول په قول سره دظهیریة (چی لږ وروسته به ذکر کړل سی) ، اوپه هندیة ج ١ ص ١٧٧ کی وایی نقلاً عن الظهیریة : ولا بأس لاهل المصیبة ان یَجلسوا فی البیت او المسجد ثلثة ایّام والنّاس یأتونَهم ویعزونَهم آهـ او تائید ددې کوی هغه چی رسول الله ﷺ ته په هغه وخت کی چی خبر دوژلو دجعفر اودزید بن حارثه ورسیدی نوپه مسجد کی کښېنستی ، والناس یأتونه ویعزونه ، لکه چی په بحر الرآئق ج٢ ص ١٩٣ کی ذکر دی، که څه هم چی بعضی وایی چی کښېنستل دنبی ﷺ اتفاقًا وه نه په قصد سره دتعزیې اخیستلو، او هندیه دظهیریة څخه په ج١ ص ١٧٧ کی ، او شامی دبحر څخه په ج١ ص ٢٣٠ کی نقل کوی: وما یصنع فِی بلاد العجم من فرش البسط والقیام علی قوارع الطُرُق من اقبح القبآئح آهـ
افسوس دی پر حال دهغو خلګو چی په وخت کی دمصیبت اودحضور دواعظ دمرګ هیڅ عبرت نه اخلی، بلکه په عوض کی ددې فرشونه او خوراکونه اودریآء کارونه او تکبّر په حال کی دتعزیې ښکاره کوی، او افسوس دی پر لیدونکو ددې غیرِ شرعی شیانو باندی چی چپ او پټه خوله وی بلکه په راضی او قانع او ددوی سره یوځای ناست وی، او دا دقوم دهلاکت او خرابوالی سبب دی، لکه چی په حدیث شریف کی راغلی دی چی کله چی علمآء دبنی اسرآئیلو دشرعی دمخالفینو سره خوشحاله کښېنسته او پټه خوله سوه دا ددوی دهلاکت سبب سو، نو لازمه ده چی علمآء په دې حالت کی زیات وعظونه وکړی ، او کارونه دعوامو خلګو

موافق کړی داجازې سره دشرع متين ، اوپابند درسم او رواج دعوامو نسی چی مخالف وی دشرعی شريفی سره ، که نه وی نو فرق په مابينځ کی دجاهل او ړانده عالِم دبينا عالِم سره څه سو ، او دخدای ﷻ دلاری خلګ بايد چی دملامتيا څخه دملامتی کوونکی بيريدونکی او خآئفين نسی، ولا حول ولا قوّة الاّ بالله العليّ العظيم .

او بايد وپيژندل سی چی مقصد او مطلب دتعزيې څخه باعث کول دی دغم ځپل سوی شخص پر صبر کولو باندی پر مصيبتونو اوپر راضی کيدو په قضآءِ الهی سره ، او ليری کول دی دوسوسو او ناوړه فکرو دزړه څخه ددې غمجن چی مدهوش او مجذوب سويدی په سبب دغلبې دتکليف دمصيبت پرده باندی ، ولی چی غلبه دغم او حزن دغم ځپل سوی شخص عقلی ادراک اوپوهه کمزوری کوی، که څه هم چی دا غم ځپل سوی شخص عالِم او عاقل او پوه سړی وی، لکه چی په صدمهٔ او تکليف کی درحلت دسرورِ کآئنات فخر الموجودات ﷺ ، چی اکثره صحابه کرام ﷺ سره ددې چی دوی ﷺ دخير القرون دزمانې وه اوتعليم يې حاصل کړی وو دمدرسې څخه دجناب نبی ﷺ ، په دهشت اوحيرت کی واقع سوی وه، لکه چی داپه خپل ځای کی متقرّره او ثابته سويده. نو بايد چی غمجن شخص ته يادونه ، دمعاملو دقضآء الهی او اسرار او کيفيتونه دابتلآء او امتحان دمکلفينو په واسطه دغمو اوعوارضو، وکړی اوبايد چی آګاه يې کړی په هغه کاميابيو او مرتبو او ثوابو چی پر تسليمولو دحکمِ الهی مرتب کيږی ، ددې دپاره چی دده زړه دپردې څخه دحيرت او مدهوشی راووزی، اوسبب سی دپاره دسپکوالی دغم او تکليف پر ده باندی ، او دارنګه يو حکمت په مشروع والی کی دتعزيې اطمينان دی دزړه دغم ځپل سوی شخص، په ښکاره کولو سره دمحبت او هم ږغه کيدو دهمسايګانو او خلګو دده سره ، ولی چی دغمجن شخص غم په يوازی والی او غربت سره نور مضاعف او زياتيږی، او په حاضريدو او متوجّه کيدو سره ددوستانو دا بار سپکيږی ، اوحديث د : المؤمنون كبدنٍ واحد اذا اشتكى منه عضوٌ واحد اشتكى كلّه ، هم دې طرف ته اشاره کوی، نوبايد چی په وخت کی دتعزيې هغه آياتونه ، چی مشتمل وی پر تسلی او اجر ورکولو او صبر کولو باندی ، اول ووايی چی مقصد دتعزيې حاصل سی لکه دا آيتونه: يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ إِنَّ اللهَ مَعَ الصَّابِرِيْنَ (۱۵۳) وَلاَ تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَآءٌ وَّلٰكِنْ لاَّ

تَشْعُرُوْنَ (١٥٤) وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِيْنَ (١٥٥) الَّذِيْنَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ قَالُوْا إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ (١٥٦) أُوْلٰئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُوْلٰئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ .

اويادي نور آياتونه چې په ذکر اوتنبيه کې ددې مُماثل وی، ووايی،او وروسته تردې دي يا هغه دعآء وکړی چې په کښېنستلوکی ترمقبرې دباندی ذکر سوه ، اويا دی دا دعاء وکړی :

## دعا په وخت کی دتعزيې ورکولو :

اَللّٰهُمَّ فَالِقَ الْاِصْبَاحِ وَجَاعِلَ اللَّيْلِ سَكَنًا وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ حُسْبَانًا نَّسْئَلُكَ الْعَفْوَ وَالرَّافَةَ وَالْمَرْحَمَةَ لِهٰذَا الْمَيِّتِ الْمَعْهُوْدِ ، وَانْشُرْ عَلَيْهِ مِنْ بَرَكَاتِكَ وَاسْتُرْهُ بِسَتْرِكَ الْجَمِيْلِ ، وَنَسْئَلُكَ لِاَوْلِيَآئِهِ الصَّبْرَ وَالْقَنَاعَةَ وَالرَّجْعَةَ فِيْ الْآئِكَ وَالنَّظْرَةَ اِلٰى حِكْمَتِكَ الْاَتَمِّ وَالْاُجْرَةَ تَكُوْنَ ذَرِيْعَةً لِّسَكِيْنَةِ هَمِّهِمْ وَنَجِّهِمْ مِّنَ الْاٰفَاتِ وَالْاَمْرَاضِ وَالْمَصَآئِبِ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْهُ وَارْحَمْهُ وَتَجَاوَزْ لَهُ عَمَّا تَعْلَمُ بِهِ وَاَنْتَ الْاَعَزُّ الْاَكْرَمُ وَاَنْتَ خَيْرُ الرَّاحِمِيْنَ ، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الصّٰبِرِيْنَ الَّذِيْنَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ قَالُوْا إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ ، وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلَّمَ .

## ايضًا دعا په وخت کی دتعزيې ورکولو :

اَللّٰهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَآ اَعْطَيْتَ وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ فَاعْطِ لِاَقْرِبَآئِهٖ صَبْرًا جَمِيْلاً وَّخَلَفًا صَالِحًا وَّاَجْرًا جَزِيْلاً يَّكُوْنُ ذَرِيْعَةً لِّنَيْلِ الدَّرَجَاتِ وَالْمَنَازِلِ لَهُمْ فِيْ جَنَّةِ نَعِيْمٍ ، وَارْزُقْهُمْ عِوَضًا خَيْرً لَّهُمْ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ يَكُوْنُ قُرَّةَ اَعْيُنِهِمْ وَرَاحَةَ قُلُوْبِهِمُ الْمَحْزُوْنَةَ ، اَللّٰهُمَّ اَنْتَ اَكْرَمُ الْاَكْرَمِيْنَ اَعْطِ لَهُ مَآ اَنْتَ اَهْلٌ لَّهُ وَلاَ تَعْطِ لَهُ مَا يَسْتَحِقُّ بِهٖ ، اَللّٰهُمَّ يَمِّنْ كِتَابَهُ وَيَسِّرْ حِسَابَهُ وَثَقِّلْ مِيْزَانَ حَسَنَاتِهٖ وَثَبِّتْ اَقْدَامَهُ عَلَى الصِّرَاطِ يَوْمَ تَزِلُّ الْاَقْدَامِ ، اَللّٰهُمَّ يَا مُجِيْبُ دُعَآءِ الْمُضْطَرِّيْنَ رَحْمٰنَ الدُّنْيَا وَرَحِيْمُ الْاٰخِرَةِ اِسْتَجِبْ دُعَآئَنَا وَاسْتِغَاثَتِنَا وَاغْفِرْ لَنَا وَلِاَقْرِبَآئِنَا وَلِجَمِيْعِ الْمُؤْمِنِيْنَ اٰمِيْنَ ، بِرَحْمَتِكَ يَآ اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ ، وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى الخ

اويا دى هغه دعا وروسته تر حمد او صلاة ووايي چي دهغې مضمون رسول الله ﷺ وحضرتِ معاذ رضي الله عنه ته ور استولی وو په وخت کی دوفات دزوی دده ، لکه چی په متانة او جمع الجوامع کی ذکر دی.

**ايضًا دعا په وخت کی دتعزيې ورکولو :**

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمَيِّتِ هٰؤُلَآءِ الْمُصَابِيْنَ وَتَجَاوَزْ عَنْهُ وَتَغَمَّدْهُ بِرَحْمَتِكَ وَارْزُقْهُمُ الصَّبْرَ عَلٰى مُصِيْبَتِهِمْ وَالْاَجْرَ عَلٰى مَوْتِهِ ، اَللّٰهُمَّ اَعْظِمْ لَهُمُ الْاَجْرَ وَاَلْهِمْهُمُ الصَّبْرَ وَارْزُقْنَا وَاِيَّاهُمُ الشُّكْرَ فَاِنَّ اَنْفُسَنَا وَاَمْوَالَنَا وَاَهْلَنَا وَاَوْلَادَنَا مِنْ مَّوَاهِبِ اللهِ الْهَنِيْئَةِ وَعَوَارِيْهِ الْمُسْتَوْدَعَةِ وَاِنَّا نَسْئَلُهُ الشُّكْرَ عَلٰى مَآ اَعْطٰى وَالصَّبْرَ اِذَا ابْتَلٰى ، اَللّٰهُمَّ احْفَظْنَا مِنَ الْجَزْعِ الَّذِىْ يَحْبَطُ اَجْرَنَا فَنَنْدِمُ وَنَسْتَحْسِرُ وَلَا يَرُدُّ مَيِّتًا وَّلَا يَدْفَعُ حَزَنًا ، وَاغْفِرِ اللّٰهُمَّ لِجَمِيْعِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَبَشِّرِ الصَّابِرِيْنَ الَّذِيْنَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ قَالُوْا إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ .

او بايد چی په دې دعاوو کی هم حال دمړی لکه مذکر والی او مونث والی دضمآئرو او دصيغو په دقيق نظر سره مراعات کړی، او په تعزيه کی دنا بالغه مړی دی آياتونه دتسليې او يا دعا دپاره دکوچنی چی دقبر سره تيره سوه ، وکړی ، او يادې په لاندی ډول دعا وروسته تر حمد او صلاة ووايي:

**دعا په وخت کی دتعزيې ورکولو دمصيبت څخه دکوچنی :**

اَللّٰهُمَّ اَصْبَحْنَا لَا نَسْتَطِيْعُ دَفْعَ مَا نَكْرَهُهُ ، وَلَا نَمْلِكُ نَفْعَ مَا نَرْجُوْهُ ، وَاَصْبَحَ الْاَمْرُ اِلَيْكَ ، لَا تَجْعَلْ مُصِيْبَتَنَا فِىْ دِيْنِنَا ، وَلَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا اَكْبَرَ هَمِّنَا ، وَلَا تُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لَّا يَرْحَمْنَا يَا حَيُّ يَا قَيُّوْمُ ، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهُ لَنَآ اَجْرًا وَّذُخْرًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا ، اَللّٰهُمَّ لَا تُحَرِّمْنَآ اَجْرَهُ وَلَا تَفْتِنَّا بَعْدَهُ وَاخْلِفْ لَنَا مِنْهُ خَلَفًا صَالِحًا نَّافِعًا تَقِرُّ بِهِ اَعْيُنُنَا وَتَحْيٰى بِهِ قُلُوْبُنَا ، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الصَّابِرِيْنَ الَّذِيْنَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ قَالُوْا إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ.

## تتمّة په متعلقاتو کی دمباحثو دمړی :

اودا مشتمله ده پرڅو بحثو باندی:
اول بحث دی په بیان کی دکیفیت دکفن دمړی:
کله چی کفن ورکول مړی ته غالبًا تعلق په امامانو پوری نلری بلکه دغسل ورکوونکی وظیفه وه ، ځکه مونو په ترتیب کی دبیان نکړه درج ، او ددې دلواحقو څخه مو وشمېرل ، ولی چی فی الجُملە ضرورت وپیژندلوته دکم (اندازې) او کیف (ډول) دکفن کله کله واقع کیږی ، نو باید وپیژندل سی چی دنارینه مړی دپاره برابره خبره ده که بالغ وی اوکه مراهق (١) ، درې جامې کفن ورلره سنت دی: ١. قمیص دغاړی دمړی څخه تر پښو پوری دمړی، داپې اوږدوالی دی، او برداروالی به یې دومره وی چی دلوړ طرف څوکی یې دکښته طرف دڅوکو سره مښلی ، او بې لستونی اوبې ترخزو به وی ، او بې له بخی کولو څخه دطرفو به وی، او په ردِّ محتار ج١ ص ٢٠۴ کی دقهستانی څخه نقل کوی: چی قمیص هغه دی چی چاك یې پر اوږو باندی وی، اودِرع هغه ده چی چاك یې پر سینې باندی وی، اوهمدارنګه یې په بحر ج٢ ص١٧٧ کی دحلوانی" څخه راوړی دی، لکن دهغه په آخر کی یې ویلی دی: چی دا فرق دلغت دلحاظه نه دی ثابت سوی په نزد دده ، او دطحطاوی څخه دمراقی الفلاح معلومیږی چی ددې دواړو (قمیص اودرع) چاك پرسینه باندی وی، لکن په دومره اندازه باندی چی سر دمړی تر هغه وتلای سی، او جیب چی په عبارتوکی دکتابو ذکر دی چی: بلا جیبٍ ، ددې تفسیر یې په هغه چاك سره کړیدی چی پرسینه باندی وی، او ویلی دی چی خاص باید چی په قمیص کی دښځی ډیر احتیاط وسی دډیر خیرلو څخه ولی چی دښځی دکفن بنآء پر ستر باندی ده ، ددې څخه فهمیږی چی چاك دقمیص دنارینه اودښځی پرسینه باندی وی، لکه په قدردضرورت ٢. لنګ: دښکرو څخه دمړی تر پښو پوری دده په اوږدوالی کی، او برداروالی به یې دومره وی چی پر مړی باندی په کامله طریقه سره احاطه کوی، او تر قمیص به لوړ اوتر لفافې به لاندی وی، ٣. لفافه: دا پر کفنو سربیره وی، او په اوږدوالی کی باید چی ترسر اوپښو دمړی یوڅه زیاته وی، چی امکان دتړلو یې پر سر اوپښو دمړی وی، او لنګوټه مختلف فیه ده، او په مجتبٰی

(١). مُراهق : یعنی غټ مګر نابالغه شخص . منه رحمه الله تعالی

اوزاهدی کی یې مکروه ګڼلی ده، وفی الـمحیط لا یعمم بکلّ حال (ای عالِمًا کان المیّت او لا )، اوبعضی یې مستحسن (ښه) کاربولی، لکه چی په قسهتانی کی ذکر دی، او بعضی یې دپاره دمشرفو او خواصو خلګو ښه بولی نه دپاره دعوامو، اوعالمګیری په ج ۱ ص ۱۷۰ کی لیکی: ولیس فی الکفن عمامـة فی ظاهر الرّوایة وفی الفتاوٰی استحسنها المتـأخرون لِمن کان عالِمًا ویَجعل ذنبها علٰی وجهـه بِخلاف حال الحیوٰة کذا فی الجوهرة النّیرة آهـــ او دسیاق څخه دشامی ؒ ترجیح دپرېښولو دلنګوټې مطلقا معلومیږی. اوډول دکفن ورکولو داسی دی: باید چی اول لفافه پر بوریا یا پربل شی باندی وغوړوی اوخوشبویی دی پرهغه باندی په طاق وار سره ولګوی ، وروسته دې بیا لنګ پردې سربیره وغوړوی، اوبیا دې پردې هم خوشبویی ولګوی، اوبیا دی پردې سربیره دقمیص نیمایی لاندی حصه وغوړوی ، او لوړه نیمه حصه دی ټوله کړی او پر برابری دسر (دکفن) دې یې کښېږدی ، اومړی دي په یوه جامه سره وچ کړی ، بیادې پر لاندی حصه دقمیص کښېږدی ، او لوړه حصه دی پر راواړوی ، بیا دی حُنوط (دایو قسم خوشبویی ده) دسجودی پرځایو لکه تندی، پوزه، ورغوی، زنګنونه او پښې ، وروموږی، او پرږیره او سردی هم خوشبویی ور ومږی، اوتردې وروسته دي یوازی لُنګ بې له لفافې دچپه طرفه څخه پر راوپیچی اوبیا دې دراسته طرفه څخه پر راوپیچی ، اوبیا دې لفافه دلُنګ په ډول سره پر راواړوی، او سر او پای او مابینځ دکفن دی په یو تار یا نری ریښکۍ سره وتړی.

او دښځی دپاره سنت کفن پنځه ۵ جامې دی: ۱. لفافه ۲. لُنګ ۳. قمیص، لکن په قمیص کی دښځی چاك پرسینه ورکول کیږی په اتفاق سره درواياتو، اونورفرق یې په دې دروشیانوکی دمخکی څخه نسته ۴. پړونۍ: چی اوږدوالۍ به یې درې ګزه وی په ګز سره دکرباس ، اویوه لوېشت برداروالۍ یې کافی دی خو دوې لویشتی ډیر ښه دی، ۵. او یوټوکر ددې اوږدوالۍ هم درې ګزه دی، او برداروالۍ یې دبغل څخه تر نامه پوری اودبغل څخه تر ورنو پوری او دبغل څخه ترلاندی پوری دزنګنو راغلی دی، نو اوله اندازه کافی ده، دوهمه درمیانه ده ، او دریمه ترټولو ښه ده ، اوددې دکفن ورکولو کیفیت دادی چی اول به لفافه هواره کړی او بیابه سربیره درباندی لنګ او پرهغه سربیره لاندی حصه دقمیص وغوړوی ، او دنارینه

په ډول سره به دې ته هم اول قميص ور واغوندی، او وروسته تردې به يې وربښتان ور دوې حصې کړی، نيم به رسته طرف ته او نيم چپه طرف ته ددې پرسينې باندی سر بيره پر قميص راولی، اوخوشبويي دکفن او داندامو به ورولګوی دمخکی په شان سره ، او تردې وروسته به پړونی پرسر او مخ ددې خلاص وروغوړوی، او پرسر اوبدن دی يې نه ورپيچی ، بلکه يو طرف او بل طرف دپړونی دی تر وربښتانو (چی پرسينه باندی دی) ورلاندی کړی، تردې وروسته به لنګ دمخکی په شان سره پردې راوپيچی ، او په بعضی رواياتو کی دی چی خرقه (ټوکر) به لوړ تر لنګ لاندی تر لفافې پر سينه باندی وروپيچی ، اودې ته يې په ردِّ مُحتار او نورو کتابو کی ترجيح ورکړيده، اوپه بعضو رواياتوکی دی چی لوړ ترلفافې اوټولو کفنودی يې پر وپيچی، او دايې کافی او روا بللی ده ، او وروسته تر پيچلو دکفنو دې پر طرز دکفن دنارينه ددې کفن هم وروتړی ، ترڅو چی دخلاصيدو څخه وژغول سی، او فرضی کفن دپاره دهريوه ددوی يوه جامه ده ، چی دمړی ټول بدن په پوټيږی، اوکفن کفايې دپاره دنارينه لنګ او لفافه ده او دپاره دښځی لنګ او لفافه او پړونی دی، اوکفنِ ضروری دپاره ددوی هغه دی چی موجود سو که څه هم چی بدن نه په پوټيږی، اوپر پاته بدن به يې وابښه ورواچوی، اوپه بحر ج۲ ص۱۷۷ کی دمجتبٰی څخه نقل کوی: الْمُكَفَّنُونَ اثْنَا عَشَرَ : ١. الرَّجُلُ ٢. وَالْمَرْأَةُ وَقَدْ تَقَدَّمَا ، ٣. وَالثَّالِثُ الْمُرَاهِقُ الْمُشْتَهى ، وَهُوَ كَالْبَالِغِ ٤. وَالرَّابِعُ الْمُرَاهِقَةُ الَّتِي تشتهى وَهِيَ كَالْمَرْأَةِ ٥. وَالْخَامِسُ الصَّبِيُّ الغير الْمُرَاهِقُ فَيُكَفَّنُ فِي خِرْقَتَيْنِ إِزَارٍ وَرِدَاءٍ ، وَإِنْ كُفِّنَ فِي وَاحِدٍ أَجْزَأهُ ٦. وَالسَّادِسُ الغير الْمُرَاهِقَةُ فَعَنْ مُحَمَّدٍ كَفَنُهَا ثَلَثَةٌ وَهٰذَا أَكْثَرُ (يعنى النقصان منها جائز) ٧. وَالسَّابِعُ السِّقْطُ فَيُلَفُّ ، وَلاَ يُكَفَّنُ كَالْعُضْوِ مِنَ الْمَيِّتِ ٨. وَالثَّامِنُ الْخُنْثَى الْمُشْكِلُ فَيُكَفَّنُ كَتَكْفِينِ الْجَارِيَةِ وَيُنْعَشُ وَيُسَجَّى قَبْرُهُ ٩. وَالتَّاسِعُ الْمُحْرِمُ ، وَهُوَ كَالْحَلاَلِ عِنْدَنَا ١٠. وَالْعَاشِرُ الْمَنْبُوشُ الطَّرِيُّ فَيُكَفَّنُ كَالَّذِي لَمْ يُدْفَنْ ، ١١. وَالْحَادِيَ عَشَرَ الْمَنْبُوشُ الْمُتَفَسِّخُ فَيُكَفَّنُ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ ١٢. وَالثَّانِي عَشَرَ الشَّهِيدُ وَسَيَأْتِي آهـ او دا (يعنی دوولسم په عبارت کی دبحر) دفن دی دده (شهيد) سره دخپلو جامو دده کمی چی دجنس څخه دکفن وی ، اوهغه چی دجنس څخه دکفن نه وی لکه پوستين او موزه او خولۍ او چپنه او سلاح يا داسی نور شيان هغه دې ورڅخه ليری کړی، اوکه چيری دده اغوستی جامې ترمقدار دکفنِ مسنون کمی وی نوبايد چی وهغه ته يوشی ورزيات کړی تر

ځو چې ومقدار تـه دکفنِ مسنون ورسيږي ، اونـوی کفن ورکول ده تـه او خپلې جامې ورځخه کښل مکروه دي.

## دوهم بحث دی په بيان کی دوخت دتلقين :

